# کاروبار

# Business

محمد داود نیازی

Ketabton.com

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## بشري کړنې Human Activities



د نړۍ انساني جوړښت له لومړي وخت څخه تر اوسه په دې هڅه کې دی تر څو د ټولنې اړتیاوې پوره کړي که مونږ او تاسو خپل چاپیرچل ته نظر وکړو نو وبه ګورو چې په ټولنه کې ټول وګړي په بیلابیلو کارونو بوخت دي،د بیلګې په توګه هټۍ وال هټۍ والي،روغتیاپال روغتیاپالي،ښونکي په ښونه ،کروندګر په کرنه بوخت دي.انسان که په دې نړۍ کې پر هرکار بوخت وي هغه ته انساني یا بشري کړنه وایي.تاسووینئ،چې نني انسان څومره نوښت کړیدی،انټرنیټ،الوتکې،اورګاډي،بمونه،توپونه،راډیو ،ټلویزیون،توغندي او داسې نور شیان یې د همدغو کړنو په پایله کې رامنځته کړي دي.د سترګو په رپ کې د نړۍ د ها بل سر له حاله خبریږي او هان لا له مرګ سره هم جنګیږي. چې دغه ټولې انساني بوختیاوې په خپل سر ندي ټاکل شوي بلکې انسانانو د ځینو ځانګړو موخو د تر لاسه کولو لپاره ټاکلي دي د انسانانو دغه کړنې په خپل ذات کې په دوه برخو ویشل شوې دي:

I. غیرې اقتصادي کړنې Non_ Economics Activities غیرې اقتصادي کړنې هغو کړنو ته وایي چې د هغو موخه د مادیاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library





یا شتمني لاسته راوړل نه بلکي د انساني همدردي ،قرباني،اخلاق ،له غریبو خلکو سره مرسته ،له ناروغو خلکو سره مرسته اونورې وي.دغو ټولو کړنو ته غیرې اقتصادي کړنې ویل کیږي ځکه دې پورتنیو کړنو په ترسره کولو سره انسان ته مادیات لاس ته نه ورځي.

II. اقتصادي کړنې **Economics Activities**: مونږ د بشر د تاریخ په اوږدو اقتصادي لزوم او د هغه اغیزه پر نورو ټولنیزو موضوعاتو باندې په څرګند ډول لیدلای شو ځکه د اقتصاد علم تل د ټولنې د هوساینې او ښېګڼې لپاره کار کوي.اقتصادي کړنې هغو کړنو ته ویل کیږي چې د شتمني دلاسته راوړلو لپاره تر سره کیږي همدارنګه د اقتصادي کړنو په وسیله توکي او چوپړتیاوې هم رامنځته کیږي د بیلګې په ډول د سوداګر له خوا سوداګري کول،ښوونکي له خوا په ښوونځي کې ښوونه کول د ترکاڼ له خوا ترکاڼي کول چې د دغو ټولو کړنو په وسیله له یوې خوا توکي او چوپړتیاوې رامنځته کیږي له بلې خوا د کار ترسره کوونکي ته عاید هم لاسته ورځي. ټولې اقتصادي کړنې په دوه برخو ویشل شوې دي چې په لاندې ډول ترې نه یادونه کوو:

I. غیرې کاروباري کړنې **Non_ Business Activities**:
غیرې کاروباري کړنې هغو کړنو ته ویل کیږي چې موخه د ګټې لاسته راوړل وي خو دا ګټه باید مخکې له مخکې ځانګړې شوې وي د غیرې کاروباري کړنو په نوم یادیږي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګې په توګه له حکومت، شخصي کمپنیو سره کار تر سره کول.



II. **کاروباري کړنې Business Activities**: کاروباري کړنې هغو کړونو ته ویل کیږي چې موخه د ګټې لاسته راوړل وي خو ګټه یې له مخکې ځانګړې شوې نه وي د بیلګې په ډول د صنعتکارانو له خوا د صنعتکارۍ کاروبار، د کروندګر له خوا کرنه کول، سوداګرو له خوا سوداګري کول چې دا ټول هغه کاروبارونه دي چې په دې کې ګټه له مخکې نه وي معلومه کله ډیره کله لږه ګټه او کله له زیان سره هم مخامخیږي.

**د کاروبار تعریف Definition Of Business**: کاروبار بیلا بیل تعریفونه لري چې د ځینو یې یادونه په لاندې ډول کوو:

- ټولې هغه بوختیاوې چې د هغوی موخه د توکو او چوپړیتاوې په وسیله د شتمنۍ لاسته راوړل وي کاروبار بلل کیږي.
- هغو کړنو ته کاروبار وایي چې د هغې په وسیله انسانان خپله روزي پیدا کوي.
- د شتمنې د لاسته راوړلو لپاره چې کومې کړنې تر سره کیږي کاروبار بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- ټولې هغه کړنې چې یو انسان یا څو انسانان سره یوځای د توکو تولید او خرڅلاو له لارې عاید لاسته راوړي کاروبار ګڼل کیږي.

په کاروبار کې غیرې قانوني کړنې نه راځي. په ټولیز ډول یو کاروبار دلاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره جوړیږي:

❖ ګټه: د هر کاروبار لومړۍ بنسټیزه موخه د ګټې لاسته راوړل وي. هغه کاروبار چې ګټه ونلري د ډیرې لږې مودې لپاره وي اوډیر ژر له منځه ځي، ګټه هغه څه ده چې دنړۍ انسانان کاروبار ته هڅوي که په نړۍ کې ګټې شتون نه درلودلای نو کاروبار به هم نه وای.

❖ کار پیدا کول: د کاروبار دویمه موخه خلکو ته د کار پیدا کول دي ځکه د کاروبار په پیل سره یوازې د کاروبار څښتن ته نه بلکې ورسره یو شمیر نورو بیکارو خلکو ته هم د کار زمینه برابریږي.

❖ پانګونه: د کاروبار دریمه موخه په یو هیواد کې د پانګونې زیاتوالي دی د کاروبار په پیل سره عامو خلکو ته د پانګونې موقې پیدا کیږي.

❖ ټولنې ته چوپړ: د کاروبار بله بنسټیزه موخه د توکو تولید او ویش دی، کله چې د یوې کمپنۍ مشر توکي په ښه معیار او باکیفیته تولیدوي او ټولنې ته یې په مناسبه بیه ورکوي د دې ترڅنګ چې ګټه کوي ټولنې ته چوپړ هم ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





❖ اقتصادي پرمختګ: په یو هیواد کې د کاروبار له پیل سره اقتصادي پرمختګ هم رامنځته کیږي او هیواد ورسره په اقتصادي لحاظ پیاوړي کیږي.

په نړۍ کې دوه ډوله کاروبار شتون لري چې هریو یې په لاندې ډول تر څیړنې لاندې نیسو:

1. صنعت Industry: په صنعت کې ټولې هغه کړنې شاملې دي چې د توکو او چوپړتیاو په تولید کې تر سره کیږي د بیلګې په توګه کرنه، کب نیونه، د کانونو راویستل. صنعت دوه ډولونه لري:

لومړنی صنعت Primary Industry: په لومړني صنعت کې ټولې هغه کړنې شاملې دي چې په اومو موادو پورې اړه لري د بیلګې په توګه د کاني زیرمو راویستل، کرنه کول، کب نیونه، ځنګلونو پرې کول. په لومړني صنعت کې انسان په خپله څه نه پیدا کوي بلکې له طبیعت څخه د ځینو وسایلو په وسیله یې منځته راوړي. د بیلګې په توګه کروند ګر د کرنې په وسیله توکي لاسته راوړي چې یوازې د کرنې پروسه مخته وړي یا کب نیونکي کبان نیسي. په دې پروسه کې انسان په خپله توکي منځته نه راوړي بلکې د وسایلو په وسیله توکي د کارولو لپاره لاسته راوړي.

منځنی صنعت Secondary Industry: منځنی صنعت هغه صنعت ته ویل کیږي چې په هغه کې اومه مواد په لاګټور شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړول کیږي.یانې له اومو مواد څخه بیلا بیل توکي جوړیږي.د بیلګې په توګه کله چې کروندګر غنم لاسته راوړل له غنمو ډوډۍ، کیک، کلچو جوړولو ته یا د ځنګل له لرګیو نور عصري توکي لکه فرنیچر جوړلو ته منځنی صنعت ویل کیږي.

2. کامرس **Commerce**: ټولې هغه اقتصادي کړنې چې توکي د تولید له ځایه مصرفوونکو ته رسوي د کامرس په نامه یادیږي یا ټولې هغه اقتصادي کړنې چې د تولیدونکواو مصرفوونکو ترمنځ اړیکه ټینګوي کامرس بلل کیږي د بیلګې په توګه د توکو اخېستل،خرڅول، لېږدوسایل، بانکوالي،بیمه او نور...کامرس.

د"جیمز ستفین " لخوا کامرس داسې تعریف شوی: ټولې هغه کړنې چې د توکو د تبادلې په وخت کې بشري،وخت او واټن خنډونه له منځه وړي کامرس بلل کیږي.

د کامرس لمن**Scope of Commerce**:د کامرس له لمنې څخه موخه ټول هغه موضوعات دي چې په کامرس کې تر څیړنې لاندې نیول کیږي.په عمومي ډول سوداګري او د سوداګرۍ مرستیالان د کامرس تر عنوان لاندې څېړل کیږي.

1) سوداګري **Trade**: په لرغونو زمانو کې سوداګرۍ شتون نه درلود ،د نړۍ انسانان په ځان بسیا وه چې یوازې درې اړتیاوې یې لرلې:خوراک،لباس او اوسیدل چې خوراک یې د ښکار له لارې،لباس یې د وحشي ځناورو له پوستکو اود بیلا بیلو بوټو له پاڼو څخه وه او د اوسیدو لپاره یې له ځمځو

(c) ketabton.com: The Digital Library





څخه کارا خېست چې يو بل ته اړنه ول.خو کله چې د انسانانو فکرونو پرمختګ وکړ د دوی په اړتياو کې توپير رامنځته شو د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره يو بل ته اړ شول چې يو له بل سره يې د توکو تبادله پيل کړه همدلته د سوداګرۍ هنر هم رامنځته شو.د توکو تبادله د ګټې په منظور په مسلسل ډول سوداګري بلل کيږي ياد توکو اخېستل او خرڅولو ته سوداګري وايي،همدارنګه کولای شو سوداګري داسې هم تعريف کړو:ټولې هغه کړنې چې د توکو تبادله له توکو يا له پيسو سره کوي سوداګري بلل کيږي.سوداګري هم په دوو برخو ويشل شوې ده.

- کورنۍ سوداګري Home Trade:هغې سوداګرۍ ته ويل کيږي چې د يو هېواد د وګړو ترمنځ ترسره کيږي د بيلګې په توګه د لغمان او روزګان د ولايتونو د وګړو تر منځ د توکو او چوپړتياو تبادلې ته کورنۍ سوداګري وايي.

کورنۍ سوداګري د ځينو ځانګړتياو پر اساس په دوو برخو ويشل شوې:

a ) ټول پلوري Whole sale Trade: ټول پلوري د کورنۍ سوداګرۍ هغه ډول دی چې توکي په لويه پيمانه له کمپينو اخلي او په کوچنۍ پيمانه يې په ټوک پلورونکو پلوري د ټول پلورۍ لپاره بايد داسې ځای وټاکل شي ترڅو توکي په اسانۍ له کمپنيو تر لاسه او په اسانۍ ټوک پلورونکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library





ورکړي. ټول پلورنکي دي ته اړ نه دي چې د ټوک پلورونکي په څېر د ښار يا بازار په منځ کې ځای ونيسي.

b) ټوک پلوري **Retail Trade**: د کورنۍ سوداګرۍ په دې ډول کې توکي په کوچنۍ پيمانه اخيستل او خرڅول کيږي.ټوک پلورونکي مال له ټول پلورنکي څخه د خلکو د اړتيا په اساس اخلي او مصرفوونکو ته يې رسوي،چې د ټول پلورنکو او مصرفوونکو ترمنځ اړيکه ټينګوي.

• بهرنۍ سوداګري **Foreign Trade**: د تاريخ په لومړيو وختونوکې د انسانانو اړتياوې ساده وې نو له همدې کبله انسان تر ډير بريده پر ځان بسيا و خو کله چې د انسانانو فکرونو پرمختګ کوي د انسانانو په اړتياوو کې زياتوالي راځي د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره نورو ته اړ شول چې ددغو اړتياوو د پوره کولو لپاره يې بهرنۍ سوداګري رامنځته کړه. بهرنۍ سوداګري له کورنيو پيل شوه تر بيلا بيلو ټبرونو پورې ورسيده د وخت په تيريدو سره د انسانانو په اړتياو کې دومره زيات والی راغلی چې ټبرونه خو لاڅه چې اوسمهال ډير پرمختللي هيوادونو هم نشي کولای چې د خپلو خلکو اړتياوې پوره کړي د خپلو خلکو د اړتياوو د پوره کولو لپاره نور هيوادنو ته اړ شول تر څو له هغو هيوادنو چې توکي له خپلو اړتياو زيات توليدوي خپل هيواد ته وارد کړي چې همدلته نړيواله يا بهرنۍ سوداګري رامنځته شوه.نړيواله سوداګري هغې سوداګرۍ ته وايي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوو هیوادنو د سوداګرو ترمنځ توکي او چوپړتیاوې تبادله کیږي.یا په نړیواله سوداګرۍ کې د نړۍ د بیلابیل هیوادنو تر منځ توکي او چوپړتیاوې تبادله کیږي.همدارنګه "ار. پي.جونز" نړیواله سوداګري داسې تعریف کړیده :نړۍ واله سوداګري د نړۍ د بیلا بیلو هیوادنو تر منځ د توکو په اخیستلو او خرڅولو پورې اړه لري چې بهرنۍ سوداګري لاندې ډولونه لري:

a. صادراتExport:د صادراتي سوداګرۍ څخه موخه هغه سوداګري ده چې یو هیواد خپل تولیدات بل هیواد ته د خرڅلاو لپاره لیږدوي.

b. وارداتImport:وارداتي سوداګري هغې سوداګرۍ ته ویل کیږي چې یو هیواد له نورو هیوادنو توکي پیري.

2)د سوداګرۍ مرستیالانAids to Trade: د سوداګرۍ مرستیالان ټول هغه وسایل چې توکي له تولیدونکو څخه مصرفوونکو ته رسوي د سوداګرۍ مرستیالان بلل کیږي.او په لاندې ډول ترې نه په لنډه توګه یادونه کوو:

- ټرانسپورټ Transportation:په لرغوني زمانوکې د توکو لیږد له یو ځای څخه بل ځای ته ډیرې ستونزې لرلې سوداګرو په وحشي حیواناتو توکي له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدول په سمندرو نو کې داسې بیړۍ وې چې د باد په وسیله یې خوځښت کاو چې ډیر وخت به یې د هوا د ښه والي لپاره انتظار کاو.سړکونو شتون نه درلود. د دې ترڅنګ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لیږد وسایل سست و ورسره خوندي هم نه وو نو له همدې کبله د توکو لیږد له یو ځای څخه بل ځای ته ستونزمن و که په یو هیواد کې لوړه راتله نو دبل هیواد خلکوبه ورسره نشو کولای چې مرسته ترسره کړي. هغه عمل یا کاروبار چې توکي یا وګړي له یو ځایه بل ځای ته ولیږدوي ټرانسپورټ بلل کیږي.

- بیمه **insurance**:بیمه شل(20) پیړۍ دمخه په لومړي ځل دیونان او روم سوداګرو په کاروبار کې کارولې ،په لرغونو زمانوکې چې د یونان سوداګرو توکي دبحري بیړیو په وسیله نورو هیوادنو ته لیږدول که د لارو په اوږدوکې توکو ته زیان رسید ، نو د بیړیو کمپنیو به د توکو زیان ورکاو ، د وخت په تیریدو سره د بشر د ذهنونو په پرمختګ سره سوداګرۍ هم پرمختګ وکړاوپه دې حالت کې د بیمې رامنځته کیدل د ځان او مال په مقابل کې د اوسنۍ بیمې مفهوم رامنځته کړ.بیمه په راتلونکې کې انسان له کومو زیانونو سره مخامخیږي یو سړي یا یوه اداره د دې خبرې ضمانت ورکوي چې دپښښیدونکوزیانونولګښت به ورکوي.
- تمویل **Fianace**:په تیرو وختونو کې کمپنۍ په کمه پیمانه چلیدې د تولید طریقه اسانه وه د توکو په تولید کې له انسان څخه کار اخیستل کید نو له دې کبله د کاروبار لپاره تمویل ته ډیر اړتیا نه وه، خوپه نړۍ کې له صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library





اوښتون وروسته د توکو د تولید طریقه بدله شوه. توکي په وسیع پیمانه تولیدیدل د انسان ارزښت په کاروبار کې د تیرپه نسبت کم شو.کاروبا پراخه شو،داومه مواداو ډیر اخیستل ،د کارکوونکو د تعداد ډیرول د دغو ټولو اړتیاو د پوره کولو لپاره تمویل ته ډیره اړتیا پیښه شوه او ارزښت یې لا پسې ډیر شو. له تمویل څخه موخه د پانګې او پورهغه ارزښت دي چې کاروبار ممکنوي.

- بانک Bank: د اقتصادپوهنې پوهانو دبانک دبیلابیلو دندو په نظرکې نیولوسره بیلابیل تعریف کړی دی، نوپر دې اساس دبانک لپاره دیومشخص تعریف وړاندې کول ستونزمن کاردی،داځکه چې بانک بیلابیلې دندې سرته رسوي چې دغه دندې دهېوادونواو دوخت له مخې توپیرلري اودبانک دندې ورځ تربلې پیچلې کیږي.

په ساده ډول مونږ کولای شو بانک په لاندې ډول تعریف کړو: "بانک یوه مالي اداره ده چې دباوریزو پیسوکاروبارکوي.دغه اداره په کم سود له خلکوڅخه پیسې د پورپه ډول اخلي اوپه زیات سودیې اړو وګړوته په پوررکوي ،چې د دواړو سودونو ترمنځ تفاوت د بانک ګټه تشکیلوي."

- مخابرات Cummuncation: دمخابراتو موخه د خبر رسول او اړیکه ده،د مخابراتو په وسایلو کې ټول هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسایل شامل دي چې د هغوی په وسیله پیغام او خبر رسول کیږي.



## سازمانونه

## (Organizations)

کله چې یو شخص یا یوه ډله اشخاص د ګډو موخو د ترلاسه کولو لپاره وسایل په کار اچوي سازمان بلل کیږي، چې دغه سازمانونه په دوه ډوله دي:

1. غیرې ګټورسازمان**Non profitable Organization**:غیرې ګټور سازمان هغه سازمان ته ویل کیږي چې د هغو د جوړیدو موخه د ګټې لاسته راوړل نه بلکې د ټولنې بهبود وي، دبیلګې په توګه سیاسي ډلې،مذهبي ډلې،ټولنیزې شوراګانې.
2. ګټمن سازمانونه**Profitable Organizations**: هغه سازمانونه چې د ګټې په منظور جوړ شوي وي او دهغوی اړیکه تر ډیر بریده د توکو د تولیداو چوپړتیاود وړاندې کولو پورې وي.ګټمن سازمانونه مصرفوونکو ته معیاري توکي او چوپړتیاوې تهیه کوي چې ور سره اقتصادي پرمختګ هم رامنځته کیږي. ګټور سازمانونه په ټولیز ډول په درو برخو ویشل شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





- **شخصي کاروبار (Sole Proprietorship):** دا ډول کاروبار له ډیر لرغوني وخت څخه په ټولنه کې دود دی چې دا ډول کاروبار یو شخص پورې اړه لري، کاروبار په خپله چلوي، د کاروبار لپاره په خپله پلان جوړوي او په خپله یې عملي کوي، د کاروبار لپاره په خپله ځای ټاکي، خپله پانګه کاروي د اړتیا په وخت کې له خپلو ملګرو او دوستانو پور اخلي اود خرڅلاولپاره یې تل ښه قیمت لټوي.د شخصي کاروبار د تعریف په هکله تامس جې اډیمز(Thomas.J.Adams) داسې وایي:

"شخصي کاروبار د کاروبار یو داسې ډول دی چې د هغه ملکیت او پر مخ وړل د یوه شخص په ولکه کې وي".

د کاروبار د ګټې او زیان، د کاروبار دبریالیتوب او ناکامېدو مسوول وي.دهیوادونو په داخل کې دا ډول کاروبار ډیر ترسره کیږي چې ټوک پلوري یې ښه بیلګه ده.

## د شخصي کاروبار ځانګړتیاوې

- اسانه جوړښت: د دې ډول کاروبار جوړښت ډیر ساده وي هر څوک چې یې هر وخت وغواړي جوړولای یې شي. قانوني پروسې ته اړتیا نلري بدون له اجازې هم کولای شو چې دغه کاروبار پیل کړو دا ډول کاروبار راجسټر ته اړتیا نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- پانګه:په دې ډول کاروبار کې پانګه د کاروبار څښتن په خپله تهیه کوي په بعضې وختوکې د کاروبار د پرمخ وړلو لپاره له ملګرو،دوستانو او بانکونو څخه پورونه هم اخلي.
- د کاروبار انتظام: په دې ډول کاروبار کې د کاروبار دچلونې ټول بوج د کاروبارپر څښتن وي، په یوازې ځان د کاروبار لپاره پروګرامونه،پالیسۍ جوړوي او عملي کوي په کاروبار کې هم مزدور اوهم مشر وي،د کاروبار څارن او واکوال وي.
- د ګټې ویش: په دې ډول کاروبار کې یوازې یو شخص د کاروبار مسوول وي. ټول کاروبار په یوه شخص پورې اړه لري چې د ګټې ویش ته اړتیا نلري.
- قانوني شخصیت: په دې ډول کاروبار کې د کاروبار بیل شخصیت نه وي د کاروبارشخصیت د کاروبار په څښتن پورې اړه لري.
- نامحدودمسوولیت: په شخصي کاروبارکې د کاروبار د څښتن مسوولیت نامحدود وي. د زیان په صورت کې کیدای شي چې د کاروبار د څښتن شخصي شتمنۍ هم پکې ورکړل شي.
- کوچني کاروبار: شخصي کاروبار په ټولیز ډول کوچني وي مګر کله کله په لویه پیمانه هم پیلیږي چې ډیر بریالی وي،د دې ډول کاروبار ښه والی په دې کې دی چې په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library





ځای کې شتون لري او په هر ځای کې مصرفوونکو ته توکي رسوي.

O شراکت(Partnership):د شخصي کاروبار د ځینو ستونزو له کبله (د پانګې کموالی،نامحدود مسوولیت)د کاروبار یو بل ډول رامنځته شو چې شراکت ورته وایي.شراکت هم د کاروبار ډیره لرغوني بڼه ده چې په دې ډول کاروبار کې د پانګې مقدار ډیر وي او شریکان د کاروبار، کار په خپل منځ کې ویشي او هر چا ته مسوولیت ورکوي.

شراکت کې دوه یا له دوو څخه ډیر وګړي د یو تړون په اساس راغونډیږي، قانوني کاروبار پیلوي او د تړون په اساس خپلې دندې او حقوق خوندي کوي.پروفیسور "کینټ" شراکت داسې راپیژني: د یو تړون په اساس یو څو وګړي سره پانګه ،کاراو وړتیا شریکوي تر څو له لاس لاندې کاروبار څخه ګټه تر لاسه کړي.

همدرانګه "استوري" شراکت داسې تعریفوي: شراکت یو داسې خوښمن تړون دی چې دوه یا له دوو څخه زیات وګړي یې په قانوني ډول پانګه او کار یو ځای کوي تر څو له کاروبار یا سوداګرۍ څخه لاسته راغلې ګټه په خپل منځ کې وویشي.

په یو شراکت کې لاندې نقطې ډیرې اړینې دي:

- شراکت د دوو یا له دوو څخه د زیاتو وګړو تر منځ د اړیکې نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- د شریکانو تر منځ دغه اړیکه یو تړون وي.
- د بیلابیلو وګړو ترمنځ دغه تړون د ګډ کاروبار په ګټه کې شراکت دی.
- یو داسې تړون چې په هغه کې د ګټې شراکت شتون ونلري نو دا ډول تړون د شراکت تړون نشي کیدای.
- په کاروبار کې ټول شریکان برخه اخلي او کیدای شي چې یو شخص د کاروبار ټولې چارې پرمخ یوسي.

له پورتنیو نقطو څخه داسې را معلومیږي چې شراکت د بیلا بیلو وګړو ترمنځ یو داسې تړون دی چې په کاروبار کې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره رامنځته کیږي.ترکومې چې د ګټې خبره ده نو دا اړینه نده چې ټول ګډونکوونکي باید یو ډول ګټه ترلاسه کړي بلکې د تړون په اساس چې په تړون کې څه ډول ذکر وي خو طبیعي خبره ده کوم شریک چې ډیره پانګه ولري یا د کاروبار پرمخ بیولو کې ډیر برخه اخلي ډیره ګټه هم ترلاسه کوي.

په شراکت کې د ټولو ګډونکوونکو مسوولیت نامحدود وي دا په دې مانا ، که شراکت له زیان سره مخامخیږي نو د هغوي مسوولیت یوازې تر خپلې برخې نه وي بلکې خپله شخصي شتمني هم په زیان کې ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شراکت ځانګړتیاوې:په ټولیز ډول یو شراکت لاندې ځانګړتیاوې لري:



- تړون: د شراکت د پیل لپاره تړون اړین دی له تړون څخه بغیرد شراکت پیلول ناممکن دي.په تړون کې د کاروبار په هکله بشپړ معلومات وي چې دغه تړون په ژبه یا لیکلي ډول وي خو ډیری وخت تړون په لیکلي ډول وي ځکه په راتلونکي کې د ګډونکونکو تر منځ د ستونزو د راولاړېدو او د هغو په له منځه وړلو کې مرسته کوي.
- د شریکانو شمیر:د شراکت په کاروبار کې باید کم ترکمه دوه وګړي که له دوو وګړو څخه کم وي شراکت ورته نه شو ویلای. بلکې داشخصي کاروبار دی په ټولیز ډول په شراکت کې له دوو څخه تر پنځوسو یا شلوپورې شریکان شراکت کوي او د بانک په کاروبار کې د شریکانو شمیر تر لسو ډیر نه وي.
- کاروبار:د کاروباري تړون موخه د کاروبار چلول دي چې د کاروبار د توکو د تولید او یا د توکو ویش پورې اړه لري د کوم تړون چې موخه د کاروبار چلول نه وي، هغه تړون ته د شراکت تړون نه شو ویلای.
- ګټه اوزیان:د شراکت اصلي موخه د ګټې لاسته راوړل دي چې دغه ګټه شریکان په خپل منځ کې وېشي او که کاروبار له زیان سره مخ شي نو د کاروبار ټول شریکان دزیان د ورکړې مسوولیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- مسوولیت:د کاروبار د زیان په صورت کې د زیان د ورکړې ټول شریکان مسوولیت لري چې د ډېر زیان په صورت کې کیدای شي چې د شریکانو شخصي شتمني هم په زیان کې ورکړل شي.
- د لیږد حقوق:د کاروبار هیڅ یو شریک خپله برخه د نورو شریکانو له خوښې پرته بل چاته نه شي لیږدولای.
- مالیه:هر شریک د خپلې ګټې په اندازه مالیه ورکوي.
- څارنه:په قانوني ډول د دې ډول کاروبار څارنه اړینه نده.
- د شراکت قانون: د دې ډول کاروبار لپاره په هیوادونو کې یو قانون شتون لري.
- د کاروبار انتظام:د کاروبار د پرمخ وړلولو لپاره ټول شریکان شریک وي، لیکن د شریکانو په خوښه له ټولو شریکانو څخه یو شخص د کاروبار د پرمخ وړلو لپاره ټاکي چې د نورو شریکانو د استازي په توګه د کاروبار کار پرمخ یوسي.
- نابالغ شریک: په شراکت کې نا بالغ شریک هم ګډون کولای شي چې په ګټه کې مکمله برخه لري او د زیان په صورت کې پرې د زیان بوج نه اچول کیږي.
- پانګه: په ټولیز ډول ټول شریکان د کاروبار د پیلولو لپاره پانګه شریکوي خو اړینه نده چې ټول شریکان برابره پانګه شریکه کړي بلکې کیدای شي چې بدون له پانګې خپل لیاقت او تجربې پر اساس هم په کاروبار کې ګډون وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د شراکت تړون(Partnership Deed):** د شراکت تړون دهغو قواعدو او سربښتو ټولګه ده چې د شراکت د کورنیو چارو د اجرا لپاره په کارول کیږي یا شراکت تړون له هغه تړون ځخه عبارت دی چې په کاروبار کې د ګډونوالو حقوق ځرګندوي. تړون په ژبني یا لیکلي ډول وي چې لیکلی ډول یې راجستړهم وي. په پورتینو ډولونو کې بهتر یې په لیکلي ډول دی چې د ټولو شریکانو لاسلیک پرې هم وي تر څو د ټولو شریکانو حقوق خوندي او دندې ځانګړې کړي او په راتلونکي کې د ستونزو د راولاړیدو مخنیوی وکړي. د شراکت په تړون کې لاندې نقطې اړینې دي:

- د سازمان نوم: د کاروبار له پیل ځخه وړاندې باید د کاروبار لپاره یو داسې نوم وټاکل شي چې د حکومت لخوا یې اینښوول منع شوي نه وي او دغه نوم باید په تړون کې ذکر شي.
- د کاروبار ډول: په تړون کې باید د کاروبار ډول ذکر شي چې کوم ډول کاروبار دی د توکو له تولید سره یا د توکو له ویش سره څه سروکار لري.
- نېټه: په تړون کې باید د کاروبار نېټه ذکر شي چې کاروبار د څومره وخت لپاره دی، کله پیل او کله پای ته رسیږي.
- پانګه: د کاروبار په تړون کې باید دا ولیکل شي چې شریکان په ټولیز ډول څومره پانګه لري او دهریو پانګه باید معلومه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- د ګټې او زیان ویش: د کاروبار په تړون کې باید دا هم ولیکل شي چې د شریکانو ترمنځ ګټه او زیان په کوم نسبت ویشل کېږي.
- له بانک څخه د پیسو ایستل: په تړون کې باید دا هم ولیکل شي چې له کوم بانک سره حساب خلاص کړي او د پیسو ایستلو لپاره د کوم شریک لاسلیک پر چک شتون ولري.
- انتظام: په تړون کې باید د شریکانو برخه د کاروبار په انتظام کې معلومه شي چې کوم شریک د کاروبار په کار کې ونډه لري او دندې یې کومې دي همدارنګه بعضې شریکان یوازې پانګه شریکوي بیا بعضې همداسې سره شریکېږي چې خپل کار او تجربه په کار اچوي.
- شریکانو پېژندنه: په تړون کې باید د ټولو شریکانو په هکله معلومات شتون ولري.
- اجوره: په تړون کې باید دا ذکر شي چې که کوم شریک د کاروبار پرمخ وړلو کار کوي هغه ته اجوره ورکړي که نه، که یې ور کړي څومره؟
- پور: په تړون کې باید دا هم ولیکل شي چې ایا یو شریک کولای شي چې دخپلو شخصي مسایلود حل لپاره له کاروباره پور ترلاسه کړي که هو وي نو بیا به دا پور څه ډول وي، سود به ولري او که نه، که سود ولري نو مقدار یې هم باید ذکر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- د نوي شريک شموليت: په تړون کې بايد دا هم ذکر شي چې نوی شريک په کومو شرايطو کولای شي کاروبار ته شامل شي.
- د کاروبار ختمول:په تړون کې بايد دا هم ذکر شي چې په کومو حالاتو کې کاروبار ختمولاي شي.
- د پانګې ډيروالی: په تړون کې بايد دا هم ذکر شي چې د اړتيا په وخت کې کاروبار پانګه له کومو سرچينو ترلاسه کوي.
- د شراکت ډول: په تړون کې بايد دا هم ولیکل شي چې کاروبار اختياري دی او که د يو معلوم وخت لپاره.
- د شريکانو مرګ:د شراکت په تړون کې بايد دا هم ذکر وي چې د شريکانو له مرګ وروسته د شريکانو قانوني وارثان د شراکت برخه مخته وړای شي او که نه؟
- تغيرات: که په تړون کې څه تغيرات راولي بايد طريقه يې ذکر شي.

شريکانو ډولونه(**Kinds Of Partners**):په شراکت کې د شريکانو ډولونه په لاندې ډول دي:

1. د انتظام د چارو په اساس:

- فعال شريک (Active Partner):يو داسې شريک چې دکاروبار د کار د مخته وړلو په چارو کې هم برخه اخلي. ددې ترڅنګ چې په کاروبار کې پانګه لري، دا ډول شريک د کاروبار استازی هم وي. د کاروبار د پرمختګ ضامن وي نو له همدې کبله د کاروبار لپاره ډير مهم هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- پانګوال شریک(**Sleeping or Dormant Partner**): یو داسې شریک چې په کاروبار کې یوازې پانګونه کوي، په ګټه او زیان کې شریک وي، د کاروبار د انتظام په چارو کې ونډه نه اخلي دې ډول شریک ته غلی شریک وایي.
- د نوم شریک(Nominal Partner): په نړۍ کې ډیر داسې خلک شتون لري چې په کاروباري چارو کې ښه نومیالی دي دا ډول خلک خپلو ملګرو او دوستانو ته د ګټې رسونې په موخه له هغوی سره په کاروبار کې ځان شریکوي چې دا ډول شریک نه پانګه تهیه کوي او نه د کاروبار په چاروکې ونډه اخلي په ګټه او زیان کې هم ونډه نلري چې دا ډول شریک ته نندااریز شریک وایي نندااریز شریک د نوم لپاره په کاروبار کې شرکت کوي.
- کاریګر شریک(Worker partner):کاریګر شریک د کاروبار لپاره پانګه نه تهیه کوي په کاروبار کې د خپل علم ،تجربې او لیاقت په اساس شریکیږي چې خپله ورځنیا د کاروبار د بریالیتوب لپاره کاروي د کاروبار په ګټه کې ځان شریکوي.
- نیمه شریک(Quasi Partner): له نیم شریک څخه موخه هغه شریک دي چې مخکې په کاروبار کې شریک و خو له کاروبار څخه جلا شوی او خپله ونډه یې کاروبار کې د پور په ډول پرې ایښې او سود پرې اخلي.

2. د عمر په لحاظ د شریکانو ډولونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library





- بالغ شریک(Adult Partner): بالغ شریک هغه شریک ته وایي چې عمر یې له 18 کلو ډیر وي بالغ شریک بلل کیږي.
- نا بالغ شریک(Minor Partner): د دې ډول شریک عمر له اتلس کلو څخه کم وي چې یوازې د کاوروبار په ګټه کې شریک وي.کله چې نابالغ شریک بلوغ ته رسیږي باید شپږ میاشتې مخکې کاروباري اداري ته د خپل کار په هکله خبر ورکړي چې کاروبار ته ادامه ورکوي او که نه.

3. د تجربې په اساس د شریکانو ډولونه:

- رسیدلی شریک(Senior Partner):رسیدلی شریک هغه شریک ته وایي چې په کاروبار کې ډیره پانګه لګوي، ډیره تجربه لري، د کاروبار په چارو کې ډیره ونډه اخلي چې سود او زیان یې د نورو شریکانو په نسبت هم ډیر وي.
- نارسیدلی شریک(Juninor Partner): دا ډول شریک په کاروبار کې کمه پانګه لګوي او د کاروبار په چارو کې هم ډیر لږ دخیل وي چې ګټه او زیان ورته د نورو ګډونوالو په نسبت کم ورکول کیږي.

4. د مسوولیت په اساس د شریکانو ډولونه:

- محدود المسؤلیت شریک(Limited Partner):دا ډول شریک د زیان په صورت کې یوازې د خپلې پانګې په اندازه مسوول وي چې دا ډول شریک د کاروبار په چارو کې د لاس وهنې اجازه نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نامحدود المسؤلیت شریک(Un-Limited Partner):د دې ډول شریک مسوولیت په کاروبار کې غیر محدود وي. د زیان په صورت کې د شریک شخصي شتمني هم په زیان کې ورکول کیږي.



## د شراکت ډولونه(Kinds of Partnership)

- معین شراکت(Partnership of Fixed period): دا ډول شراکت د یو معلوم وخت لپاره وي کله چې دغه وخت پای ته ورسیږي، شراکت هم له منځه ځي.
- اختیاري شراکت(Partnership AT_Will):د دې ډول شراکت وخت له مخکې څخه تعین نه وي که هر شریک وغواړي د ختمولو پریکړه یې کولای شي دا ډول کاروبار د نامعین وخت لپاره وي،یا دا ډول کاروبار د یو وخت لپاره پیل شوي وي مګر د وخت په پوره کیدو سره بیا هم کاروبار ادامه پیدا کړې وي یا د یو ځانګړي کار لپاره پیل شوي وي د کار په تکمیلیدو سره بیا هم شراکت ادامه پیدا کړي.
- محدود المسؤلیت شراکت (Limited Partnership): په دې ډول شراکت کې یو شریک محدود المسؤل او بل نا محدود المسؤل شریک وي چې د دې ډول شراکت راجستړ اړین دی. محدود المسؤل شریک د کاروبار په چارو کې دخیل نه وي نورو شریکانو ته سلاورکولای شي. محدود

(c) ketabton.com: The Digital Library



المسؤل شریک د کاروبار د ختمولو لپاره اقدام نشي کولای، چې په دې ډول کاروبار کې دیو محدود المسؤل شریک او یود نا محدود المسؤل شریک شتون اړین دی.



## شراکت له منځه وړل

## (Dissolution of Partnership)

د شراکت ختمول یا لمنځه وړل په دې مانا چې د هغه قانوني بنه لمنځه یوړل شي. که شراکت هر ډول وي په لاندې مواردو کې له منځه ځي:

- د تړون په اساس(Dissolution by Agreement): کله چې ټولو شریکانو ته د کاروبار د له منځه وړلو صلاحیت ورکړل شوی وي او هغوی د کاروبار د له منځه وړلو تړون وکړي نو شراکت له منځه ځي.
- د یادښت په وسیله(Dissolution by Notice) : په اختیاري شراکت کې هر شریک نورو ته خبر ورکوي او ورته وایي چې زه د نورو په کاروبار کې شریک نه یم همدلته شراکت هم له منځه ځي.

- ځانګړو پیښو د راپیښدو په وخت:
- ❖ که شراکت د یو معین وخت لپاره پیل شي کله چې وخت پوره شي شراکت هم له منځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- ❖ که شراکت د کوم کار لپاره پیل شوي وي کله چې کار پای ته ورسیږي شراکت هم له منځه ځي.
- ❖ که کوم شریک مړ یا لیونی شي شراکت له منځه ځي.
- ❖ که محکمه د کوم شریک په هکله د لیوني حکم صادر کړي شراکت له منځه ځي.
- ❖ که یوه داسې پېښه رامنځته شي چې د هغې په وسیله د شراکت قانوني بڼه بې قانونه شي شراکت له منځه ځي.
- ❖ که جنګ رامنځته شي او د شراکت کاروبار له دښمن هیواد سره وي نو شراکت ورسره هم له منځه ځي.

یادښت: که کوم شریک لیوني یا مري نو شراکت ورسره هم له منځه ځي لیکن کاروبار ور سره له منځه نه ځي، ځکه کیدای شي چې نور شریکان کاروبار بیا پیل کړي نو پدې ډول کاروبار له منځه نه ځي بلکې جوړښت یې نوی کیږي.

- د محکمې په وسیله: که شریک د کاروبار په خلاف په محکمه کې عریضه وکړي، نو د لاندې حالاتو په صورت کې شراکت له منځه ځي.
  - ❖ که شراکت د تړون په اساس کار ونکړي.
  - ❖ که کوم شریک ته خپل حق نه ورکول کیږي.
  - ❖ که کوم شریک خپله دنده نه تر سره کوي.
  - ❖ که د کوم شریک ذهني توازن خراب شوی وي.
  - ❖ که کاروبار په مسلسل ډول زیان کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## O ګډې پانګې کمپنۍ(Joint stock Company):د

شخصي کاروبار ډول په نړۍ کې ډېر لرغونی دي چې دا ډول کاروبار یو لږ ستونزې(پانګې کمښت، ټول زیان یو نفر ) لري او د دغو ستونزو د حل لپاره ځینې خلک سره راټول یو ځای یې کاروبار پیل کړ چې ورسره د کاروبار دویم ډول(شراکت)یې رامنځته کړ. خو شراکت هم د پورتینو ستونزو په حل کې پاتې راغی په ځانګړې توګه کله چې د اوولسمې میلادي پیړۍ په اخروکې په نړۍ کې صنعتي اوښتون رامنځته شو ، له دې اوښتون سره د توکو په تولید او ویش کې زیاتوالی راغی نو له همدې کبله د کاروبار دوه پورتني ډولونه ګټور ثابت نه شول او د کاروبار دریم ډول(ګډې پانګې کمپنۍ) رامنځته شو. د ګډې پانګې کمپنۍ د کاروبار یو داسې ډول دی چې ډیر وګړي د ګټې د لاسته راوړلو لپاره سره یو ځای خپله پانګه د ونډې په شکل سره راټولوي چې په راټولې شوې پانګې پراخ کاروبار پیلوي له کاروبار څخه لاسته راغلې ګټه په خپل منځ کې ویشي.د ګډې پانګې کمپنۍ دلیږد رالیږد ،بانکوالۍ،بیمه ،فولادو کمپنۍ او نور کمپنیو لپاره ډیر پانګه تهیه کوي.د ګډې پانګې کمپنۍ د بیلابیلو پوهانو لخوا داسې تعریف شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارډ لنډلي: "د ګډې پانګې کمپنۍ د وګړیو یوه داسې ټولنه ده چې پیسې او پیسو ته ورته توکي د ګډې موخې د لاسته راوړلو لپاره په ګډه پانګه کې لګوي".



جیمز سټیفن: "د ګډې پانګې کمپنۍ د ډیرو وګړو یو ټولنه ده چې د کاروبار یا سوداګرۍ په موخه پیسې یا پیسو ته ورته ارزښتناک توکي سره شریکوي له کاروبار څخه لاسته راغلې ګټه په خپل منځ کې ویشي".

همدرانګه کولای شو چې د ګډې پانګې کمپنۍ داسې هم تعریف کړو: د ګډې پانګې کمپنۍ په هغو وګړو مشتمله وي چې په دې موخه په کاروبار کې پانګونه کوي چې د خپلې ونډې په اندازه د کاروبار په ګټه او زیان کې شریک شي.

هغه خلک چې د کاروبار لپاره پانګه تهیه کوي ونډه لرونکي(Share Holder )بلل کیږي.د خلکو را ټوله شوې پانګه د کمپنۍ پانګه جوړوي چې دغه پانګه په کوچنیو کوچنیو برخو ویشلې چې هر برخې ته یې ونډه وایې. هرونډه یو ځانګړې قیمت لري چې بیلابیلو وګړو ته بې له کومې ستونزې لیږدول کیږي.د ګډې پانګې کمپنۍ ځان ته قانوني شخصیت(حقوقي شخصیت)لري.دکمپنۍ چارې د وګړو یوه ډله چې(Board of Directors) یامشرتابه پلاوی (مدیره هئیت) ورته وایې پرمخ وړي چې دغه مشرتابه پلاوی د ونډه والو استازي وي او له کاروبارسره مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library





اړیکه لري.د کمپنۍ د ونډه والو په لیونتوب یا مړه کیدا سره په کمپنۍ هیڅ ډول اغیزه نه غورځي.د ګډې پانګې کمپنۍ ځیني اړینې ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

- حقوقي شخصیت:په شخصي او شریک کاروبار کې د کاروبار او خاوندانو تر منځ شخصیت جلا نه وي که کوم شخص له کاروبار څخه پیسې اخلي نو د کاروبار له څښتن سره معامله ترسره کوي خو د ګډې پانګې کمپنۍ کاروبار له ونډه والو څخه جلا شخصیت لري چې شخصیت یې د مصنوعي انسان په څېر وي او کولای شي په خپل نوم معاملات ترسره کړي ،تړونونو کې ګډون وکړي د دعوي په صورت کې شخص په کمپنۍ دعوه کولای شي نه په ونډه وال.
- محدود المسؤلیت: د ګډې پانګې کمپنۍ ونډه وال محدود مسوولیت لري د کمپنۍ هر ونډه وال د خپلې ونډې په اندازه مسوولیت لري.
- د ونډې لیږد:په عامه لمیټید کمپنیوکې ونډه وال کولای شي په اسانۍ سره خپله ونډه بل چاته ته ولیږدوي چې د عامه کمپنۍ ونډه وال هروخت وغواړي خپله پانګه تر لاسه کولای شي لیکن په شخصي لمیټیډ کمپنۍ کې ونډه وال په خپلواک ډول نشي کولای خپله ونډه بل چا ته ولیږدوي.
- د ونډه والو شمیر:په عامه لمیټید کمپنیو کې د ونډه والو شمیر لږ تر لږه اووه(7) او د ډیر و شمیر د کمپنیو په ونډو

(c) ketabton.com: The Digital Library





پورې ترلې وي، همدرانګه په شخصي لميټيد کمپنيو کې د شريکانو شمير لږ تر لږه دوه(2)او زيات تر زياته پنځوس(50) دی.

- د سازمان چارې: د کمپنۍ د چارو د مخته وړلو لپاره يو پلاوی (هئيت) ټاکل کيږي چې د مشرتابه پلاوی په نامه يادېږي، د کمپنۍ لپاره پلانونه ،پروګرامونه جوړوي او هغه پرمخ وړي مشرتابه پلاوی يو مشر لري چې د درو کالو لپاره ټاکل کيږي او دمشرۍ دنده بايد په ډيره امانت والۍ سره تر سره کړي.
- اوږد عمر:د ګډې پانګې کمپنۍ له ونډه والو څخه جلا حقوقي شخصيت لري که کوم ونډه وال مري يا ليوني کيږي د کمپنۍ په عمر اغيزه نلري نو له دې کبله د دې ډول سازمانو عمر اوږد وي.
- دګټې ويش:د دې ډول کمپنيو د جوړولو موخه د ګټې لاسته راوړل وي نو د کمپنۍ د ګټې په صورت کې ټول ونډه وال د کمپنۍ ټوله ګټه په خپلو کې نه ويشي بلکې يو مقدار ګټه د زيرمې په بڼه ساتي تر څو د غيرې متراقبه ستونزو د راپيښيدو په وخت کې د ستونزو مخنيوي وکړي.
- د کار تبديليدل:د ګډې پانګې کمپنۍ کاروبار ته په اسانۍ تغير نه ورکول کيږي تل هغه کارونه مخته وړي چې په قانون کې يې ذکر کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- د ونډو پېرودل:د عامه کمپنیو ونډې هر وخت خلک کولای شي واخلي مګر شخصي کمپنیو ونډې هر څوک نشي کولای چې وپیري.
- د ځمکو پېر او پلور:د ګډې پانګې کمپنۍ ځانته یو قانوني بڼه لري کولای شي په خپل نامه ځمکې وپیري یا وپلوري او کیدای شي چې په خپل نامه له نورو کاروباري ادارو سره تړونونه هم وکړي.
- پراخه کاروبار:په ګډې پانګې کمپنۍ کې کاروبار په پراخه توګه پیل کیږي ځکه دلته د پانګې د نه شتون ستونزه نه وي.
- د پرایویټ لفظ: شخصي پراویټ لمیټید کمپنیو سره د پراویټ لفظ کارول اړین دي خو عامه کمپنۍ له دغه حالت څخه مستثنا دي.
- د کاروبار په چارو کې لاس وهنه: د سازمان په نظم کې هیڅ یو ونډه وال لاس وهنه نشي کولای البته په کلنۍ غونډه کې ونډه وال کولای شي چې د کاروبار د چارو په هکله نظر ورکړي.
- د ملکیت حقوق:د کمپنۍ ونډه وال یوازې تر خپلو ونډو په کمپنۍ کې ونډه لري د ټولې کمپنۍ دعوه نشي کولای ځکه کمپنۍ ځانته قانوني بڼه لري ټولې شتمنۍ د کمپنۍ ملکیت وي هیڅ یو ونډه وال ته د شتمنۍ د ملکیت حقوق نه ور کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ګډې پانګې کمپنۍ اداري جوړښت:** لکه څرنګه چې د ګډې پانګې کمپنۍ د يو قانوني شخصيت بڼه لري تر جوړښت وروسته په خپل کار پيل کوي او د استازيتوب لپاره يو اداري مجلس له ونډه والو ټاکي چې دمشرتابه پلاوی (Board of Directors)ورته وايي. دغه ټاکنې د ټولو ونډه والو له رايه اچولو وروسته تر سره کيږي چې دغه مشرتابه پلاوی يو نفر د مشر په توګه له پلاوي څخه يا له باندې وټاکي چې (Chief Exective) ورته وايي. ټول ونډه وال په کال کې يو ځل غونډه کوي چې پکې د ګډې پانګې کمپنۍ کړنلاره ،حسابونه او اړونده راپورنه ترځيړنې لاندې نيسي. او وروسته بيا د اړونده ادارو مسوولين ټاکي چې دا کار د رايو له اچولو وروسته تر سره کيږي،هر ونډه وال د يوې رايې د اچولو حق لري دا په دې مانا چې که د چا ونډې لس وي هغه ته د لسو رايو اچولو حق ورکول کيږي له کلنۍ غونډې وروسته د ګډې پانګې کمپنۍ په کارو کې ونډه وال هيڅ ډول لاسوهنه نه کوي د ګډې پانګې کمپنۍ په دوه حالاتو کې له منځه تللي شي:

1-د اچې په اداري مجلس کې د له منځه وړلو پريکړه وشي.

2-کله چې کمپنۍ له سقوط سره له دې امله مخ شي چې پورونه له ټول قيمت څخه واوړي.

په دواړو حالاتو کې اړينه ده چې د له منځه وړلو چارې يې د کمپنۍ د اړونده چارو سمبالښت د ادارې له اجازې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سره شي او له قانوني اجازه لیک پرته دا کار نشي کیدای.
په ټولیز ډول په داسې حالت کې د حکومت له لوري د کمپنۍ د ماشینونو او اومو موادو لیلام او د پورړوي تر منځ د هغه دویش په موخه یو سمبالونکی ټاکل کیږي چې له منځه وړونکي بلل کیږي.

د شرکت او کمپنۍ تر منځ توپیر: شرکت او د ګډې پانګې کمپنۍ د کاروبار دوه ډولونه دي چې یو له بل سره لاندې توپیر لري:

1- په شرکت کې شته وسایل د ټولو برخه والو ترمنځ یو شان ګډ ګڼل کیږي او هر شریک یې د بل شریک له لوري وکیل وي همدراز د دوي ټولو مسوولیت یو رنګ وي. د بیلګې په توګه که د شرکت د کوم پور پرې کول اړین وي نو په ورکولو یې ټول یو شان مکلف دي خو کمپنۍ د شرکت برخلاف جلا قانوني بڼه لري او هر یو ونډه وال یې جلا بلل کیږي. کمپنۍ کې د ګډونوالو ونډه د دوي تر منځ ونډه محدود وي داسې چې که چیرته کمپنۍ د یوالیه (ګړوبه) شي نو دوسایلو ویش باید هر ونډه وال د ونډې په تناسب سره تر سره کیږي. له دیوالیه کیدو دمخه دغه کار یو شریکوال هم نشي کولای، داسې چې دکمپنۍ الاتو کې کوم تصرف وکړي.له همدې امله چې کله یو ونډه وال د کمپنۍ پوروړي وي او دهغه برخه په کمپنۍ کې له منځه یوړل شي نو اغیز به یې یوازې د ده تر ونډې محدود وي داسې چې کومه ونډه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library





واک کې وي هغه به د پور په بدل کې له منځه ځي نور څه نه د کمپنۍ په الاتو کې چې دا کومه ونډه لري هغه له منځه نه ځي ځکه چې د کمپنۍ په الاتو کې قانوني ډول هیڅ ته د تصرف اجازه نشته.

2- په شراکت کې که د کاراو یا هم د شریکان له لوري دعوه وشي نو ټول شریکان په خپل منځ کې مدعي او مدعي علیه وي خو کمپنۍ د دې ټولو برخلاف جلا قانوني بڼه لري او له ګډونوالو پرته یوازې کمپنۍ مدعي او مدعي علیه وي او په محکمه کې د قانوني شخص استازیتوب اداري کس وي.

3- شرکت او کمپنۍ هم جلا قانوني بڼه لري چې د قانوني شخص په نامه یادیږي.

4- په شرکت کې هر شریک خپل ګډون فسخه او پانګه بیرته تر لاسه کولای شي. په کمپنۍ کې دا سې نشي کیدای او یوازې خپله ونډه پلورلای شي.

5- په شرکت کې په عمومي توګه ګډونوال مسوولیت د دوی تر لاس لاندې وسایلو پورې محدود نه وي او په کمپنۍ کې محدود وي.

د کمپنۍ ونډې: کله چې خلک په کمپنۍ کې ګډون کوي او خپله پانګه ورکوي کمپنۍ په خپل وار سره د ګډون والو په نوم یو سند خپروي څو په کمپنۍ کې د هغوی د ګډون کچه ښکاره شي. دغه سند ته ونډه (Share) وایي کمپنۍ ته چې څومره بودیجه ومنل شي هغه په برخو یا ونډو ویشل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





هر ونډه ټاکلې بيه لري چې دغه بيه کله د ونډې له پاسه ليکلې وي چې ښکاره(face value) ورته وايي . د ونډو ويش دوه ډوله کيږي لومړي ډول يې هغه دي چې د ګډون کوونکي نوم پرې ليکل شوي وي چې ليکلې ونډه (Registered share) په نامه يادېږي او دويم ډول يې هغه دي چې نوم پرې نه وي ليکل شوی، د چا په لاس کې چې وي د هغه بلل کيږي د ونډې ته لاسي ونډه ( Bearer share ) وايي.

ونډې د ونډه والو د حقوقو پربنسټ په دوه ډوله دي:

1-عادي ونډې(Ordinary share )

2- ځانګړې ونډې(Preference Share )

د دواړو ونډو تر منځ توپيردادی چې دغوره شوې ونډې لرونکي ته د کمپنۍ د عوايدو په ويش کې د عادي ونډه وال په پرتله د لومړيتوب حق ورکول کيږي چې د لومړيتوب صورتونه يې په لاندې ډول دي:

1-د ځانګړې ونډه والو ته عوايد د هغه اچول شوي پانګې په تناسب ورکول کيږي.دبيلګې په توګه که لس سلمه پانګه اچولې وي، لومړي عوايد ځانګړي ونډه وال ته د هغوي د پانګې د سلمې په اساس ويشل کېږي وروسته چې څه پاتې شي هغه عادي ونډه والو ته ورکول کيږي.او که پاتې نه شي دوی به همداسې بې برخې وي همدارازکه کمپنۍ د کال په بهير کې څه عوايد تر لاسه نه کړای شي، د ځانګړې ونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library





والو عوايد بيا هم ساتل کيږي داسې چې راتلونکي کال کله چې عوايد ترلاسه شي لومړي دوی ته او بيا عادي ونډه والو ته ورکول کيږي.

2- کله بيا دځانګړې ونډه وال د عوايدو کچه د عادي ونډه والو په پرتله زيا ته وي.

3- دکمپنۍ په کلنۍ غونډه کې دځانګړې ونډه والو خاوندانو ته د رايو ورکولو حق وي او عادي ونډه والو ته دا حق حاصل نه وي او يا خو دوی ته د يوې رايې اچولو حق وي په داسې حال کې چې د ځانګړي ونډه وال ته د دوو رايو حق وي.

## ګډې پانګې کمپنۍ ډولونه
## Kind of joint stock companies

**اجازه ليک کمپنۍ(Chartered Company)**: دا ډول کمپنۍ په اروپا او برتانيا کې 1844ميلادي وړاندې د شاه د فرمان په اساس جوړېدلې چې چارټر بانک اف انګلينډ ،چارټر بانک اف انډيا يې ښې بيلګې دي خو کله چې د کمپنيو قانون جوړ شو نو اجازه ليک کمپنۍ يو ځل بيا د قانون په اساس جوړې شوې په اوسنيو وختونو کې د دا ډول کمپينو شمېر ډير لږ دی ځکه اوسمهال د کمپنيو د جوړېښت لپاره يو جلا قانون شتون لري.

د اجازه ليک کمپنيو ځانګړتياوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library





- د ډول کمپنۍ د شاه د فرمان په اساس جوړيږي.
- له دې ډول کمپنيو سره د لميټيډ کلمه نه وي ذکر.
- دا ډول کمپنۍ ډير صلاحيت لري چې د قواعدو او ضوابطو په اساس کاروبار چلوي.
- مشريې د شاهي فرمان په اساس د شاه لخوا ټاکل کيږي چې ډير با صلاحيته وي.
- د شاهي فرمان په اساس د دې ډول کمپنيو کاروبار معطل کيږي.

**قانوني کمپنۍ (Statutory Company):** دا ډول کمپنۍ د يوې معتبرې قانوني مرجع يا د ولسمشر د ځانګړي فرمان په اساس جوړيږي. د قانوني کمپنيو ځانګړتياوې په لاندې ډول دي:

1- دا ډول کمپنۍ د يو قانوني مرجع يا د ولسمشر د ځانګړي فرمان په اساس جوړيږي.
2- دا ډول کمپنۍ داسې کارونه سرته رسوي چې د ټولنې بهبود په کې وي.
3- دا ډول کمپنۍ د حکومت په ولکه کې وي.
4- په دې ډول کمپنيو کې ونډه وال تر خپلې ونډې مسوول وي.
5- دا ډول کمپنۍ د کاروبار په هکله مکمله اجاره داري لري.
6- دا ډول کمپنۍ د ټولنې د ګټو د ساتلو لپاره جوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**راجسترکمپنۍ Registered Corporation**: دا ډول کمپنۍ په هیوادونو کې د شته قوانینو په وسیله چې د هیوادنو د ولسي جرګو له خوا تصویب شوې وي جوړیږي او دوه ډوله لري:

- **نامحدودالمسؤلیت کمپنۍ Unlimited Company**: په دې ډول کمپنیو کې ونډه وال د کمپنۍ د زیان یا پورونو په وړاندې نامحدود مسوولیت لري دا په دې مانا که کمپنۍ کله له زیان سره مخامخیږي، د ونډه والو شخصي شتمني هم په پور کې ورکول کیږي.
- **محدود المسؤلیت کمپنۍ Limited Company**: په دې ډول کمپنیو کې ونډه وال د زیان په صورت کې تر خپلو ونډو مسوولیت لري.د یوې کمپنۍ پور په دوه ډوله تړل کیږي:
  - ❖ د ضمانت په اساس By Guarantee
  - ❖ د ونډې د ارزښت په اساس By share value

یوه کمپنۍ د ونډو په وسیله په دوه ډوله محدودیږي:

- **شخصي محدود المسؤلیت کمپنۍ Private Limited Company**: په دې ډول کمپنیو کې د ونډه والو شمیر له دوو تر پنځوسو پورې وي د غه کمپنۍ ونډې ویشي او نه یې خپروي او نه په بازار کې ونډې پلورل کیږي، چې له دې ډول کمپنیو سره د پرایویټ کلمې لیکل اړین دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- **عمومي محدود المسؤليت کمپنۍ Public Limited Company**: په دې ډول کمپنيو کې د ونډه والو شمېر لږ تر لږه اووه او د زياتوالي يې په ونډو پورې تړلی وي او ددې ډول کمپنيو ونډې د ونډو په بازار کې په ازاده توګه پلورل او پيرودل کيږي.

## دويم څپرکی

**صنعت Industry**: بايد ووايو چې په لرغونو زمانو کې ښارويو او کرنيزو محصولاتو د خلکو اړتياوې نه شوې پوره کولای نو خلکو د کرنې پياوړتيا ته پام واړاو نو ځکه يې د اړتيا له مخې اسبابونه جوړکړل چې همدا د لومړي صنعت پيلامه وه همدارنګه کله چې انسان له کوچياني ژوند نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library





مېشت کېدو خوا ته راغی ،نو انسان به خپل ټول اړتیاوړ توکي په لاسو جوړول.له خاورینو کټوریو نیولې ان تر کالیو او جامو پورې ټول شیان به یې په طبیعت کې له شته توکو نه په لاسونو اوبدل او جوړول.هغه وخت لاسي صنایع د بشر له رغنده استعدادونو او له نوښتونو ډک ول او هر قوم به له خپل استعداد او وړتیاوو سره سم داړتیا وړ توکي رامنځته کول د لرغونو انسانانو هر قوم او قبیلې به د سیمې چاپېریال له مخې خپل،خپل لاسي توکي رامنځته کول د ساري په توګه طبیعت د سړو سیمو خلک دې ته اړ وبستل چې له سړو نه د بچ کېدو په موخه ځانونو ته تودې جامې وګنډي او د حیواناتو له پوستینونو څخه ځانو ته کالي او نور توکي جوړ کړي . همدغو لاسي صنایعو د وخت په تېرېدو سره پرمختګ وکړ، خو کله چې انسان د فلزاتو ویلې کیدل زده کړل چې دا صنعت دویم پړوا بلل کیږي چې د ماشین تراختراع پورې د دودیز صنعت لړۍ روانه وه خو کله چې په اوولسمې میلادي پیړۍ په اخرو کې په انګلستان کې صنعتي اوښتون رامنځته شو نو په نړۍ کې ژور بدلو ن راغی. په نړۍ کې عصري توکي او وسایل رامنځته شول.د خلکو د ګټې اخېستنې لپاره د توکو استحصال،کیفیت او بڼې بدلون ته صنعت ویل کیږي،چې د اقتصاد د علم له نظره هغه تولیدي پروسه ده چې له خامو موادو لکه وړۍ،پنبې ،پوستکي او نورو څخه د انسان د مټ قوت،ځواک او یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library





ماشین په وسیله ترې کار اخیستل کیږي.په دې کې شک نشته چې صنایع د هیواد په اقتصاد کې ستر ارزښت او اهمیت لري،په هیوادنو کې د صنعت د پرمختګ سره د بهرنۍ سوداګرۍ نا انډولي له منځه ځي.له پورتینو څرګندونو څخه داسې رامعلومیږي چې په نړۍ کې دوه ډوله صنعت شتون لري:

1- لومړني صنعت Primary Industry: په لومړني صنعت کې ټولې هغه کړنې شاملې دي چې په اومو موادو پورې اړه لري د بیلګې په توګه د کاني زیرمو راویستل،کرنه کول،کب نیونه،ځنګلونه پرې کول.په لومړني صنعت کې انسان په خپله څه نه پیدا کوي بلکې له طبیعت څخه یې د ځینو وسایلو په وسیله منځته راوړي.د بیلګې په توګه کروندګر د کرنې په وسیله توکي لاسته راوړي چې یوازې د کرنې پروسه مخ ته وړي یا کب نیوونکي کبان نیسي.په دې پروسه کې انسان په خپله توکي منځته نه راوړي، بلکې د وسایلو په وسیله توکي د کارولو لپاره لاسته راوړي.لومړنی صنعت په دوه ډوله دی:

1-استخراجي صنعت Extractive industry:په دې ډول صنعت کې ټولنې هغه کړنې شاملې دي چې د ځمکې له سر یا منځ څخه اومه مواد راوباسي. د بیلګې په توګه د کانونو راویستل،ځنګلونو وهل ،کب نیونه او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library





2- جنتېکي صنعتGenetics industry: په دې ډول صنعت کې ټولې هغه کړنې شاملې دي چې د حیواناتو او نباتواتو په پالنه کې تر سره کیږي.د بیلګې په توګه د نباتاتو کینول، قلمې لګول د کبانو روزل، چرګانو روزل او نور.

2- منځنی صنعتSecondary Industry:منځنی صنعت

هغه صنعت ته ویل کیږي چې په هغه کې اومه مواد په لا ګټور شکل اړول کیږي.یانې له اومه موادو څخه بیلا بیل توکي جوړیږي.د بیلګې په توګه کله چې کروندګر غنم لاسته راوړل له غنمو ډوډی ، کیک ،کلچو جوړولو ته یا د ځنګل له لرګیو نور عصري توکي لکه فرنیچر جوړلو ته منځنی صنعت ویل کیږي. په منځني صنعت کې توکي په بیلا بیلو بڼو بدلیږي. منځنی صنعت هم په درې ډوله دی:

1-رغندو صنعت Constructive industry: په دې ډول صنعت کې ټول هغه کارونه شامل دي چې له رغونې سره سروکار لري.د بیلګې په توګه: سړکونو رغول،کورونو رغول ،ساه ګانو جوړه ول او نور.

2- تولیدي صنعت Manufacring industy:په دې ډول صنعت کې توکي په کار تمامه او نیمه کار تمامه توکو بدلیږي دساری په ډول: د بیلابیلو خوړو جوول،د کالیو جوړول او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library





3-چوپړتیایي صنعت Services industry:په دې ډول صنعت کې ټولې مسلکي چوپړتیاوې شاملې دي چې انسانان یې سرته رسوي د بیلګې په توګه روغتیا پالي،ښوونه او روزنه او نور.

صنعت د جوړیدا په لحاظ هم په دوه ډوله دی چې عبارت دي له:

1-لاسي صنعتHandcraft: لاسي صنعت هغه صنعت ته وايي چې په هغه کې ټول توکي په لاس جوړیږي، چې عموماً په شخصي تشبثاتو پورې اړه لري.لاسي صنعت د هیواد په اقتصاد او د کورنیو په اقتصادي وده کې مهمه ونډه لري چې په پرمختللو او پرمختیایي هیوادنو یو شان ارزښت لري د پرمختللو هیوادونو له ډلې د المان او جاپان په اقتصاد کې ځانګړي ځای لري. که مونږ او تاسو د نړۍ بازارونو ته وګورو نو ټول په زړه پورې ماشیني صنایعو څخه ډک دي خو بیا هم د ماشیني صنعت په نسبت د لاسي صنایعو مینه وال ډیر دي.

2-ماشیني صنعت:ټول هغه توکي چې د ماشین په وسیله جوړیږي ماشیني صنعت بلل کیږي، چې په کې ټولې درنې ،منځنۍ او سپکې صنایع شاملې دي. خو باید وویل شي چې د ماشیني صنعت تر راتګ دمخه ټول د کار وسایل په لاس جوړیدل. د لومړي ځل لپاره کله چې د انګلستان

(c) ketabton.com: The Digital Library





صنعتي اوښتون رامنځته شو ، نو د نړۍ په اقتصادي ژوند- ژواک کې لوي بدلون رامنځته شو. تر هغې وروسته ډیر لاسي کارونه په ماشین بدل شول او هر هیواد د خپل ځواک په اندازه له ماشین الاتو څخه کار اخېستل پیل کړل.

**په افغانستان کې د صنعت تاریخي بهیر:** زمونږ په لرغوني هیواد کې چې د زرګونو کلو تاریخ لري او ددې ټولې دورې په اوږدو کې د فرهنګ او مدنیتونو ځانګو ده په یو شمیر سیمو ،لکه کاپیسا ،بګرام ،هډه ،بامیان، اي خانم،میرزکه او نورو کې د پلټنو او کیندنو په پایله کې داسې لاسي صنایع تر لاسه شوي چې د ډیر ښه او لوړ هنر ذوق استازیتوب کوي.

دځینو تاریخپوهانو او لرغون پیژندویانو د اټکل له مخې 9000 کاله دمخه په اریانا کې د فلزاتو دوره پیل شوې چې د مس او قلعي ګډ مرکب د هډوکو او تیګوڅخه د جوړو وسایلو ځای ونیوا او بیا له نن نه پنځه زره کاله وړاندې دډول ډول مسکوکاتو ،کلالي صنعت او ډیرو فلزي وسایل او لوښو لرونکي او وروسته د میلاد په لومړي پیړۍ کې یې د ډیرو هلو ځلو په پایله کې دومره پرمختګ کړی دی چې خپلې ټولې اړتیاوې یې په خپله پوره کړي او په ښه ډول یې خپل صنعت ته وده ورکړې ده او د زړه په مینه یې پاللي او راتلونکوته یې ښې تجربې پرېښودې دي او په بیلابیلو ځانګو کې کلالي،ترکاڼي ،زرګري ،اهنګري د قالینې

(c) ketabton.com: The Digital Library





ټغر،لیمڅي ،شړۍ او د نورو اوبدل‌پوستین ګنډل ،خامک دوزي او داسې نورو کې یې د ستاینې وړ پرمختګونه کړي دي.

په افغانستان کې دلومړي ځل لپاره د امیر دوست محمد خان په وخت کې له ماشیني صنعت څخه کار واخیستل شو. دا هغه وخت و چې افغانانو دویمه جګړه له انګریزانو سره پای ته رسولې وه او په کابل کې د وسلو جوړولو یوه لومړنۍ فابریکه جوړه کړې وه چې له افغانانو پرته هندي او ایراني کارپوهانو هم پکې کار کاو. تر امیر دوست محمد خان وروسته د امیرشیرعلي خان په واکمنۍ کې د ټوپک جوړلو تر څنګ د یوشمیر توپونو جوړل هم پیل شول او تر دې پرته د چاپ ماشین هم کابل ته راوړل شو چې د شمس النهار اخبار او یو شمېر کتابونه ،پوستي ټکټونه او دولتي فرمانونه به یې چاپول.خو دا هر څه د انګریزانو له دویمې پلا جګړې سره ډیرزیانمن او له ځنډ سره مخامخ شول.

کله چې 1880میلادي کې عبدالرحمان خان واک ته ورسید ،د لرغونو ماشینونو تر فعالولو پرته یې په کابل کې د علم ګنج په نوم ماشین خانه جوړه کړه چې عسکري وسایل به یې پکې جوړول او له دې پرته یې سل لوی او واړه ماشینونه درلودل چې د چاپ،صابون جوړونې،شمع جوړونې او نورې چارې به په سرته رسېدلې، چې تقریبا

(c) ketabton.com: The Digital Library





600 ټنه فلزات په صنعتي محصولاتو بدلیدل او 50000 تنو په کې کار کاوو.

دامیر حبیب الله خان په دوره کې ماشیني صنعت لا پسې وده وکړه په 1906 میلادي کال کې د څرمنو او بوټانو فابریکه فعاله شوه او د وړینو منسوجاتو فابریکې هم په کار پیل وکړ.د جبل السراج د بریښنا د فابریکې بنسټ هم کیښوول شو دا وخت د صنعتي کارکوونکو شمیر د 50000 تنو په شاوخوا کې و.کله چې غازي امیرامان الله خان د هیواد د خپلواکۍ اعلان وکړ د ټولنیزو،سیاسي،فرهنګي او اقتصادي چارو تر څنګ یې د صنعت پیاوړتیاته هم ډیره مخه وکړه.د ده په واکمنۍ کې دبریښنادتولید،مطبعو،د سمنټو صنعت ،بورې،ګوګړو،کاغذ جوړولو،ښیښې جوړولو،غوړایستلو ،دمېوود کنسروا کولو او نور ماشینونه واخېستل او هیواد ته راوړل شول.

خو کله چې امیر حبیب الله خان د سقاوو زوي نهه میاشتې د اړودوړ دوره جوړه کړه دا هر څه په ټپه ودریدل او ټول صنعتي کارونه پر ځای ولاړ ول ترهغه وروسته چې اعلیحضرت محمد نادر خان واک ته ورسید، نوموړي وکړای شول په هیواد کې یو ځواکمن حکومت جوړ کړي ټولې هغه صنعتي دستګاوې چې له فعالیته پاتې وې بیرته فعالې کړي او یو څه نوي ماشینونه یې هم هیواد ته را وارد

(c) ketabton.com: The Digital Library





کړل او د صابون جوړولو د فابریکې بنسټ یې هم کیښود ،د موټر د ترمیم فابریکه هم رامنځته شوه ،د ترکاڼۍ فابریکه یې هم رامنځته کړه او همدارنګه په جبل السراج کې د ټوکر فابریکې هم په کار پیل وکړ. وروسته بیا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او شهید سردار محمدداود خان د واکمنیو په مهال کې د هیواد صنعتي کیدو ته ډیره پاملرنه وشوه او له بیلابیلو هیوادونو څخه سپک او درانه ماشینونه هیواد ته راوړل شول چې د هیواد په پلازمینه او ولایتونو کې یې فعالیت پیل کړ.

په کال 1352 هـ ش کې د هند په بې بدله مرستې د کابل د څرخي پله په سیمه کې صنعتي پارکونوپروژه فعاله شوه چې له خصوصي متشبثینو سره یې ډیره مرسته وکړه. له 1312-1352 هـ ش پورې د هیواد په دولتي سکټور برسېره ملي پانګوالو ته هم د صنعتي فعالیتونو اجازه ورکړل شوه چې یو شمیر شرکتونو له بهر څخه سپک او درانه ماشینونه هیواد ته راوړل او په کار یې پیل وکړ چې د دغو خصوصي پروژو شمیر درې سوه 300 ته رسید چې په دې ډله کې د غالۍ جوړولو، وچلونۍ (خشکه شویۍ) ،تشناب کاغذ ،کارتن جوړولو ،کشمش پاکۍ ،اوبدلو ،یخ جوړولو ،نجارۍ ،بوټ جوړولو او یو شمیر نورې فابریکې شاملې وې.خو کله چې په 1357 هـ ش کې د ثور د میاشتې په اوومه د یوې کودتا په ترڅ کې د افغانستان سیاسي بدلښو په پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library





کې یې د یو شمیر کمونستي هیوادنو له لوري یو شمیر ماشینونه را وارد شول تر یو وخته یې کار هم وکړ خو وروسته یو شمیر پانګوالو د زنداني کیدو او وژلو له امله په ټولو چارو کې بدلون رامنځته شو. کډوالي پیل شوه. مقاومت داوم وموند. د هیواد په ولایتونوکې په صنعتي تولیداتو کې د کمیت او کیفیت له لحاظه ډیر کمښت رامنځته شو خوله دې ټولو ستونزو سره سره تر 1371هـ ش پورې په هیواد کې (574)صنعتي او تولیدي موسسو شتون درلود چې په دغو موسسو کې د بریښنا د انرژۍ 41،د ډبروسکرو 10،نفت او ګاز 3،کیمیاوي صنایع 73،ساختماني صنایع 18،د ماشین جوړولو او فلز کارۍ صنایع 50 د درملو د تولید صنایع 3،د چاپ او خپرونې صنایع 26،د نجارۍ او کاغذ جوړولو صنایع 16،خفیفه صنایع 141،د ارتزاقي موادو صنایع 124او نورې 69موسسې شاملې وې.

له کال 1371 هـ ش څخه وروسته په هیواد کې د واک پر سر جګړې پیل شوې او دا پورتنۍ ټولې موسسې زیاتره وسوزیدې ،ماشین الات یې غلا شول تر هغه چې طالبان واک ته ورسیدل. هغوي هم پانګوالۍ ته زړه نه ښه کاو خو بیا هم یو شمیر صنعتي کارونه وشول،په هیواد کې د موقتې ادارې په رامنځته کیدو سره دصنعت په برخه کې هم ځینې پرمختګونه رامنځته شول. په کال 1390هـ ش کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library





هیواد په داخلي ناخالص تولید کې د صنعت د سکتور ونډه 21.3٪ سلمه وه، او په کال 1388هـ ش کې د صنعت د سکتور د داخلي تولید ټولیز ارزښت 8991میلونه افغانۍ، په 1389هـ ش کې8949میلونه افغانۍ او په کال 1390هـ ش 10562میلونه افغانۍ وه. اوس مهال په افغانستان کې 288صنعتي موسیسې د صنعتي توکو د تولید په برخه کې فعالیتونه تر سره کوي چې 22000هیوادوال په کې کار کوي اود هیواد مهم صنعتي توکي عبارت دي له: کېمیاوي سرې، سمنټ، دارو، مالګه، کاغذ تشناب، وړه، غوښه، ساب ونه، غیرې الکولي مشروبات او نور.همدرانګه له ډېرو لرغونوزمانو راهیسې زموږ هېوادوال هم د لاسي صنایعو په جوړښت کې رول لري او ځینې تر اوسه لا هم دلاسي شیانو پر جوړښت اخته دي. له ډېر پخوا راهیسې زموږ په هېواد کې لاسي غالۍ، لیمڅي، ټغر، کنټې، لاس ماغوان، جرابې... او نور شیان اوبدل کیږي.

همدغسې په هېواد کې کندهارۍ غاړې، غاړکۍ، ګوتې، لاس بندونه، ملاوستني، بګړۍ... او نورتوکي اوبدل کیږي .په ځینو ځایونوکې له لرګیونه ډېر توکي لکه کرڅۍ(ځمڅۍ)، مېزونه، ښاخۍ، راشپېلونه، صندلۍ، الماري، کاسې، دروازې جوړیږي. په هېوادکې له کانو او ډبرو نه هم ډېر اړین توکي لکه بغرۍ، مېچنې او نور وسایل

(c) ketabton.com: The Digital Library





جوړېدل چې اوس ځيني توکي په انتيکو توکيو بدل شويدي. يو مهال ډېرو وګړيو له دغو توکو ډېره ګټه پورته کوله او ټول ژوند يې په همدغو توکو مختهروان و اوس هم ځيني هېوادوال ترې ګټه پورته کوي د هيواد د ځينو مهمو لاسي صنايعو يادونه په لاندې ډول کوو:

1- کلالي: د کلالۍ هنر د افغانستان له نوميالیو لاسي صنايعو او کسبونو څخه دی چې د هيواد په هره سيمه کې ډېر ارزښت لري او په مشکله به يو داسې کور په کليو او بانډو کې وموندل شي چې هلته د کلال د لاس جوړ لوښي شتون ونلري. د کلالۍ دلوښو جوړولو تاريخ خو په څرګند ډول معلوم ندي خو دا اندازه يې څرګنده ده چې په دې هيواد کې زر ګونه کاله اوږد تاريخ لري او اوس هم د هيواد په بيلابيلو سيمو کې په بيلابيلوبڼو جوړيږي.د هيواد په بيلابيلو سيمو کې همدا اوس اوس کاسې ،مجسمې ،کوزې ،چيلمچي ،قنداني ګلدان، د مستو کټوې، چيلم د جامو مينځلو او کورتو سولولو تغارې ،کاشي خښتې،بلوونه ،مرتبانونه او داسې نور توکي جوړوي او په مناسبه بيه پلورل کيږي.د کلالۍ اومه مواد له ختې (خاورې) جوړوي چې د سختې ،نرمې او سريښنانکې ځانګړتياوې ولري.

2- غالۍ: غالۍ زموږ د هيواد د لاسي صنايعو يو ارزښتمن توليد دی چې په ملي اقتصاد کې تر نور هر څه ډېر رول لري اود هيواد له لويو صادراتي توکو څخه شميرل کيږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library





غالیو اوبدل په افغانستان کې یو لرغونی تاریخ لري او په بهرنۍ نړۍ کې افغاني غالۍ له یو ځانګړي شهرت څخه برخمنې دي چې اوس هم د نړۍ په مشهورو موزیمونو کې افغاني غالۍ د ننداړچیانو لپاره ننداري ته ایښوول شوې دي. زموږ په هیواد کې په ډیر وسایزونو او ډیرو رنګونو جوړیږي چې د هرې سیمې قالینې خپلې ځانګړنې اوخپل ځانګړي شهرت او ښکلا لري.د غالیو د تولید مهم مرکزونه له اقچې ،اندخوي ،دولت اباد، فاریاب ،بلخ،قزل ایماق ،شبرغان،مېمنه، قلعه زال،خماب،مور چاق چکش،قرقینو،بلوچي ،هرات سیمې دي.د غالیو عمر او ښکلا د هغې په تار او د ګنډونکي مهارت پورې اړه لري. زموږ د هیواد هغه سیمې چې یادونه یې پورته وشوه چې په غالیو اوبدلو کې شهرت لري، ډیر کلي او باندې دي چې هلته میرمنې له خپلو نارینوو سره د غالیو په اوبدلو کې څنګ په څنګ ونډه اخلي او تقریبا ټولې میرمنې د غالیو په اوبدلو کې ښه وړتیا لري.

3- پوستین:د پوستین ګنډلو اساسي اړتیا وړ مواد د پسونو پوستکي جوړوي. پوستین ګنډونکي چې کله پوستکي له قصاب څخه تر لاسه کړي لومړي هغه پوستکي ته اش ورکوي. اش د اوړو اوربشو او مالګې له مخلوط څخه عبارت دي چې دا دري واړه په غلیظه او ټینګه توګه جوړوي او بیا پوستکی د ځمکې پر مخ هواروي او تیار شوي اش یې

(c) ketabton.com: The Digital Library





پرمخ هواروي. کله چې پوستکي راټول کړي، د وړې مخ يې بهر ته کوي او بيا يې لمر ته اچوي چې دا کار هره ورځ تر سره کوي تر څو هره ورځ نوي اش د هغه پر مخ ځای ونيسي. دا کار لس ورځې دوام لري او په ژمي کې چې هوا سړه وي پنځه ويشت ورځې دوام کوي تر څو پوستکي د تراشلو لپاره چمتو شي کله چې غواړي پوستکي و تراشي په يو هوار ځای يې هوروي او ټوله غوښه يا وازده چې په پوستکي نښتې وي ترې تراشي .تر دې چې يو نازک او پوست پوستکي پاتې شي.رنګ ورکول يې هم همداسې يو عمليه غواړي تر څو پوستکي رنګ شي تر رنګ وروسته يې سنډې پخوي چې بخې يې هم بيا دوه ډوله يو ليسه بخې او يوه پرکاره بخې پرې کوي. وروسته له هغې پرې بخې پيلوي چې د قلم وهلو مرحله ورته وايي او په پای کې ترې يو ښکلي تود پوستين جوړ شي چې زموږ په هيواد کې هغه سيمو کې چې ډيره واوره لري او سړې سيمې دي له پوستين څخه ډير کاراخلي او د افغانستان پوستين نړيوال شهرت هم لري چې ډير شمير بهر نړۍ ته صادريږي او د بهرنۍ نړۍ په بازار کې ښه مقام هم لري او د هيواد له مهمو صادراتي توکو څخه شميرل کيږي.

4- زرګري:د زرګرۍ صنعت په هيواد کې د نورو صنايعو په څير له استاده شاګرد ته له پلاره زوي ته پاتې وي چې زياتره استادان له دوو څخه تر پنځو شاګردان لري چې دا صنعت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library





زمونږ په هیواد کې زرګونه کاله تاریخ لري. د زرګرۍ صنعت په درو فلزاتو چلیږي: سره زر، سپین زر او برنج. زرګران د سرو زور تول او اندازه په قیراط کوي چې دا یو ترکي ویی دي چې معادل یې له څلورو وربشو سره کیږي چې د ګرام 10/1 برخه جوړوي د هیواد د پلازمېنې تر څنګ ننګرهار، کندهار، بلخ او هرات کې هم ډیر ښه بازارونه لري.

5- خامک ګنډل: خامک ګنډل د ټول هیواد په کلیو او او ښارونو کې له ډیرې پخوا څخه دود دي او په ښځینه طبقه کې د ډیرې پاملرنې او توجو وړ صنعت ګنل کیږي او د دود له مخې وړو نجونو ته په ډیر کوچنیوالي کې ستنه او تار ورکول کیږي چې په دسمالو کې ګلان و ګنډي او یا خو د رنجو کڅوړې او یا نور څه په وګنډي تر څو وکولای شي چې ښوونځي ته د شاملیدو تر وخته له ګنډلو سره بلده شي. په دویم قدم کې ورته د پخلي په هکله لارښوونه او روزنه ورکوي.میندې ډیرې هڅې کوي چې په خپلو لوڼو خامک ګنډل او پخلی ښه زده کړي.

د هیواد په ډیرو (چې ډیرې پښتنې سیمې دي) سیمو کې دا دود دی چې کله یوه نجلۍ کوژده شي نو هغه ځان اړ بولې چې تر واده پورې ډیر توکي د بیلګې په توګه دسمالونه، سرمیزي، پردې، څادرونه او یوه ښکلي ښایسته غاړه د واده د زلمي لپاره جوړوي چې د واده پر مهال یې د جیز په نوم د خاوند کور ته له ځان سره یوسي او هلته یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library





خوسر، لیور او نورو نژدې دوستانو ویشي. دا له یوې خوا د ناوې سوغات او له بلې خوا د خوسر کوروالاو ته د خپل لاس کمال څرګندوي. دا صنعت که له یوې خوا د هیواد په دننه کې ډیر اهمیت او ارزښت لري له بلې خوا یې په بهرنۍ نړۍ کې ننداړتونه او سالونونه ښایسته کړي دي.

7-لاسي فلزي صنعت: په هیواد کې د حلبي جوړونې صنعت د هیواد د نورو صنایعو په څیر ډیر اهمیت او ارزښت لري چې د هیوادوالو ډیرې اړتیاوې (سطل، چای جوش، منقل، ابدان، تشت... ) چې دا ټول وسایل جوړوي او د خرابیدو په صورت کې یې بیا جوړونه هم کوي د حلبي جوړونې تر څنګ د مسګرۍ صنعت هم زمونږ په هیواد کې د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ له وخته دود دی. د هیواد په هر ځای کې یې ښه پاخه کاریګران شتون لري او د کور ډیر اړین سامانونه جوړوي د بیلګې په ډول دیګ، کاسه، تشت، کوزه، چلمچي، چلم، ابدان او نور چې دا سامان الات د سیمو له مخې یو له بل سره توپیر لري. همدرانګه اهنګري هم زمونږ په هیواد کې له مشهورو لاسي صنعتونو څخه شمیرل کیږي او په هیواد کې اوږده سابقه لري او په هیواد کې ډیر ارزښتناکه وسایل (بیل، رمبي، لور، څټک، تبر، مارتول، شاول تبۍ، د سپارې پال ... ) جوړوي چې د هیواد کرنې ته ډیر ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د هیواد عمده صنعتي سیمې:** د هیواد لوي ښارونه چې د نفوس ،اداري ،کلتوري او هیواد اقتصادي مرکزونه جوړوي او صنعت لپاره هم ښې برابرې دي.دغه ښارونه له :کابل ،کندهار،ننگرهار،هرات،بلخ او کندوز څخه عبارت دي.د دې تر څنګ چې دغه ښارونه په خپله اداري، کلتوري او اقتصادي مرکزونه دي نور ګاونډي ولایتونو ته هم ځانګړی اقتصادي اهمیت لري. نو په دې اساس کولای شو د هیواد صنعتي سیمې په شپږو برخو وویشو:

۱-د کابل حوزه: د کابل ښار د هیواد له عمده صنعتي برخو څخه ده په دې حوزه کې کابل،لوګر،غزني،پکتیکا ،وردګ،بامیان او پروان ولایتونه شامل دي.

۲-د کندهارحوزه:د کندهار ښار هم د عمده صنعتي مرکزنونو له ډلې څخه دی چې په دې حوزه کې کندهار،نیمروز،روزګان او زابل ولایتونه راځي.

۳-د هرات حوزه:داحوزه له هرات ښار،فراه،بادغیس او غور ولایتونو څخه عبارت دی.

۴-د بلخ حوزه:د دې حوزې مرکز د مزار شریف ښاردی او نور ولایتونه یې له:جوزجان،فاریاب،او سمنګان څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**۵**-د کندوزحوزه:د کندوزدحوزې مرکزنونه پلخمري او بغلان دي او نور ښارونه يې عبارت دي له:کندوز،بغلان،بدخشان او تخار څخه.

**۶**-ننګرهار:ددې حوزې مرکزدجلال اباد ښار اونور ښارونه يې لغمان،کونړاو نورستان دي.

**هيواد کې دصنعتي اومو موادو سرچينې**:زمونږ د هيواد اقتصاد په کرنه ولاړ دی او د اخېستل شوې احصائې له مخې 85 سلمه وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي چې له همدې لارې خپل خوراکي مواد برابروي. صنعتکاران د خپلو ورسره وسايلو په وسيله په کليو کې خپلو توليداتو ته دوام ورکوي چې د اړتيا وړ اومه مواد له لاندې سرچينو څخه تر لاسه کوي:

1-حيواني سرچينې: وړۍ ،پت ،پوستکي،وژغنې او طبيعي وريښم.

2-نباتي سرچينې: پنبه، منسوج، کتان، سنډ او داسې نور.

3-کاني سرچينې:اوسپنه ،مس،سره زر،سپين زر،قيمتي ډبرې(لاجورد ، بيروج، زمرد ،رخام) او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## دریم څپرکی

**2-کامرس Commerce**: ټولې هغه اقتصادي کړنې چې توکي د تولید له ځایه مصرفوونکو ته رسوي د کامرس په نامه یادیږي. د بیلګې په توګه د توکو اخېستل، خرڅول، د لیږد وسایل، بانکوالي، بیمه... یا ټولې هغه اقتصادي کړنې چې د تولیدونکو او مصرفونکو ترمنځ اړیکه ټینګوي کامرس بلل کیږي.

جیمز سټفین کامرس داسې راپیژني: "ټولې هغه کړنې چې د توکو د تبادلې په وخت کې بشري، د وخت او واټن خنډونه له منځه وړي کامرس بلل کیږي".

**د کامرس لمن Scope of Commerce**: د کامرس له لمنې څخه موخه ټول هغه موضوعات دي چې په کامرس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي.په عمومي ډول سوداګرۍ او د سوداګرۍ مرستيالان د کامرس تر عنوان لاندې څيړل کيږي.



A-سوداګريTrade: انسان له بيلابيلو اړتياو او غوښتنو سره يو ځای نړۍ ته راغلی چې دغه غوښتنې او اړتياوې انسان ډيرو هڅو ته اړباسي په پخوانيو زمانو کې سوداګرۍ شتون نه درلود. د نړۍ انسانان په ځان بسيا ول.يوازې درې اړتياوې يې لرلې:خوراک،لباس او اوسيدل چې خوراک يې د ښکار له لارې،لباس يې د وحشي ځناورو له پوستکو او دبيلابيلو بوټو له پاڼو څخه و او د اوسيدو لپاره يې له ځمځو څخه کار اخيست چې په هغه وخت کې انسانان يو بل ته اړ نه ول.خوکله چې د انسانانو فکرونو پرمختګ وکړ ددوي په اړتياو کې توپير رامنځته شو د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره يو بل ته اړ شول. د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره يې يو له بل سره توکي تبادله کول. چې همدلته د سوداګرۍ هنر رامنځته شو.د توکو تبادله د ګټې په منظور په مسلسل ډول سوداګري بلل کيږي يا سوداګري د توکو اخيستل او خرڅولو ته وايي.همدارنګه کولای شو سوداګري داسې هم تعريف کړو:ټولې هغه کړنې چې د توکو تبادله له توکو يا پيسو سره کوي سوداګري بلل کيږي.د وخت په تيريدو سره کله چې د انسان پانګه او تجربه زيات شوه خپله ګټه يې په دې کې وليده تر څو ځينې توکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلو اړتیاو څخه ډیر تولید کړي او هغه د نورو اړتیا وړتوکو سره تبادله کړي.



له درو پیړیو را په دې خوا د سوداګرۍ موضوع په ځانګړې توګه بهرنۍ سوداګري د نړۍ د اقتصاد پوهانو او پالیسۍ جوړونکو د بحث او جدل وړ ګرځیدلې ده. په اقتصاد کې سوداګري او د هغې رول په اړوند مطالعه د میرکنتالستانو په دوره کې 15-18میلادي پیړۍ پورې رامنځته شوه.په هغو وختونو کې لیکوالان او سیاست پوهان پر دې عقیده ول چې د هر هیواد ملي ګټې د صادراتو په هڅو نه بلکې د وارداتو په راکمونه کې نغښتې ده، چې وروسته له18میلادي پیړۍ څخه نومورې نظریې خپل ځای ازادې سوداګرۍ ته پریښود. په دې دلیل سره چې ازاده سوداګري د دواړو خواو په ګټه تمامیږي.

ایډم سمیت او ریکارډو د دې نظریې د بنسټهوالو او کلکو مدافعینو له ډلې څخه ګڼل کیږي. د ایډم سمیت او ریکارډو د تیورۍ په اساس که یو هیواد یو توکي نظر دې ته چې په خپله یې تولید کړي له بل هیواد څخه په مناسب قیمت لاسته راوړي، باید له هغه هیواد څخه یې را وارد کړي او خپله پانګه او بشري ځواک په یو داسې توکي ولګوي چې په نورو هیوادنو کې ښه اخیستونکي ولري. له سوداګرۍ څخه د ګټې د تیورۍ په پام کې نیولو سره د هیوادونو تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library





سوداګري ورځ تر بلې زياتيږي، هان تر دې بريده چې ځينو هيوادونو لخوا بې وزله هيوادونه تر خپل تسلط لاندې راوستل شول. همدرانګه د ګمرکي خنډونو د تيورۍ رامنځته کول هم له همدې انګيزې څخه پيل شوې دی. په نړۍ کې د پوهې او اقتصادي څيړنو له پرمختګ سره په نړۍ کې سوداګريز بلاکونه رامنځته شول ترڅو غړي هيوادونه په ازاده توګه توکي اوچوپړتياوې تبادله کړي.سوداګري په نړۍ کې په دوه بڼو شتون لري:

- **کورنۍ سوداګري Home Trade:** کورنۍ سوداګري د اقتصادي کړنو ستره برخه جوړوي چې له پخوا څخه تر ډيره بريده په خصوصي سکتور پورې اړه لري. کورنۍ سوداګري د اقتصادي کړنو په پراخوالي کې ،د کار په پيدا کولو کې،د ژوند سطحې د پورته کولو او د هيوادونو په اقتصادي پرمختګ کې اساسي ونډه لري. کورنۍ سوداګري نه يوازې ښارونه له يو بل سره تړلي بلکې ښارونه له کليو سره او خلکو ته له يو بل سره پيوند ورکوي. ټولينزې ،فرهنګي ،اقتصادي او سياسي اړيکې د بيلابيلو قومونو او قبايلو تر منځ پراخوي له بلې خوا کورنۍ سوداګري په غيرې مستقيم ډول زرګونه انسانانو ته ګټه رسوي. نه يوازې سوداګرو ته بلکې نور افراد لکه هټۍ وال ،د ټرانسپورټي وسيلو مالکانو ،هوټلونه هم له کورنۍ سوداګرۍ څخه ګټه لاسته راوړي.واړه سوداګر سوداګريز توکي له کليو او بانډو

(c) ketabton.com: The Digital Library





څخه کوچنیو ښارونو ته او ځیني وخت لویو ښارونو ته لیږدوي. د هیواد زیات سوداګر د اړتیا وړ سوداګریز توکي د هیواد له لویو ښارونو څخه کوچنیو ښارونو ته، ولسوالیو ته او د هیواد لېرې پرتو کلیو ته لیږدوي چې سوداګریزو کړنو څخه ګټه پورته کوي. دغه سوداګر اومه مواد ،میوې،لاسي مصنوعات او څاروي ښارونو ته عرضه کوي او په بدل کې مصرفي سوداګریز توکي اړوندو سیمو ته لیږدوي.

کورنۍ سوداګري هغې سوداګرۍ ته ویل کیږي چې د یو هېواد د وګړو ترمنځ تر سره کیږي.د بیلګې په توګه د لغمان او روزګان د ولایتونو د وګړو تر منځ د توکو او چوپړتیاو تبادلې ته کورنۍ سوداګري ویل کیږي.کورنۍ سوداګري لاندې ځانګړتیاوې لري:

i. کورنۍ سوداګري د هیوادونو تر بازارونو محدوده وي.
ii. په دې سوداګرۍ کې راکړه ورکړه په کورنیو پیسو کیږي.
iii. په ټولیز ډول دغه سوداګري په داخلي توکو راڅرخي خو کله کله بهرني توکي هم رانغاړي.
iv. د هیواد ټولو سوداګرو ته یو رنګه اسانتیاوې د حکومت له خوا برابریږي.
v. په کورنۍ سوداګرۍ کې حکومت ډېره لاسوهنه نکوي، خلک په سوداګرۍ کې خپلواک وي.

## کورنۍ سوداګرۍ ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





c) ټول پلوري **Whole sale Trade**: په لومړیو وختونو کې توکي په لږه پیمانه تولیدیدل. کمپنیو به خپله توکي مصرفوونکو ته ورکول چې د هغوي ترمنځ استازي شتون نه درلود. لیکن د وخت په تیریدو سره دصنعت په برخه کې پرمختګ رامنځته شو، چې ورسره د توکو د تولید په برخه کې هم زیاتوالي راغی چې اوس نو کمپنیو نشوکولای مستقیما توکي مصرفوونکو ته ورسوي. نو له همدې کبله کمپنۍ توکي په ډیره پیمانه پر ټول پلورونکو، پلوري ترڅو هغوي یې پر ټوک پلورونکو، وپلوري او مصرفوونکو ته یې ورسوي. ټول پلوري د کورنۍ سوداګرۍ هغه ډول دی چې توکي په لویه پیمانه له کمپینو پیري او په کوچنۍ پیمانه یې په ټوک پلور، پلوري. د ټول پلورۍ لپاره باید داسې ځای وټاکل شي ترڅو توکي په اسانۍ له کمپنۍ تر لاسه او په اسانۍ یې ټوک پلورو، ته ورکړي. ټول پلورۍ دې ته اړنه دی چې د ټوک پلوري په څېر د ښار یا بازار په منځ کې ځای ونیسي. د ټول پلوري ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

i. په ټول پلورۍ کې توکي په ډیره پیمانه له کمپنیو اخیستل کیږي او د اړتیا له مخې په ټوک پلورو پلورل کیږي.

ii. ټول پلوري په عمومي ډول یو ډول توکي پیري او پلوري یې چې کیدای شي بیا دغه توکي نور ډولونه ولري. لکه دارو چې دارو بیا خپل ډولونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





iii. ټول پلوري په عمومي ډول ځايونه په لويو لويو سوداګريزو مرکزونو کې جوړوي.

iv. ټول پلوري د توکو له پېر څخه وړاندې کمپنيو ته پيسې ورکوي.

v. په ټول پلورۍ کې توکي معلوم قيمت لري چې د پير په وخت کې د قيمت جګ والي او ټيټ والي غوښتنه د وخت ضايع کول دي.

vi. له ټول پلوري سره مالي وسايل ډيروي نو ځکه توکي په ډيره پيمانه پيري.

d) ټوک پلوري **Retial Trade**: د کورنۍ سوداګرۍ په دې ډول کې توکي په کوچنۍ پيمانه پيرودل او پلورل کيږي.ټوک پلوري توکي له ټول پلورو څخه د خلکو د اړتيا له مخې پېري او مصرفوونکو ته يې رسوي چې د ټول پلورو او مصرفوونکي ترمنځ اړيکه ټينګوي. ټوک پلوري لاندې ځانګړتياوې لري:

i. ټوک پلوري له مصرفوونکو سره مخامخ په اړيکه کې وي.

ii. ټوک پلوري د توکو بيلابيل ډولونه پلوري، چې له هر توکي څخه ورسره په لږه پيمانه شتون لري.

iii. ټوک پلوري عموما خپل مرکز د عامو خلکو د اوسيدو سره نژدې جوړوي.

iv. د ټوک پلورو ټول کاروبار په نغده ډول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. یو تېوک پلورونکی باید له ښو اخلاقو کار واخلي. ځکه تېوک پلورنکی له مشتریان سره مخامخ په اړیکه کې وي.



• بهرنۍ سوداګري ForignTrade: د تاریخ په لومړیو وختونو کې د انسانانو اړتیاوې ساده وې. نو له همدې کبله انسان تر ډېر بریده پر ځان بسیا و .کله چې انسان پرمختګ وکړ، د انسانانو په اړتیاو کې زیاتوالی راغی د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره نورو ته اړ شو، چې دغې اړتیا سوداګري رامنځته کړه. سوداګري له کورنیو پیل شوې تر بیلا بیلو ټبرونو پورې ورسیده د وخت په تیریدو سره د انسانو په اړتیاو کې دومره زیات والی راغلی چې ټبرونه خو لا څه چې او سمهال ډېر پرمختللي هیوادنه هم نشي کولای چې د خپلو خلکو اړتیاوې پوره کړي. د خپلو خلکو د اړتیاو د پوره کولو لپاره نور هیوادنو ته اړ شول، تر څو له هغو هیوادنو چې یو توکي له خپلو اړتیاو زیات تولیدوي خپل هیواد ته وارد کړي. همدلته نړیواله یا بهرنۍ سوداګري رامنځته کیږي.موډرنې ټیکنالوژۍ نننۍ نړۍ سره ډیره کوچنۍ او نژدې کړې ده. نن د نړۍ ټول ملتونه په یو ډول په خپلو کې اقتصادي پیوند لري. بهرنۍ سوداګرۍ د بیلا بیلاو هیوادنو د ملتونو او خلکو په پیوند ورکولو کې ارزښتناک اهمیت لري. دغه سوداګري د بیلا بیلو هیوادنو تر منځ د توکو او چوپړتیاو د مبادلې څرنګوالی، پرته له عامل او واسطې په پام کې نیولو څخه تر غور لاندې نیسي، څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library





چې وړاندې وويل شول د نړۍ د بيلا بيلو هيوادونو تر منځ د سوداګرۍ موضوع په اروپا کې 15او 18 ميلادي پيړيو کې د مرکنتالستانو زمانه کې مطرحه شوه.په هغې زمانې کې عقيده دا وه چې د هر هيواد ګټه به په دې کې وي چې صادرات يې ډير او واردات يې کم وي، هغوي د هيواد اقتصادي وضع او حالت د ښه کولو لپاره د ګمرکي قوانينو او خنډونو وضع کولو پلويان ول هغوی دا استدلال کاو ،که يو هيواد په دې بريالی شي چې خپل صادرات زيات او واردات کم کړي نو کولای شي سره زر او سپين زر لاسته راوړي او په پای کې دهيواد اقتصادي وضعه د کورنيو توليداتو د اندازې د زياتوالي له لارې ښه کړي ولې دغه سياست د اتلسمې پيړۍ په نيمايي کې د اقتصاد پوهانو تر سختو نيوکو لاندې راغی. ډيويډهيوم پر دې عقيده و که سره زر او سپين زر واردول په لنډه موده کې ګټور تماميږي او په اوږدې موده کې کيدای شي د اقتصادي زيانونو سبب شي.د بيلګې په ډول د سرو زرو زياتوالي په اقتصاد کې د ډېرګرځښت (راکړې ورکړې) او په پايله کې د توکو د بيې اوچتيدو سبب کيږي،هغه څه چې مونږ ورته نن ورځ انفلاسيون يا د پيسو پړسوب وايو.

ايډم سميت چې دا اقتصاد د علم د پلار په نامه مشهور شوی دی اود ملتونو پانګې مشهور کتاب ليکوال هم دي، د هغوی نظريې تر سختو نيوکو لاندې نيولي ده او پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقیده و چې ټول زیدخله هیوادونه له سوداګرۍ څخه ګټه وړي. استدلال یې کاو چې د ګمرکي خنډونو لېرې کول او د ازادې سوداګرۍ ټینګول د ټولو زیدخلو هیوادنو په ګټه تمامیږي.

ایډم سمیت پردې عقیده و چې د هیوادونو ترمنځ ازاده سوداګري به د کار دویش ډول ښه کړي او هیوادونه به وهڅوي تر څو خپل توان اوشته د هغو توکو په تولیدمتمرکز کړي چې هغه دنورو هیوادونو په پرتله ارزانه تمامیږي. همدارنګه هغه به ویل:د توکو بیو ترمنځ توپیر د هغو د وړلو او راوړلو سبب کیږي.

ایډم سیمت پردې عقیده و چې د تولید لګښت د بیو د ټاکلو ډیر اړین عامل جوړوي. له همدې امله (مطلق مزیت)نظریه رامنځته کړه په دې استدلال سره چې یو هیواد د هغو توکو په تولید کې تخصص پیدا کوي چې دهغه په تولیدکې مطلقه لوړتیا ولري. د ایډم سمیت خلاف ډ یویډریکارډو د کلاسیک اقتصاد پوه استدلال کاو، که یو هیواد د ټولو توکو په تولید کې له نورو هیوادونو مطلقه لوړتیا هم ونلري کولای شي له بهرنۍ سوداګرۍ څخه ګټه پورته کړي چې ریکارډو د نسبي ګټې نظریه رامنځته کړه. د دې نظریې په اساس که یو هیواد د اړتیا وړ توکو په تولید کې نظر نورو هیوادونو ته مطلق مزیت ونلري کولای شي له دغه هیواد

(c) ketabton.com: The Digital Library





سره د سوداګرۍ په ټينګولو سره ګټه پورته کړي. د بيلګې په توګه که لومړنۍ هيواد کولای شي خپل توان او شته د هغو توکو په توليد پورې متمرکز کړي چې د هغه توليد کې لږه لوړتيا ولري او هغه بل هيواد ته صادر کړي او ډيره ګټه لاسته راوړي، نن ورځ هم د ريکارډو دغه نظر ډير لږ بدلون سره د اقتصاد د علم په بهير کې ډير مهم نظر ګڼل کيږي.

بهرنۍ سوداګرۍ د تاريخ په اوږدو کې ډيرې لوړې او ژورې تيرې کړي دي.زيات شمير هيوادونو نړيواله سوداګرۍ دزياتې پانګې د لاسته راوړلو او په نورو هيوادنو کې د هغو نفوذ پراخيدو او په پای کې د هيوادونو د لاندې کولو د يوې موډرنې لارې تعقيب کولو د وسيلې په توګه استفاده کړې زياتو نورو هيوادونو چې ځان يې په کمزورې موقعيت کې ليد ، هڅه يې کوله چې په هر ډول چې ممکن وي د مقتدرو هيوادنو د نفوذ په وړاندې ودريږي.دغو هيوادونو ازاده سوداګرۍ په خپل زيان وبلله له بلې خوا ازادې سوداګرۍ د سيالۍ ستونزه رامنځته کړه ځکه د نړۍ صنعتي هيوادونو په موډرنو توليدي صنايعو او ښو ټرانسپورټي وسايلو لرلو سره تل دا هڅه کوله چې دنړۍ بازارونه تر خپلې ولکې لاندې راولي او د کمزوروواوبېرته پاتې هيوادو دځوان صنعت لپاره شرايط سخت کړي.نړيواله سوداګري کولای شو په لاندې ډول تعريف کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیواله سوداګري هغه سوداګري ده، چې د دوو هېوادونو د سوداګرو تر منځ پکې د توکواو چوپړتیاو تبادله صورت نیسي یا په نړیواله سوداګرۍ کې د نړۍ بیلا بیل هیوادونه توکي او چوپړتیاوې تبادله کوي.



همدارنګه ار. پي .جونز نړیواله سوداګري داسې تعریف کړیده:نړۍ واله سوداګري د نړۍ د بیلا بیلو هیوادنو تر منځ د توکو په پیرا او پلور پورې اړه لري.

د نړیوالې سوداګرۍ د رامنځته کیدو سببونه:د نړیوالې سوداګرۍ د رامنځته کیدو اصلي عامل د انسانانو اړتیاوې دي. ځکه که د انسانانو اړتیاو شتون نه درلود نو نړیواله سوداګري هم نه رامنځته کیده. دا چې نړیواله سوداګري د انسانانو اړتیاوې څنګه پوره کوي د یو شمیر وسایلو نه شتون په هیوادنو کې. د بیلګې په توګه افغانستان ډیره ښه وچه میوه لري. هغه هیودوانه چې وچه میوه نلري له افغانسانه یې واردوي تر څو دخپلو خلکو اړتیاوې پوره کړي.همدارنګه ځیني هیوادونه په ځانګړو توکو کې طبیعي انحصار لري،لکه د عربو هیوادونونه چې نفتي مواد لري د نړۍ نور هیوادونه مجبور دي تر څو له عربي هیوادونو نفت ترلاسه او خپلې اړتیاوې په پوره کړي.

همدرانګه په نړۍ کې بعضې هیوادونه کرنیز وي، بعضې کانونه ،بعضې ډیر ښه موقعیتونه لري چې د نړۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library





هیوادونو سره اړیکي ونیسي او د خپلو خلکو اړتیاوې پوره کړي.له بلې خوا په نړۍ کې داسې توکي هم شته چې یو هیواد کولای شي په ډیر مناسب قیمت یې تولید کړي، نسبت نورو هیوادونو ته هغه هیوادونو نه چې دغه توکي نسبت دې هیواد ته په لوړ قیمت توکي تولیدوي، خپله تولید نه کوي له دې هیواد څخه یې واردوي چې نړیواله سوداګري په همدې شکل هم رامنځته کیږي.نړیواله سوداګري لاندې ډولونه لري:

**1-صادراتExport:** له صادراتي سوداګرۍ څخه موخه هغه سوداګري ده چې یو هیواد خپل تولیدات بل هیواد ته د پلور لپاره لیږدوي.صادراتی سوداګري په لاندې ډول تر سره کیږي:

- صنعت کار: صنعت کار بعضې وخت په خپله خپل توکي صادوري کله چې صنعت کار د مقابل هیواد د سوداګرۍ له لوري د پیرودلو غوښتنلیک تر لاسه کړي له هغې وروسته توکي نوموړي سوداګر ته استوي.اوسمهال په نړۍ کې لویې لویې صنعتي فابریکې صادراتي څانګې لري چې د خبرتیاو ،سفري استازو او نورو لارو په وسیله په بهرنیو هیوادونو کې مشتریان پیدا کوي.
- صادراتي سوداګر:بهرنۍ سوداګرۍ په ډیرۍ وخت د صادراتي سوداګرو په وسیله تر سره کیږي.صادراتي سوداګر په هیواد کې له صنعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارانو توکي پیري او بیا یې په بهرنیو هیوادونو کې د استازو په وسیله پلوري.

- لیږد استازي:د لیږد استازي د بهرني سوداګر په لارښوونه کار کوي.د لیږد استازي د پېر او پلورکار سرته نه رسوي، بلکې د توکو د لیږد چوپړتیاوې تر سره کوي چې په مقابل کې بدله اخلي.
- د واردونکو دفتر:بعضې وخت وارداتي سوداګر په صادراتي هیواد کې خپل دفتر پرانیزي چې د دفتر کارکوونکي د خپل امر په لارښوونه توکي پیري او واردونکي سوداګر ته یې استوي.



**2- وارداتImport:** وارداتي سوداګري هغې سوداګرۍ ته ویل کیږي چې یو هیواد له نورو هیوادنو توکي پیري.او په لاندې ډول تر سره کیږي:

- ټول پلوری سوداګر: ټول پلوری سوداګر توکي مستقیما له بهرني هیواد څخه واردولای شي چې دا طریقه د صادرونکي او واردونکي تر منځ د لیک په وسیله صورت نیسي.
- د پیرودلو بهرنی دفتر: ډیري وختونه واردونکي سوداګر په صادرونکي هیواد کې دفتر پرانیزي چې د هماغه دفتر له لارې توکي واردوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**په افغانستان کې د سوداګرۍ تاریخچه:** سوداګري زموږ په لرغوني هیواد کې اوږد تاریخ لري په ډیرو لرغونو زمانو کې افغانستان د وریښمو لویې لارې په اوږدو کې پروت و چې ختیز او لوید یز یې سره تړلي ول.

دامیر عبدالرحمان خان تر دورې پورې په افغانستان کې سوداګري د باري ښارویو (اوښ، اس، خر، کچر) په وسیله تر سره کیده. د هیواد پراخو دښتو او دنګو غرونو د توکو وړل او راوړل ستونزمن کړي ول. ولې د نولسمې پیړۍ په وروستیو کې د لویو ټرانسپورټي لارو او د ریل پټلیو غځولو پراختیا او جوړونه د روسانو په وسیله په مرکزي اسیا کې او د بریتانویانو له خوا د هند نیمې وچې د پنجاب (پاکستان) کې د انسانانو او سوداګریزو توکو وړل او راوړل اسانه او د سوداګرۍ بڼې ته بدلون ورکړ. دغه بدلون د افغانستان د خلکو لپاره ډیرې ناوړې اغیزې پریښوولې په داسې ډول سره چې افغانستان د روس او انګلیس تر منځ د لویې لوبې(Great Game) په میدان بدل شو. په پایله کې د ډیورنډ کرښې افغانستان له بریتانوي هند څخه جلا کړ. په حقیقیت کې دغې کرښې د هیواد ولایتونه او قبایل له یو بل څخه جلا کړل او زیات شمیر قبایل یې د کورنۍ جګړې، سوداګرۍ او قاچاق په موخه مصروف وساتل. د بریتانیې د سیاست ښه بیلګه" ببل یې کړه ایل یې کړه. "له بلې خوا دغه لویې لارې د اړوندو هیوادنو او قبایلو لپاره یې د سوداګرۍ او زیاتې ګټې اخیستنې امکان رامنځته کړ. د هیواد

(c) ketabton.com: The Digital Library





پخوانیو پاچاهانو لکه امیر عبدالرحمان خان، حبیب الله خان او غازي شاه امان الله خان سره له دې چې غوښتل یې افغانستان د سوداګرۍ له لارې په یوه متمدن هیواد باندې بدل کړي، مګر د لویو لارو او د ریل د کرښو له پراخیدو سره چې هیواد یې له استعمارګرو ګاونډیانو روس او انګلیس سره وصل کاو ډډه کوله.

امیر عبدالرحمان خان ویل:افغانستان یو وزګوړي ته پاتې کیږي چې زمري او خرس دواړو هغه ته د حریص سترګې نیولي دي. دا ویره د دې سبب شوه چې افغانستان د ښو ټرانسپورټي لارو او د ریل د کرښې له لرلو څخه بې برخې پاتې شو.حال دا چې نړۍ د تمدن لوړې پوړۍ ته رسیدلې وه ولې تر اوسه پورې اس ،خر او اوښ د ډیرو ښو ټرانسپورټي وسیلو په څیر د هیواد په ډیرو سیمو کې ګټل کیږي.

په 1950-1970میلادي کلونو کې افغانستان دیوې پخې حلقوي لارې څښتن شو چې هیواد یې په چمن ،کندهار او تورخم کې له پاکستانه سره ،د هرات له لارې ترکمنستان او ایران سره او په بلخ کې د حیراتان بندر او په کندوز کې د شیرخان بندر له لارې له پخواني شوروي اتحاد سره وصل کړ. د کابل -کندهار لویه لار د امریکا متحده ایالاتو په مرسته، د سالنګ مشهوره لویه لار د پخواني شوروي اتحاد په مالي او تخنیکي مرسته جوړې شوې.روسیې د ننګرهار ـ کابل اوکندهارـتورغونډۍ لویو لارو په جوړولو کې هم اساسي رول درلود.افغانستان یو

(c) ketabton.com: The Digital Library





غرنی او په وچه پورې تړلې هیواد دی چې له بهرنۍ نړۍ سره د سوداګرۍ لپاره د ګاونډیو هیوادونو همکارۍ ته سخته اړتیا لري.

له 1920میلادي کال څخه مخکې د هیواد سوداګرو خپل سوداګریز توکي د ننګرهار له لارې پېښور ته او له هغه ځایه کراچۍ ته لېږدول او د بېړۍ په وسیله یې نورو هیوادنو ته صادرول.په 1920میلادي کال کې د بریتانیې د همکارۍ نه کولو په دلیل افغانستان مجبور شو چې د خپلې سوداګرۍ لوري د پخواني شوروي اتحاد خوا ته بدل کړي. په هغه وخت کې افغانستان په دې بریالی شو تر څو د سوداګرۍ تړون له روسیې سره لاسلیک کړي چې دهغې په اساس دا هیواد کولای شي خپل سوداګریز توکي پرته له ګمرکي محصول څخه د شوروي اتحاد دجمهوریتونو له لارې بهرنۍ نړۍ ته ولېږدوي. په پایله کې د افغانستان ترانزیټي لارو د هرات په شمال کې د تورغونډۍ ،بندر، حیراتان په بلخ کې او شیرخان بندر په کندوز کې پراختیا پیدا کړه او زیات افغاني سوداګریز توکي د دغو پولو له لارې او دشوروي اتحاد په اورګاډو کې اروپا ته رسیدل. د شوروي اتحاد له ړنګیدو وروسته اود ګډو ګټو مستقلو هیوادنو اتحاد له رامنځته کیدو سره دغه سوداګریزې اړیکې له زیاتو ستونزو سره مخ شوې. دغه ستونزې وروسته له دې چې طالبانو د هیواد شمال سیمې تر کنټرول لاندې راوستلې ډیرې جدي شوې. د شپېتمې میلادي لسیزې په کلونو کې افغانستان د سوداګرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library





یو ټرانزیټي تړون د پاکستان له هیواد سره لاسلیک کړ چې د هغه په اساس افغاني سوداګریز توکي د کراچۍ د بندر له لارې او د پاکستان له خاورې څخه په تیریدو ، پرته له ګمرکي تعرفې څخه افغانستان ته واردات وکړي او دهیواد صادراتي توکي نورې نړۍ ته له همدې لارې صادر کړي.

له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته کله چې د لویې لوبې ځای (سړې جګړې) ونیو افغانستان له پاکستان سره ډیرې ستونزې پیدا کړې، چې په پایله کې د دواړو هیوادنو سوداګریزو اړیکو ښه پرمختګ ونکړ. د پښتونستان او ډیورنډ د کرښې مساله د دې سبب شوه چې افغانستان ډیر په روسیې تکیه وکړي. روسیانو د هند سمندر ګرمو اوبو ته د رسیدو په موخه د افغانستان د لویو لارو په جوړولو کې مرسته وکړه.

امریکایانو چې غوښتل یې د روسیانو نفوذ د هندوکش د غرونو په حدودو کې وساتي،د کابل - کندهار لویه لارېې جوړه کړه.

سردار محمد داود خان غوښتل چې په هیواد کې د روسیانونفوذ را کم کړي نود ایران له پاچاهانو سره یې ډیرې نژدې اړیکي رامنځته کړل.په 1974کال کې ایران او افغانستان د ټرانزیټ د سوداګریز تړون لاسلیک کړ.دغه تړون افغاني سوداګرو ته اجازه ورکړه تر څو په اسلام کلا او مشهد کې د وراغو له پولو او بندر عباس له لارې د فارس

(c) ketabton.com: The Digital Library





**خلیج ته ورسیږي او خپل سوداګریز توکي له دې لارې د خلیج هیوادنو ته ولیږدوي.**

په 1975 میلادي کال کې د ایران پاچا له بندر عباس څخه تر کابله پورې د اورګاډي پټلۍ د غځولو په موخه (2بیلونه )امریکایي ډالرو ژمنه وکړه. دغه پټلۍ یا کرښه له غزني ولایت څخه تیریدله او ایران یې له کابل سره وصلاو. دا هغه ژمنه وه چې هیڅ کله پوره نه شوه ځکه 1979میلادي کال کې روسیانو افغانستان اشغال کړ.نور نو نه شهید سردار محمد داود خان په افغانستان کې او نه هم د ایران پاچا په ایران کې واکمن پاتې شول. د ایران د پاچاهۍ نظام د امام خمیني تر لار ښوونې لاندې د اسلامي اوښتون په وسیله رانسکور شو. په پایله کې یې له غربي ګاونډي سره هم سوداګرۍ پراخیدو امکان پیدا نکړ. دغه بهیر د جګړو په کلونو کې بدلون وکړ.په داسې ډول سره چې د سوداګریزو اړیکو انډول په بشپړه توګه بدلون پیدا کړ. نور د هیواد په سوداګرۍ کې د شمال ګاونډیانو رول هغومره نه و چې له ختیزواو لویدیزو هیوادونوسره یې پیدا کړ. پاکستان د میلونو افغان کډوالو په منلو سره اودې کډوالو ته د اقتصادي کړنو په اجازت ورکول سره د افغانستان په سوداګرۍ کې اساسي رول پیدا کړ. که څه هم په دغې موده کې پاکستان د ترانزیټ سوداګري د تړون مراعت نه کاواو د خوراکي توکو صادرول یې له پاکستان څخه افغانستان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library





منع کړه، ولې بیا هم دغه هیواد تل د افغانستان لپاره د یوازینۍ سوداګریزې لارې په توګه پاتې شو. نن ورځ هم چې شرایط دومره ښه نه دي او د افغانستان حکومت هم تر اوسه په دې ندی توانیدلی تر څو خپل اقتصادي بنسټونه پیاوړي کړي، پاکستان او ایران د دوو سوداګریزو ګاونډیانو په توګه د هیواد په سواګریزه راکړه-ورکړه کې ستر رول لري.

افغانستان اوسمهال 6766میلونه نړیواله سوداګري لري چې ٪94.4 واردات او ٪5.6 صادرات جوړوي. د هیواد مهم صادراتي توکي له تازه او وچې مېوې، مساله جاتو، پوستکي، وړۍ، پنبې ،غالۍ، ګیلم څخه عبارت دي او د هیواد واردات له ماشین الاتو، تجهیزاتو، نفتي موادو، کیمیاوي موادو، جوړوني موادو، کاغذ، غذایي موادو، مشروباتو او نورو څخه عبارت دي.

افغانستان اوسمهال له پاکستان، هندوستان، ایران، چین، روس، امریکا، جرمني، انګلستان، تاجکستان، ترکمنستان، ترکیه، مصر، دوبۍ، سعودي عربستان او یو شمیر نورو هیوادونوسره سوداګریزې اړیکې لري.

B-د سوداګرۍ مرستیالان:Aids to Trade د کامرس دویمه برخه د سوداګرۍ مرستیالان دي یاني هغه وسایل چې د سوداګرۍ په پرمختګ کې پوره ونډه لري او دهغوی په وسیله سوداګري اسانه ترسره کیږي.د سوداګرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستیالان ټول هغه وسایل چې توکي له تولیدونکي څخه مصرفوونکو ته رسوي د سوداګرۍ مرستیالان بلل کیږي چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:



- ټرانسپورټ **Transportation**: په لرغونو زمانو کې د توکو لیږد له یو ځای څخه بل ځای ته ډیرې ستونزې لرلې. سوداګرو په وحشي حیواناتو توکي له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدول. په سمندرونو کې داسې بیړۍ وې چې د باد په وسیله یې خوځښت کاوچې ډیري وخت به یې د هوا د ښه والي لپاره انتظار کاو.سړکونو شتون نه درلود. د دې تر څنګ چې د لیږد وسایل سست ول، خوندي هم نه ول نو له همدې کبله د توکو لیږد له یو ځای څخه بل ځای ته ستونزمن و. که په کوم هیواد کې لوږه راتله نو دبل هیواد خلکو به ورسره نشو کولای چې مرسته ورسره تر سره کړي.په نړۍ کې د نویو پرمختګونو سره نه یوازې داچې د توکو په تولید کې زیاتوالی راغلی بلکې د لیږد وسایلو هم پرمختګ موندلی دی.پخوا به چې کوم واټن په څو ورځو کې وهل کید او سمهال په ورځ یا څو ګړیو کې تر سره کیږي.د نویو وسایلو په رامنځته کیدو سره انسان په دې وتوانید ، هغه ستونزې چې د لیږد رالیږد په برخه کې وې له منځه یوسي،له تولیدونکو څخه توکي په اسانۍ مصرفونکو ته ورسوي. که توکي د نړۍ په هر ګوټ کې تولید شي. په اسانۍ د نړۍ بلې برخې ته لیږدول کیږي.لیږد وسایل د هیوادونو په صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library





،سوداګريز او کرنيزو پرمختګونو کې اساسي ونډه لري. د ليږد يوه ښه وسيله لاندې ځانګړتياوې لري:

I. هوسا: د ليږد وسيله بايد ارامه او د سفر لپاره ستړې کوونکې نه وي.

II. خوندي: د ليږد وسيله بايد خوندي يانې په خوندي ډول بايد توکي او انسانان له يو ځای څخه بل ځا ي ته وليږدوي.

III. ګړندی: د ليږد وسيله بايد ګړندۍ هم وي ځکه اوسمهال د وخت اهميت لا ډير شوی تر څود خلکو په وخت کې سپما رامنځته شي.

IV. پراخه: د ليږد وسيله بايد پراخه وي تر څو ډير توکي په مناسب قيمت وليږدوي او د خلکو ستونزې حل کړي.

V. روان: د ليږد وسيله بايد هر وخت روانه وي خنډ ونلري تر څو کاروبار اغيزمن نکړي او هر وخت چې وغواړي تر لاسه يې کړي.

د ټرانسپورټ ډولونه: په عمومي ډول ټرانسپورټ درې ډولونه لري چې عبارت دي له :1-ځمکنۍ 2-اوبنی 3-هوايي، چې هر يو يې په ترتيب سره تر څيړنې لاندې نيسو:

1-ځمکنۍ: هغه وسيلې چې توکي د ځمکې پر مخ له يو ځای څخه بل ځای ته ليږدوي، ځمکنی ټرانسپورټ بلل کيږي. له ځمکني ټرانسپورټ څخه له ډيرې لرغونې وخت راهيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار اخیستل کیږي. هغه وسایلو چې د تاریخ په اوږدو کې د ځمکني ټرانسپورټ دنده ترسره کړې په لاندې ډول دي:



A. بشر یا انسان: هر هغه انسان چې توکي له یو ځایه بل ځای ته لیږدوي جوالي بلل کیږي. جوالي د ژوند په لومړیو وختونو کې ډیر اهمیت لرلو چې اوس هم د نړۍ په بیلابیلو هیوادونوکې د توکو په لیږد کې له جوالي کار اخیستل کیږي.له جوالي څخه ډیری وخت په هغو سیمو کار اخېستل کیږي چې ګڼه ګوڼه پکې ډیره وي. له بلې خوا له جوالي څخه هغه وخت هم کار اخېستل کیږي چې د توکو د لیږد واټن لنډ وي.

B. څناور: د نړۍ په ځینو هیوادونو کې څناور هم د لیږد دوسیلې په توګه کارول کیږي، چې د څناورو کارول په دوو بڼو صورت نیسي: په لومړۍ بڼه کې د څناور په شا توکي لېږدول کېږي. په دویمه بڼه کې لومړي په څناور پسې یو څیز تړي په تړل شوي څیز کې توکي اچوي او ځانګړي ځای ته یې لیږدوي چې په دې بڼه کې څناور تر سلو کیلو ګرامو ډیر توکي لیږدوي چې دا ډول ټرانسپورټ په اکثره کلو باندو کې ډیر کاریږي او ګټور هم دی.

C. لاری او ویګن: لاری او ویګن د ساینسي پرمختګ لاسته راوړنه ده. د لاری او ویګن په رامنځته کیدو سره د تولیدونکو او مصرفونکو تر منځ واټن بېخي له منځه ولاړ، ځکه د لاری او ویګن په وسیله مونږ کولای شو په ډیره

(c) ketabton.com: The Digital Library





پیمانه توکي له یو ځایه بل ځای ته ولیږدو. د لیږد دغه وسیله له اورګاډي هم بهتره ده ځکه د لارۍ او ویګن په وسیله مونږ کولای شو توکي د پلورنکي تر هټۍ ورسوو حال دا چې اورګاډي توکي یوازې تر خپل تمځي پورې وړي.لوی کاروبار لرونکو خلکو دخپلو توکو د لیږد لپاره لارۍ او ویګنې رانیولې دي، تر څو له یوې خوا د لیږد رالیږد له لګښتونو څخه خلاص او له بلې خوا توکي په خپل وخت ولیږدوي.

D. اورګاډي:د براسي ماشین په رامنځته کیدو سره اورګاډی هم رامنځته شو چې اوسنیو وختونوکې د لیږد له لویو وسیلو څخه شمیرل کیږي.د اورګاډي د چلولو لپاره اوسپنیزو لارو ته اړتیا ده چې د دغو اوسپنیزو لارو جوړول پر هواره ځمکه اسان دي خو په غرونو او جګو ځایونو کې ډیر سخت او له خطر نه ډک کار دی.

E. نلیکه (پایپ لاین): نلیکه د اوبلنو غازي توکو یانې ګیس،تیلو د لیږد تر ټولو بهترینه وسیله ده ځکه د نلیکې په وسیله مونږ په اسانۍ سره مایع توکي له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدولای شو. د نلیکې لپاره سړک ته اړتیا نشته ،په هررنګه هوا کې لیږد صورت نیسي، د لیږد یو ګړندۍ وسیله ده چې د مایع توکو په لیږد کې ځانګړی اقتصادي اهمیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





F. پوسټ خونې: د پوسټ خونو په وسیله هم مونږ د لیږد ځینې چوپړتیاوې تر سره کوو.چې د پارسلونو په وسیله توکي له یوه ځایه بل ځای ته توکي لیږدوي.

- اوبنی ټرانسپورټ:هغه وسایل چې توکي په اوبو کې لیږدوي د اوبني ټرانسپورټ په نامه یادیږي.په دغه ډول ټرانسپورټ کې له لویو ، کوچنیو بیړیو او اوبتلونو څخه کار اخیستل کیږي چې توکي په ډیره پیمانه له یو ځای څخه بل ځای ته په مناسب قیمت او خوندي ډول لیږدوي.
- هوایي ټرانسپورټ:هغه ټرانسپورټ چې توکي د هوا په وسیله له یوه ځایه بل ځای ته لیږدوي د هوایي ټرانسپورټ په نامه یادیږي. د ژوند په لومړیو وختونو کې یوازې انسانانو له هوایي ټرانسپورټ څخه کار اخیست لیکن د وخت په تیریدو د توکو د لیږد لپاره هم کارول کیږي چې د لیږد تر ټولو ګړندۍ وسیله ده. د قیمت په لحاظ تر ټولو لوړ قیمت لري لیکن د قیمتي توکو د لیږد لپاره بهترینه وسیله ده.

د کامرس په پرمختګ کې د ټرانسپورټ ونډه:د هیوداونو اقتصادي پرمختګ او بهبود دلیږد رالیږد په وسایلو پورې تړاو لري. کوم هیوادونه چې د لیږد رالیږد پرمختللي وسایل ولري په اقتصادي،سیاسي ، ټولنیزاو دفاعي لحاظ هومره پیاوړي وي.د لیږد رالیږد په ښو وسایلو مونږ کولای شو خپل بیکاره وسایل په کار واچوو. د توکو په صادراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library





کې ترې ګټه پورته کړو،توکي تر مصرفوونکو پورې ولیږدوو.وارد شوي توکي تر خپلې موخې ورسوو. د خلکو په تګ راتګ کې ترې ګټه واخلو، چې له دې سره په نړیواله سوداګرۍ کې پرمختګ رامنځته کیږي. د لوړې په صورت کې توکي په اسانۍ سره رسول کیږي. د توکو په ژر لیږد کې د وخت سپما رامنځه کیږي. توکي له خرابیدو ساتل کیږي. په لګښتونو کې کموالی راځي او د لیږد رالیږد په وسیله د توکو په تولید کې ډیر والی سرې سر عاید ډیروي. پورتنۍ ټولې کړنې چې د ټرانسپورټ په وسیله تر سره کیږي د کامرس په پرمختګ کې اساسي ونډه لري.

په افغانستان کې ټرانسپورټ: د افغانستان جغرافیوي موقعیت په نظر کې نیولو سره د اسیا د لویې وچې په مرکز کې پروت هیواد دی چې له ډیرو لرغونو زمانو راهیسې د ختیز او لویدیز په سوداګرۍ کې اړینه ونډه لري. له میلاد څخه څلور پیړۍ دمخه د سکندر په وخت کې د هند او یونان ترمنځ سوداګري د افغانستان له لارې تر سره کیده. افغانستان دیونانیانو اوباختري شاهانو په وخت کې د سوداګرۍ په برخه کې ځانګړي اهمیت درلود. بلخ د وریښمو او مساله جاتو د لارو په مرکز کې پروت و او دغه ښار د چینایي او هندي توکو د تبادلې مرکزهم و همدرانګه د وریښمو لار چې ختیزیې له لویدیز سره نښلاو زموږ له هیواده تیریده چې هغه مهال وریښمو ډیر ارزښت درلود او

(c) ketabton.com: The Digital Library





له همدې لارې د هیواد تولیدات د ختیز او لویدیز بازارونو ته لیږدول کیدل.د افغانستان دغه سوداګریز اهمیت د چنګیز یرغل ،په اروپا کې د وریښمو د چینجیو روزنې دود ، همدارنګه په اروپا کې د بحري لارو کشفولو او عصري وسایلو رامنځته کولو اغیزمن کړ.تر اوسه چې په نړۍ کې کوم اقتصادي پرمختګونه رامنځته شوي یو عامل یې ټرانسپورټي وسایل دي.په افغانستان کې تر کال 1930میلادي پورې د توکو لیږد رالیږد د حیواناتو له لارې صورت نیو خو کله چې نړۍ د پرمختګ څوکو ته ورسیده په افغانستان کې هم د ټرانسپورټ په برخه کې یوشمیر پرمختګونه وشول. د هیواد لویې لارې جوړې شوې افغانستان اوس مهال 3363کیلومتره لویې لارې،4884کیلومتره سیمیزې لارې،9656 کیلومتره ولایتي سړکونه او 17000کیلومتره کلیوال سړکونه لري. په دویم قدم کې په افغانستان کې هوایي ټرانسپورټ ته پاملرنه وشوه. په افغانستان کې د هوایي ټرانسپورټ په برخه کې د لومړي ځل لپاره یوه اداره د هوانوردۍ د تنظیم په موخه د بهرنیو چارو په وزارت کې جوړه شوه چې وروسته دغه په مدیریت بدله شوه او د هوایي ځواکونو په چوکاټ کې راغله. په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د هوانوردۍ کړنې په کال 1306هـ ش کې پیل چې په همدې کال د شوروي اتحاد یوې کوچنۍ الوتکې په میاشت کې دوه ځله د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library





او ترمز تر منځ الوت (پرواز) پیل کړ. په افغانستان کې په لومړي ځل په کال1333هـ ش کې د اریانا افغان هوایي شرکت تاسیس شو چې او سمهال یو شمېر نور شرکتونه لکه صافي، کام ایر، شرکتونه په افغانستان کې کورني او بهرني پروزاونه تر سره کوي. د افغانستان دوه نړیوال هوایي ډګرونه(کابل، کندهار) لري او دهیواد په کچه یو شمیر نور هوایي ډګرونه هم شتون لري چې عبارت دي له:ننګرهار هوایي ډګر، بدخشان هوایي ډګر، هرات هوایي ډګر، مزار شریف هوایي ډګر او نور. افغانستان اوبنی ټرانسپورټ نلري ځکه د افغانستان سیندونه د بیړۍ چلونې لپاره مساعد ندي له بلې خوا افغانستان بحر ته لاره هم نلري.

**بیمه insurance**:بیمه شل (20) پیړۍ دمخه په لومړي ځل د یونان او روم سوداګرو په کاروبار کې کارولې. په لرغونو زمانو کې چې د یونان سوداګرو توکي د بحري بیړیو په وسیله نورو هیوادونو ته لیږدول که د لارو په اوږدو کې توکو ته زیان رسید نو د بیړیو خاوندانو به د توکو زیان ورکاو، د وخت په تیریدو سره د بشر د ذهنونو په پرمختګ سره سوداګرۍ هم پرمختګ وکړ اوپه دې حالت کې د بیمې رامنځته کیدل د ځان او توکو په مقابل کې د اوسنۍ بیمې مفهوم رامنځته کړ. په 1680 میلادي کال کې نیکولس باربون ()Nicholas Barbonد سوداګرو یوه ډله په دې خوښمنه کړه ترڅو له ده سره په اور او عامه بیمه کې ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library





وکړي. دوی د فونیکس انشورنس افس( phoenix insurance office) په نوم شرکت رامنځته کړ. له هغې وروسته په کال 1720میلادي کې سن فایر افس( sun fire office ) ،لندن انشورنس کمپنۍ( London insurance co ) ،چې تر لږې مودې وروسته د ملکې ایلزبت یو وزیر چې توماس ګریشن نومید د لندن رایل انشورنس ایکسچینج کمپنۍ (Royal Exchange Insurance Co)جوړه کړه چې وروسته د بحري بیمې مرکز شو او اوس هم د بیمې یو مهم مرکز دی.

په همدې ترتیب له نن څخه څلور پیړۍ دمخه په ایټالیا یا روم کې د بحري بیمې کمپنۍ رامنځته شوه. د وچې بیمې کمپنۍ په اوولسمه پیړۍ کې د المان په هامبورګ ښار کې رامنځته شوه. په کال 1898میلادي کال کې د فرانسې حکومت ټولنیزه بیمه دود کړه او تقاعد شویو خلکو ته یې د بیمې کمپنۍ رامنځته کړه.

بیمې ته په عربۍ ژبه تامین وایي چې دامن له کلمې سره ریښه لري او دبیمې کلمه د هندي ژبې د بیمیه له لفظ څخه اخیستل شوې چې د ضمانت مانا لري.بیمه د دوو خواوو تر مینځ یوه تړون دی چې په هغه کې یو خوا د بیمې کمپنۍ او بله خوا بیمه کیدونکي سره ژمنه کوي چې هر کله د بیمه کیدونکي توکي یا ځان ته له کوم سببه زیان ورسیږي، زیان

(c) ketabton.com: The Digital Library





به د بیمې کمپنۍ ورکوي چې په یو ټاکلي وخت کې بیمه شوي شخص د بیمې کمپنۍ ته ټاکلې پیسې ورکوي چې د پریمیم یا د بیمې قسط په نامه یادیږي په کوموا صولو چې دغه تړون تر سره کوي د بیمې پالیسي بلل کیږي.

دافغانستان د بیمې نوي قانون بیمه داسې تعریف کړې: "بیمه د بیمه کوونکي او بیمه کیدونکي ترمنځ عقددی چې په لیکلي توګه صورت مومي او پر موجب یې بیمه کوونکو د ټاکلي حق البیمې د اخېستلو په وړاندې د مقابل لوري د زیان د جبران ژمنه ده" د بیمې له تعریف څخه داسې جو تیږي چې بیمه په خپله د ګوانښونو مخنیوي نه کوي بلکې ګوانښونه د بیمې کمپنۍ ته لیږدوي چې د بیمې کمپنۍ د ګوانښونو یا زیانونو په مقابل کې حق البیمه تر لاسه کوي.

په ګران هیواد (افغانستان) کې په 1334هـ ش کال کې د سوداګرۍ د قانون په 13 لسمه ماده کې د بیمې یادونه شوې او په کال 1351 په رسمي جریده کې د بیمې قانون خپور شو.د وخت په تیریدو سره بیمې سوداګریز ارزښت هم پیدا کړ.په افغانستان کې د لومړي ځل د افغان ملي بیمې شرکت خپلې کړنې په کال 1343هـ ش د زمري د میاشتې پر 31 نیټه پیل چې 51٪ سلمه افغانانو او 49٪ بریتانویانو په کې ونډه لرله. د ډاکتر نجیب الله د حکومت له نسکوریدو وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شرکت کړنې په ټپه ودریدې خو په هیواد کې د موقتې ادارې په رامنځته کیدو سره دغه شرکت خپلې کړنې یو ځل بیا پیل کړې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهور رئیس لخوا 1387هـ ش کال کې د بیمې نوي قانون توشیح چې ورسره یو شمیر نورو شرکتونو هم د افغانستان له مالیې وزارت څخه د کړنو جوازونه تر لاسه کړل چې اوسمهال په هیواد کې د بیمې څلور لوې شرکتونه هیوادوالو ته د بیمې چوپړتیاوې تر سره کوي.



## په بیمه کې شاملې خواوې:

- بیمه وال: له بیمه وال څخه موخه هغه شخص یا اداره ده چې خپل ژوند یا شتمني بیمه کوي.
- د بیمې کمپنۍ: د بیمې له کمپنۍ څخه موخه هغه اداره ده چې د خلکو او ادارو ځانونه او توکي بیمه اخلي او د زیان د ورکولو ضمانت کوي.

## د بیمې د تړون ځانګړتیاوې:

- تړون باید په لیکلې بڼه وي.
- په دې تړون کې دوه خواوې شاملې وي.
- د بیمې تړون د ځانګړیو پیسو لپاره وي.
- که بیمه وال خپلې پیسې په خپل وخت ادا نکړي تړون لمنځه ځي.
- دا تړون د زیان ورکولو تړون وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بیمې بنسټیز اصول:



i. د ګټو خوندي توب: د ګټوله خوندي توب څخه موخه دا ده چې په له منځه تللو سره یې بیمه واله ته زیان او دهغو په ساتلو سره د هغه لپاره ګټه وي د بیلګې په توګه یو سړی په خپلې ښځې او د ښځې په خپل خاوند د ګټو د خوندي توب حقوق دي.

ii. باور: دبیمې د تړون انحصار په باور بیمه شوی شخص او بیمه کوونکې کمپنۍ د دواړو حقوق څرګند کړي.چې دواړه باید یو له بل سره په صداقت چلند وکړي. که بیمه شوی شخص یا اداره له ناسمو لارو کار اخلي نو د بیمې کمپنۍ د تړون د له منځه وړلو حق لري.همدارنګه که د بیمې کمپنۍ هم له ناسمو کړنو کار اخلي بیمه وال هم د تړون د لمنځه وړلو صلاحیت لري.

iii. د زیان د ورکړې تړون: کله چې فریقینو ته د زیان د رسید و په صورت کې زیان ورکوي د زیان د ورکړې د تړون په نامه یادیږي.

iv. وړ اقدمات: دتوکي بیمه کوونکو باید د توکو د ساتنې لپاره وړ اقدامات تر سره کړي. که د بیمه وال له بې پروایۍ توکو ته زیان ورسیږي د بیمې کمپنۍ د زیان د ورکړي څخه انکار کولای شي.

v. د زیان ورکړه: د بیمې کمپنۍ هغه وخت د توکو زیان ورکوي چې پیښې په هکله تړون کې روښتیا شتون ولري که روښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتون ونلري نو د بیمې کمپنۍ د زیان د ورکړې مسووله نه ده.



## د بیمې ډولونه:

- د ژوند بیمه: د ژوند په بیمه کې د بیمې کمپنۍ په یو مالومه مقرره کې له یو شخص څخه د بیمې پرمیم اخلي تر یو معلوم وخت وروسته د مړي وارثان د یو معلوم مقدار د ورکړې ژمنه کوي، چې دد غې ژمنې په مقابل کې د بیمې کمپنۍ له بیمه شوي شخص څخه په قسط وار یو مقدار پیسې اخلي چې د بیمې پرمیم یې بولي.د ژوند دبیمې اصلي موخه د ټولنې اقتصادي خوښتیا ده.ژوند په خپله یو داسې تړلی راز دی چې تل د مرګ له ګواښ سره مخ وي او مرګ هر وخت کولای شي چې د ژوند پسرلي له خزان سره مخ کړي، لیکن د انسان ژوند تل له اقتصادي مسایلو سره تړلی چې په دې اقتصادي مسایلو کې د ژوند د بیمې منګولې ډیر کلکې دي.زمونږ په ټولنیز کورني ژوندانه کې داسې یوه سلسله شتون لري چې یو شخص د کورنۍ ساتل په غاړه لري، چې هغه شخص یوازې د اوس لپاره د کورنۍ غم نه خوري بلکې راتلونکی یې هم په نظر کې نیسي چې همدلته د ژوند بیمه رامنځته کیږي او اهمیت یې لا پسې ډیریږي.
- د اور بیمه: د اور په بیمه کې د بیمې کمپنۍ یو داسې تړون کوي که په یو مالوم وخت کې بیمه شوی توکی اور واخلي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library





د بیمې کمپنۍ به یې زیان ورکوي او د بیمې کمپنۍ په هغه وخت کې زیان ورکوي چې په واقعي ډول توکي د اور له امله زیانمن شوي وي او که د معلوم وخت په منځ کې توکو ته د اور له کبله زیان وانه وښت نو دبیمې کمپنۍ د زیان له ورکولو څخه خلاصه ده.

- بحري بیمه:بحري بیمه هغې بیمې ته وایي چې دبیمې کمپنۍ د هغو ټولو زیانونو د ورکړې تړون له بیمه کیدونکي سره وکړي چې بیمه شوي توکو ته په سمندر کې اوړي.کله چې یو سوداګر خپل توکي بیمه کړي که په سمندر کې توکو ته کوم زیان رسیږي نو سوداګر له دې زیان څخه خلاص دي بلکې دا زیان به دبیمې شرکت ورکوي.
- د حادثې بیمه:د حادثې په بیمه کې د بیمې کمپنۍ له بیمه وال سره داسې تړون کوي که د حادثې په صورت کې د ځان او توکو زیان د بیمې کمپنۍ ورکوي، چې د دې په مقابل کې بیمه وال د بیمې کمپنۍ ته پرمیم ورکوي.

**تمویل finance**:دکمپنیو د جوړښت په لومړیو وختونو کې د تولید طریقه ډیره ساده و. کمپنیو تولید په لږه پیمانه ترسره کاو. په تولید کې له انساني ځواک څخه ډیر کار اخیستل کید ، نو له دې کبله د کاروبار لپاره تمویل ته ډیره اړتیا نه وه. خو په نړۍ کې له صنعتي اوښتون وروسته د توکو د تولید طریقه بدله شوه توکي په وسیع پیمانه تولیدیدل. د انسان ارزښت د تیر په نسبت کم شو. کاروبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخ شو،اومه مواد ډېر اخېستل کیږي. د کارکونکو د شمیر ډیرول د دغو ټولو اړتیاو د پوره کولو لپاره تمویل ته ډیر اړتیا پیښه شوه او ارزښت یې لا پسې ډیر شو.



د تمویل د تعریف په هکله بیلا بیلو پوهانو نظریات ورکړي چې د ځینو یادونه یې په لاندې ډول کوو:

- بي-او-ویلر(B.O.Whealer):تمویل له هغو کاروباري کړنو څخه عبارت دی چې د هغو سروکار د پانګیز فنډ د لاسته راوړلو او ساتلو سره وي تر څو د کاروباري ادارې مالي اړتیاوې او موخې تر لاسه شي.
- جوزف اي- کرز(Joseph A.Krizz):له تمویل څخه موخه هغه پانګه اود پور هغه ارزښت دی چې کاروبار کې اسانتیا راولي.
- پي-جي-هسټنګ(P.G.Hasting):تمویل د پیسو دلاسته راوړلواو کارولو هنر دی.

د تمویل لپاره مونږ تاسو کولای شو یو داسې تعریف هم وړاندې کړو چې تر ټولو اسانه اوساده دی:له تمویل څخه موخه د پانګې او پور هغه ارزښت دی چې کاروبار ممکنوي.

دتمویل موخې(Objectives of Finance):په کاروبارکې تمویل د لاندې موخو د تر لاسه کولو لپاره کاریږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



I. کاروباري اداري ته د مناسبې پانګې برابرول
II. د پانګې ساتل او په هغې کې زیاتوالی راوستل
III. د پانګې د ښې کارونې له کبله د ګټې ډیرول



## د تمویل ډولونه:

a. **لنډ مهالی تمویل(Short Term Finance):** لنډ مهالی تمویل هغه تمویل چې له یو کال څخه د کم وخت لپاره تر لاسه کیږي، چې دغه تمویل د ورځنیو اړیتاو د پوره کولو لپاره کارول کیږي، او هغه اړتیاوې په لاندې ډول دي:

- د کارکوونکو معاشونه
- د بیلونو ورکړه
- د بیمې د پرمیم ورکړه
- د لیږد رالیږد لګښتونه

د لنډ مهاله تمویل د لاسته راوړلو وسایل:

- ملګري اوخپلوان(Friends and Relatives): د کاروباري اداري مالکان د خپلو لنډ مهاله اړتیاو د پوره کولو لپاره له ملګرو او دوستانو څخه پورونه اخلي چې دغه پورونه په خپل ضمانت تر لاسه کوي.په ټولیز ډول دغه پورونه له سود پرته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- سوداګریز پور(Trade Credit):په پرمختیایي او پرمختللو هیوادونو کې سوداګري په پور تر سره کیږي چې دغه پور له 3ورځو څخه نیولې تر 90 ورځو پورې وي. که څه هم دغه ډول معاملات په پور کې نه راځي خو بیا هم په حقیقت کې خرڅوونکي،اخیستونکي ته توکي په پور ورکوي د اخیستلو وخت څخه د ورکړې تر وخته هم په تمویل کې راځي.
- بانکي پور(Bank loan): سوداګریز بانکونه خپلو مشتریانو ته د لنډ مهال لپاره د پورونو د ورکړې زمینه برابروي چې بانک دغه پور په شخصي ضمانت یا د جایداد په ضمانت مشتري ته ورکوي. همدرانګه بانک بعضې روان حساب لرونکو ته هم د اضافه حصول حقوق ورکوي تر څو هغوي د اړتیا په وخت له خپلو پیسو څخه علاوه تر یو معلوم حده له بانک څخه پیسې وباسي.په ځینو وختونو کې بانک مشتریانو ته نغده پور هم ورکوي چې بانک خپل مشتري په بانک کې د نغده حساب پرانیزي هر څومره چې بانک وغواړي نغده حساب ته پیسې لیږدوي، مشتري کولای شي چې له خپل نغده حساب څخه پیسې وباسي.بانکونه د اړتیا په وخت کې د سوداګرو، صنعت ګرو په بیلونو تخفیف هم لګوي چې دا ټول د لنډ مهاله تمویل وسایل دي.

b. منځمهالی تمویل(Medium Term Finance):منځمهالی تمویل هغه تمویل ته وایي چې له یو کاله څخه تر پنځو کلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې وي.کاروباري اداري د لاندې موخو د تر لاسه کولو لپاره دا ډول تمويل لاسته راوړي:



- د ماشين الاتو د نوي کولو لپاره
- د لنډو پلانونو د تطبيق لپاره
- د کاروبار د پراختيا لپاره

د منځمهالي تمويل د ترلاسه کولو وسيلې:

- خصوصي مالي اداري Specialized financial institutions:

عبارت له هغو خصوصي مالي ادارو څخه دي چې کاروباري اداري په منځ مهاله ډول تمويلوي.او په مقابل کې سود تر لاسه کوي.

- سوداګريز بانکونه (Commercial banks):سوداګريز بانکونه هم صنعتي او کاروباري ادارو ته پورنه ورکوي سوداګريز بانکونه دغه پورونه د غير منقول جايداد په عوض کې ورکوي.
- مشران (Directors): د ګډې پانګې کمپنۍ مشران د اړتيا په وخت کې له خپلو وسايلو منځ مهالی تمويل کوي چې دغه ډول تمويل يوه کمپنۍ په ډيره اسانۍ سره ترلاسه کوي ځکه کمپنۍ د دې ډول تمويل لپاره نه کوم ضمانت ته اړتيا لري او نه اوږدې پروسې ته.

e) اوږدمهالی تمويل(Long Term Finance): اوږد مهالی تمويل هغه تمويل ته وايي چې کمپنۍ يې د پنځو کلو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېر وخت لپاره تر لاسه کوي، اوږد مهالی تمویل کمپنۍ د شتمنیو د اخیستو ،د نوي ماشین الاتو د نصب او د کاروبار د پراختیا لپاره تر لاسه کوي.



## د اوږد مهالي تمويل د لاسته راوړلو وسايل:

- د شتمنيو پلورل:کاروباري اداري د اوږد مهالي تمويل د تر لاسه کولو لپاره خپلې بيکار شتمنۍ پلوري. په دې ډول تمويل کې کاروباري اداره په تمويل سود نه ورکوي او په کاروبار هم کوم بوج نه راوړي، بلکې د کاروبار د بهتروالي لپاره ګټمن وي.
- زيرمه فنډ:د ګډې پانګې سازمان خپله ټوله ګټه د ونډوالو تر منځ نه ويشي يو مقدار يې زيرمه شوي فنډ ته ليږدوي. سازمان دغه فنډ د اړتيا په وخت کې کاروي چې دا هم د کمپنۍ لپاره اوږد مهالی تمويل دی.
- د نوي ونډوال رامنځته کول: د اوږد مهالي تمويل د تر لاسه کولو لپاره کاروباري اداري نوی ونډه وال په کاروبار کې شاملوي دا هم د تمويل يوه ښه ډول دی ځکه په دې کې دريمې ډلې ته سود نه ورکوي. نوی ونډه وال يوازې په ګټه کې شريکوي.
- خصوصي مالي اداري:کاروباري اداري له خصوصي مالي ادارو څخه هم اوږد مهالی تمويل د سود په مقابل کې تر لاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د تمویل ارزښت(Importance of Finance):** تمویل د کاروبار لپاره دومره اړین دي،لکه څومره چې د انسان بدن ته د وینې اړتیا وي نو له همدې کبله تمویل ته د کاروبار وینه(Blood of Business) وایي.په نړۍ که د نوې ټکنالوژۍ د پرمختګ سره د نړۍ هیوادونو ترمنځ واټن کم شوي نړۍ د کلي شکل غوره کړی چې کاروباري ادارو ډیره پراختیا پیدا کړې نو له دې کبله کاروباري ادارو ته تمویل ډیر اړین دی.د تمویل ارزښت په کاروبار کې په لاندې ډول دی:

- د جوړښت لګښتونه: د کاروبار د جوړښت په وخت کې چې کوم لګښتونه راځي لکه د قانوني سندونو جوړولو،د راجستر فیس،د ځمکې اخېستو،ماشین الاتو تهیه کولو لپاره تمویل ته ډیر اړتیا ده.
- د اومو موادو تهیه:د توکو د تیارولو لپاره اومو موادو ته اړتیا ده چې دغه اومه مواد بیدون له تمویل څخه ناممکنه دي چې تر لاسه شي.همدرانګه د کار تمامو موادو زیرمه کول تر څو د اړتیا په وخت کې بیې بازار ته وړاندې کړي چې دا هم تر ډیره بریده تمویل پورې اړه لري.
- ورځني لګښتونه:د کاروبار د ورځنیو لګښتونو د پوره کولو لپاره تمویل ته ډیره اړتیا ده ځکه بیدون له تمویل څخه د کاروبار ورځنۍ چارې پرمخ نه ځي. ددې تر څنګ یو شمیر نور لګښتونه لکه د لیږد رالیږد ،کارکوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجوره، مالیه، بیمه او نورو لپاره هم د تمویل ډیره اړتیا وي. او یو شمیر نور لګښتونه چې له مخکې څخه یې د واقع کید و تمه نه وي.



- نوښتونه او پرمختګونه: په اوسني وخت کې که کاروباري اداري خپل پایښت غواړي نو هغوی مجبور دي تر څو نوي نوښتونه وکړي پرمختګونه وکړي تر څو نوي توکي په ښه کیفیت او ښه ډیزاین بازار ته وړاندې کړي چې بیدون له تمویل څخه د دغو لګښتونو پوره کول نا ممکن دي.
- د کاروبار پراختیا:د ګټې د زیاتوالي په موخه باید نوي او عصري ماشین الات نصب او وکارول شي چې د نویو او عصري ماشین الاتو رانیولو لپاره تمویل ته اړتیا ده بیدون له تمویل څخه کاروبار پراختیا نه مومي.همدرانګه په یوې کمپنۍ کې د نوي او عصري ماشین الاتو په کارولو سره د توکو د تولید په لګښتونه کې کموالی هم راځي چې دا هم د تمویل یوه اړتیا ده په یوه کمپنۍ کې.
- اقتصادي پرمختګ: په اوسني وخت کې د تمویل ارزښت دومره دی چې بیدون له تمویل څخه هیڅ کاروبار شتون نلري چې همدا تمویل دي چې انسانانو په ژوند کې یې بدلون رامنځته کړی، خلکو ته یې کار پیدا کړی، خلک د کارونو په بدله کې عاید تر لاسه کوي او اقتصادي پرمختګ یې شونی کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**مخابرات communication:** د مخابراتو څخه موخه د خبر رسول او اړیکه ده. د مخابراتو په وسایلو کې ټول هغه وسایل شامل دي چې د هغوی په وسیله پیغام او خبر رسول کیږي.د مخابراتو وسایل په لاندې ډول دي:

I. ټیلی ګرام:له یو ځای څخه بل ځای ته د پیغام د چټک لیږلو لپاره کارول کیږي په کاروباري ژوند کې ټیلی ګرام ځانګړی اهمیت لري، ځکه د دۀ په وسیله یو کاروباري شخص خپله پریکړه یا پیغام ډیرو لرو ځایونو ته په لږ وخت کې رسوي. د ټیلی ګرام لپاره یو ځانګړی فورم کارول کیږي چې له هر پوستې خوني سره شتون لري په ټیلی ګرام کې د پیغام په لیکلو کې باید دا کوښښ وشي تر څو پیغام ډیر روښانه ولیکل شي چې د ټیلی ګرام واله یې په اسانۍ ولولي. په ټیلی ګرام کې لګښت د الفاظو په شمیر وي نو له دې کبله باید لنډ ولیکل شي تر څو د ډیر لګښت مخه ونیسي.

II. ټیلیفون: ټیلیفون د لومړي ځل لپاره د سکاټلینډ او سیدنکي الیګزنډر ګراهم بیل په کال 1877 میلادي کې رامنځته کړ.ټیلیفون کاروباري ادارو ته ډیره ګټه لري له همدې کبله په ډیر لږ وخت کې یې ډیر پرمختګ وکړ. د ټیلیفون په وسیله د خلکو تر منځ واټن له منځه ولاړ. د ټیلیفون په وسیله د بیلابیلو سیمو خلک په تفصیلي ډول خبرې کولای شي. د ټیلیفون په وسیله یو سوداګر له خپله کوره کولای شي تر څو د بازار په هکله مکمل معلومات تر

(c) ketabton.com: The Digital Library





لاسه کړي، د توکو د اخېستو او خرڅولو تړونونه وکړي. د ټيليفون په وسيله کولای شي توکو ته نوي بازارونه پيدا کړي چې کاروبار ورسره پراخيږي. ټيليفون يوازې د کاروبار لپاره ګټمن ندي بلکې ټولو دولتي ادارو ته هم ډير اړين دي ځکه په اسانۍ سره کولای شي نورو دولتي ادارو ته يا له نورو دولتي ادارو معلومات ترلاسه کړي. د ټيليفون نظام له ټيلی ګرام څخه بهتر دی ځکه ټيليفون د لاندې ځانګړتياو درلودونکی دی:

- د ټيليفون په وسيله مخامخ له بل شخص سره اړيکه نيول کيږي.
- په ټيليفون کې په الفاظو پابندي نه وي ځکه دلته لګښت د وخت پر اساس وي.
- د ټيلی ګرام په نسبت ټيليفون پيغام ژر ليږدول کيږي.
- د ليک او ټيلی ګرام په وسيله بعضې خبرې ښې نه واضح کيږي مګر په ټيليفون کې په اسانۍ سره خبرې روښانيږي.

3- ټيليکس(Telex): د ټيليکس په وسيله هم پيغام ژر ليږدول کيږي چې د ټايپ ماشين په څېر کارول کيږي. کله چې مونږ وغواړو چې کوم ځای ته پيغام وليږدو نو د ليږدول شوي ځای د پيغاماتو په ماشين د پيغام پرنټ راځي. د ټيليکس اسانتيا د هيواد په داخل او بهر کې شتون لري هغه سوداګريزې ادارې چې پراخ کاوربار ولري د هيواد په داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library





او له هیواد څخه بهر پېژندنه ولري له ټیلیکس څخه ډیره ګټه پورته کوي.

4- بیسیم(Wireless): له بیسیم څخه موخه یانې بې له سیمه، دا د پیغام رسونې یوه داسې لار ده چې دۀ ته د ټیلیفون په څېر هیڅ ډول تار ته اړتیا نشته ده. ددې ماشین په وسیله پیغام لیږدول کیږي.

5-فکس ماشین(Fax Machine):له یو ځای څخه بل ځای ته د پیغام لیږدولو نوې طریقه ده چې ددې ماشین په وسیله پیغام ار(اصل) ته ورته لیږدول کیږي. فکس ماشین له ټیلیفون سره اړیکه لري کله چې چاته پیغام لیږدول غواړې نو لومړی هغه شخص سره په ټیلفون اړیکه نیسي د پیغام په هکله ورته خبر ورکوي له هغې وروسته پیغام د فکس ماشین ته داخلوي چې دغه پیغام د اصلي کاپي په شکل د فکس بل ماشین ته لیږدول کیږي.

6-موبایل فون(Mobile Phone):موبایل فون د ټیلیفون نوې شکل دی چې دې ته ګرځنده ټیلیفون هم ویل کیږي ځکه په کوم ځانګړي ځای کې نه ایښوول کیږي، چیرته چې کارونکي ځای ور سره وي او له هر ځایه کولای شي خلکو سره په اړیکه کې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





7-انټرنیټ(Internet): انټرنیټ د مخابراتو یوه نوې او تیزه وسیله ده د انټرنیټ په وسیله سوداګریزې او صنعتي ادارې ګټور معلومات تر لاسه کولا شي انټرنیټ د لکونو ،لکونو نیټورکونو پایله ده. انټرنیټ د موبایل ،کمپیوټر، کیبل په وسیله کارول کیږي. په نړۍ کې د انټرنیټ کارول نړۍ یو کلي ته ورته کړېده.

8-بریښنلیک(E_Mail): بریښنلیک چې په انګلیسۍ کې ورته(Electronic Mail) وایي یو پیغام 186000میل في ثانیه کې له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدوي. بریښنلیک د پیغام د لیږدولو تر ټولو اسانه او تیزه وسیله ده. د بریښنلیک په وسیله کاروباري اداري یو بل ته معلومات په ډیرې تیزۍ سره لیږدوي.

9-داستوزګر چوپړ(Messanger Service): دا یو داسې پروګرام دي چې په انټرنیټ کې د پیغام د لیږدولو لپاره کارول کیږي، چې د پیغام د لیږدولو ډیره تیزه وسیله ده اوسمهال مشهور استوزګر(Messanger) او ټولنیزې پاڼې په لاندي ډول دي: Yahoo,MSN,AOL,Trillian,facebook,tiwtter

په افغانسان کې مخابرات: افغانستان په لومړي ځل په 1898م کال کې د ارګ په ماڼۍ(د شاه د اوسیدو ځای)کې د سیمداره تلیفون په ایښوولو سره د بریښنایي اړیکو په نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library





کې خپل کام پورته کړ. په 1908کال د ټیلیفون یوکوچنی سیستم چې د 25 ټیلیفوني تارونو وړتیا یې درلوده، دارګ ماڼۍ شمال خواته ولګول شو. د ټیلی ګراف چوپړتیاو سیستم نصب بله هغه مخابراتي آسانتیا وه چې په کال1914م په افغانستان کې رامنځته شوه او همدارنګه په بابر بڼ (دکابل ښار تاریخي بڼ دي چې مغول ظهیرالدین محمد بابرپکې ښخ دی.) کې د دوه کیلو واټه په ظرفیت سره دټیلی ګراف سیستم کیښوول شو چې د نظامي موخو لپاره کارول کید.په کال 1919 د ټیلیفون بیلابیل سیستمونه د 50 لاینه او 100 لاینه سویچ بورډونه د شاه دوشمشیره(رح) په پوست خونه کې نصب شول او په همدغه کال کې 14 تحصیلي بورسونه افغانستان ته ورکړل شول چې د ټیلي ګراف په برخه کې له هیواد څخه دباندې زده کړې وکړي.

په کال 1920 کې د انګلستان جوړشوی د ټیلی ګراف یوبل ماشین نصب شو چې تر کال 1932 پورې ترې کار اخېستل کېد.افغانستان د 1928 کال په اپرېل میاشت کې د ټیلی ګراف نړیوالې اتحادیې غړیتوب ترلاسه کړ. د ټیلیګراف نړیواله اتحادیه په کال 1865 کې رامنځته شوه او په کال 1932 کې د مخابراتو نړیوالې ټولنې باندې بدله شوه. په کال 1930کې 7 پایې ماشینونه او د لنډو څپو ټیلیګراف د مارکوني کمپنۍ چې یوه ایټالیوي کمپنۍ ده وپیرودل شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کابل، هرات، مزارشریف، میمنې او خوست کې نصب او مونتاژ شول.



د 1933 کال په وروستیو کې یو بل سیستم چې د لوړ ځواک آنتن یې درلود له همغې کمپنۍ څخه واخېستل شو او د کابل ټیلیګراف په مرکزي ودانۍ کې نصب او مونتاژ شول. په کال 1949 کې د ټیلیفون یوه دستګاه چې 1300 تیلیفوني مزو وړتیایې درلوده، وپیرودل شوه چې په 1950 کال یې د کیبل شبکه بشپړه شوه.په کال 1953 م کې د زیمِنس کمپنۍ څخه د تیلیفون یوه دستګاه وپېرودل شوه چې د 5000 تیلیفوني مزو وړتیا یې درلوده، چې د شبکې له بشپړېدو وروسته په کال 1957م په کار واچول شوه.

له زیمِنس کمپنۍ څخه د فرعي تجهیزاتو له برابرولو څخه وروسته د مخابراتو وزارت وکړای شول چې په کال 1959م کې د مزار شریف – کابل او کابل – کندهار د ټیلیفوني اړیکو له لارې سره ونښلوي، په کال 1961م کې 1500ټیلیفوني مزي د چکوسلواکیا هیواد څخه وپېرودل شول او په کابل ښار کې نصب شول. په همدغه کال کابل او کندهار او همدارنګه کابل له تورخم او د هېواد له شمال سره ونښلول شول.همدغه وخت په هېواد کې 14000کیلومیترو په اوږدوالي د 3او 12 چینله سیستمونو په مرسته مخابراتي چوپړتیاوې وړاندې کېدې. د نړیوالو مخابرو او ترانزیت په موخه د ځمکنیو اړیکو څخه په ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډیو هېوادونو لکه ایران، پاکستان او ترکیه کې ګټه اخېستل کېده او د چینلونو شمېر هم له 120 څخه زیات و.



د راډیویي ترانسیور لومړنی ستېشن چې 20 کیلو واټه ځواک لرونکی و په کابل ښار کې ودرول شو چې د راډیو له لارې کابل له پاریس سره ونښلول شو.د 1946 کال په وروستیو کې د 10 کیلوواټو په ځواک یو راډیویي لیږدوونکي او دوه داخیستونکي ستېشنونه د فیلِپس له کمپنۍ څخه اخېستل شوي ول او د پاریس، نوي ډیلي، لندن او مسکو ترانزیتي مرکزونو سره د مخابراتي اړیکې ټینګولو په موخه ګټې ته سپارل شوي و.دپر مختیایي شبکې پروژه یا د تیلی کمیونیکشن دویمه پروژه په 1973 کال کې د تیلی کمیونیکیشن نړیوالې تخنیکي اتحادیې په مشوره کابل ښار کې په لاره واچول شوه.

د دریمې پروژې له پلي کېدوسره په نوي ښار،خیرخانه مینه او مکروریانونوکې،فرعي اتوماتیکې دستګا وې ودرول شوې. د زیمِنس کمپنۍ په مرسته 13200 تیلیفون مزي د کابل په ښار کې فعال شول.افغانستان په 1979 کال کې د آسیا پسفیک دمخابراتي ټولنې (APT)غړیتوب ترلاسه کړ.

په 1983-1984 کلونو کې د کابل، جلال آباد، پروان، پلخمري، شبرغان او کندوز په ښارونو کې کراسبارډوله

(c) ketabton.com: The Digital Library





دستګاوې ودرول شوې.د 70 یمې لسیزې په اوږدو کې د تیلیفون او ټیلیګراف په ګډون اساسي مخابراتي چوپړتیاوې د ولسوالیو په کچه شتون درلود. که څه هم ډیرې مخابراتي چوپړتیاوې حکومتي ادارو پورې محدودې وې، خو بیا هم سیمه ایزو خلکو چوپړتیاو ته لږ لاسرسي درلود.په 80او 90 یمو لسیزو کې سیاسي- ټولنیزو نښتو او جګړو نه یوازې د افغانستان بنسټونه او شتمنۍ له منځه یوړې،بلکې مخابراتي سیستمونو یې هم ویجاړ کړل. د هیواد په ډیرو برخو کې هان تردې چې اړینو مخابراتي چوپړتیاو هم شتون نه درلود.

په2001م کال کې د لنډمهالي ادارې له جوړیدو سره سم په افغانستان کې سیاسي- اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو یو ځل بیا د هېوادوالو هیلې را ژوندۍ کړې. د انتقالي حکومت له جوړیدو څخه وروسته د 2002 کال په اوږدو کې او وروسته په 2004-2003 کلونو کې د ټاکنو له لارې د حکومت جوړیدو سره د خصوصي سکتور لپاره یو مناسب چاپیریال را منځته شو ترڅو افغانانوته په رسمي ډول له خصوصي سکتور څخه د ژوند په بیلا بیلو برخو کې ګټه پورته کړي.د هیواد جغرافیایي موقعیت ته په کتو سره چې ډیرې برخې یې غرونو نیولې دي او یو ډیر شمیر افغانان چې د هېواد دننه او بهر کې خواره دي د مخابراتي چوپړتیاوو د اسانتیاو برابرول یوه اړینه موضوع ده.په افغانستان کې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library





1382 هجري لمريز كال پورې مخابراتي چوپړتياوې په ډيره لومړنۍ بڼه شتون درلود ، خو د 1390 كال تر وروستيو پورې دهيواد 86 سلمه د اوسيدو سيمې د مخابراتي چوپړتياو تر پوښښ لاندې راغلې.تر دې مهاله د هيواد 18 ميليونه وګړي د موبايل چوپړتياو څخه ګټه اخلي.د 1390 كال تر ورستيو پورې د مخابراتو په سكتور كې شاوخوا 7.1 ميليارده امريكايي ډالره پانګونه شوې ده.په 1390 كال كې د مخابراتو له سكتور څخه 165 ميليونه امريكايي ډالر د دولت خزانې ته جمع شوي دي.د مخابراتو اومعلوماتي ټيكنالوجۍ په سكتوركې له 10000څخه زياتو كسانو ته د كار كولو آسانتياوې برابرې شوي چې مسلكي، غيرمسلكي، قرارداديان، كسبه كاران او د مخابراتي وسايلو او تجهيزاتو پلورونكي پكې شامل دي.

**بانک Bank:** د اقتصادپوهنې پوهان دبانک دبيلابيلو دندو په نظركې نيولوسره د بانک بيلا بيل تعريفونه كړي دي. نوپه دې اساس دبانک لپاره ديومشخص تعريف وړاندې كول ستونزمن كاردی. داځكه چې بانک بيلابيلې دندې سرته رسوي چې دغه دندې دهېوادونواو د وخت له مخې توپيرلري اودبانک دندې ورځ تربلې پېچلې كيږي. خوبياهم دبانک په اړوند ځينې مهم تعريفات وړاندې شوي چې د ځينو يې په لاندې ډول يادونه كوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library





1. پروفیسورجي کروتر(Pro. G. Crother): په خپل کتابAn Outline of Money کې بانک داسې تعریف کړی: "بانک یوه داسې مالي اداره ده، چې دعامو وګړو اضافي پیسې د پور په ډول اخلي او اړو خلکوته یې په پور ورکوي یانې بانک دپورد راکړې ورکړې کاروبارترسره کوي. "
2. پروفیسورکېنټ (professor Kent):- پروفیسور کېنټ هم بانک د پروفیسورکراوتر په څېر تعریفوي،نوموړی وايي: "بانک یوه مالي اداره ده چې اساسي دنده یې د امانت په توګه د پیسو ترلاسه کول اوبیرته ځینې نورو وګړوته د پور په ډول د پیسو ورکول دي. "
3. پروفیسورار.اس.سیرز(Prof. R. S. Sayrs): دلندن په پوهنتون کې داقتصاد پوهنځي استاد (پروفیسورار.اس.سیرز) پخپل کتاب Modern Banking کې بانک په دې ډول تعریف کړی: "بانک یوه داسې مالي اداره ده ،چې زېرمې یې دعامووګړوترمنځ دپورونوپه راکړه ورکړه کې ،د منلو وړوي.داپدې مانا که یوشخص په بانک کې حساب ولري نوکولای شي چې له خپل حساب څخه دچک په مرسته بل چاته پورتادیه کړي اویایې واخلي دائکه چې په بانک کې دونډې درلودل ټولیز باور لري."

(c) ketabton.com: The Digital Library





4. ساده تعریف (Simple definition): په ساده ډول مونږ کولای شو بانک په لاندې ډول تعریف کړو: "بانک یوه مالي اداره ده چې دباوریزو پیسوکاروبارکوي.دغه اداره په کم سود له خلکوڅخه پیسې د پورپه ډول اخلي اوپه زیات سود یې اړو وګړوته په پورورکوي ،چې د دواړو سودونو ترمنځ تفاوت د بانک ګټه تشکیلوي. "

5. دافغانستان د بانکوالۍ قانون بانک داسې تعریفوي: " بانک هغه حکمي شخصیت دی چې د اعتباراتود جوړونې یا د پانګې اچونې په منظور ،خپل حساب ته له ټولو څخه په راکړې ورکړې او د پولي سپارنو یا د ورکړې وړ نورو وجوهو په ترلاسه کولو مشغول وي."

په تاریخي لحاظ د نړۍ لومړی بانک په 1586م کال کې د وینس په نامه په ایټالیا کې تاسیس شو.وروسته بیا بینک اف انګلیند په کال 1694 کې رامینځته شو او په کال 1758 کې یې د پیسو د نشرولو اجازه ترلاسه کړه. په لومړي سر کې دغه بانک د جواینټ سټاک (Joint Stock) په شکل رامنځته شوي و او په کال 1946کې ملي اعلان شو. د هندوستان بانک د(بینک اف ریزرو )په نامه په کال 1921 کې تاسیس شو.

د بانک ډولونه:بانک لاندې ډولونه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library





1. صنعتي بانک Industrial Bank
2. کرنيزبانک Agricultural Bank
3. تبادلوي بانک Exchange Bank
4. مرکزي بانک Central Bank
5. سوداګريز بانک Commercial Bank

## 1. صنعتي بانک Industrial Bank:

دهېوادونو دپرمختګ لپاره اوږدمهالو پورونو ته اړتيا وي. عام سوداګريز بانکونه اوږدمهاله پورونه نشي تهيه کولای، ځکه د سوداګريزو بانکونوپورونه د لږ وخت لپاره وي. د دې لپاره چې د صنعت د پرمختګ لپاره پورونه تهيه شي، هېوادونو صنعتي بانکونه جوړ کړي دي.هغه بانکونه چې د صنعت د پراختيا لپاره کار کوي د صنعتي بانکونو په نامه يادېږي.

## 2. کرنيز بانک Agricultural Bank:

له کرنيز بانک څخه موخه يوداسې بانک دی چې کروند ګروته پورونه تهيه کوي، چې هغوی په کيماوي سرې، ماشين الات، اصلاح شوي تخمونه واخلي او هيواد په کرنيزډول پرمختګ وکړي.

## 3. ډګروي بانک Mortgage Bank:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول بانکونه ځمکې او نور ځایونه د اوږ مهال لپاره په ګروی نیسي.



### 4. مرستندوی بانک Co-Operative Bank:

دغه بانکونه د مرستو د ورکړې په اصولو جوړ شوي چې عموماً د پورونو د ورکړې لپاره زمینې برابروي.

### 5. مرکزي بانک Central Bank:

په یو هېواد کې مرکزي بانک تر ټولو مهم بانک وي چې د ټولو بانکونو د سردار په نامه هم یادیږي او په هېواد کې د مالي نظام د پیاوړتیا لپاره کار کوي. پاتې شوه دا چې دې بانک ته ولې مرکزي بانک وايي له دې کبله دا نوم ورکړل شوی چې د هېواد په اقتصادي او بانکوالي نظام کې مرکزي حیثت لري.

"ډي کاک" مرکزي بانک داسې تعریف کړي: ((مرکزي بانک د هېواد بانکي اود پیسو نظام په راس کې ځای لري، چې د هېواد د ملي ګټو لپاره کار کوي.))

همدارنګه "سیرز"د مرکزي بانک په اړه وايي: (( مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو څارنه او په هېوادکې د پیسو د نظام ملاتړ کوي.))

### د مرکزي بانک دندې Functions of Central Bank:

مرکزي بانک د هېواد د وګړو د خوښۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره لاندې دندې سرته رسوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





i. د پیسو نشرول Issuance of Money: په هغو وختونو کې چې په نړۍ کې مرکزي بانکونو وجود نه درلود، د پیسو د نشرولو اجازه ټولو بانکونو لرله، چې دې کار یو شمیر ستونزې رامنځته کړې وې چې په لاندې ډول دي:

(1) د یو شان پیسو نشتوالی،

(2) د پیسو پر کچه (مقدار) د څار نشتوالی،

(3) عامو خلکو ته د پیسو نه منل،

(4) پر پیسو باور نه کول.

د پورتنیو ستونزو له کبله د پیسو نشرولو دنده یوازې مرکزي بانک ته وسپارل شوه، چې د اړتیا په وخت کې به پیسې نشروي او د هېواد صنعتي او کاروباري اړتیا له مخې به د پیسو په مقدار کې ډېروالي او کموالی راولي، چې له دې سره د پورتنیو ستونزو مخه هم ونیول شوه.

ii. د حکومت بانک Banker to the state: مرکزي بانک د حکومتي بانک په توګه ډېرې دندې سرته رسوي. مرکزي بانک هغه دندې سرته رسوي چې سوداګریز بانکونه یې خپلو خاوندانو(پانګوالو) ته رسوي. مرکزي بانک د حکومت لپاره لاندې چوپړتیاوې وړاندې کوي.

(1) د حکومت ټول حسابونه همدلته جمع کیږي،

(2) د حکومت لپاره د پورونو اخېستل او تادیه کول،

(3) د حکومت لپاره د بهرنیو اسعارو تهیه کول،

(4) د سرو او سپینو زرو په ګډون د حکومتي شتمنۍ ساتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



(5)د حکومت لپاره په مالي برخو کې مشورې،
(6)د حکومت استازیتوب.



II. د بانکونو بانک Bankers’ bank: مرکزي بانک د هېواد د ټولو بانکونو د سردار په توګه لاندې دندې سرته رسوي.

1. د بانکونو د پیسو ساتل:ټول سوداګریز بانکونه په قانوني ډول پردې مجبور دي، چې د ټولو امانتونو یو خاص مقدار له مرکزي بانک سره د امانت په ډول کیږدي ،چې مرکزي بانک داړتیا په اساس په ساتل شوي امانت کې زیاتوالي او کموالی راوستلای شي.
2. سپېځلتون Clearing House: مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونودحساب کوونکي یا سپېځلتون دنده هم سرته رسوي او د ټولو سوداګریزو بانکونو پانګه، په مرکزي بانک کې وجود لري. ټول سوداګریز بانکونه د مرکزي بانک په پیژندنه یو له بل سره معاملات تر سره کوي.
3. اخري پناځای: مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو اخري پناځای دی. سوداګریز بانکونو چې کله پور ته اړتیا پیدا کړي مرکزي بانک له اړتیاسره سم پور ورکوي.

iii. دپیسو پربازار څار Controller of Money Market:مرکزي بانک باید د پیسو بازار په بشپړه توګه تر خپل څار لاندې راولي(د پیسو له بازار څخه مراد هغه اداري دي چې د پورد راکړې ورکړې معاملې ترسره کوي. )نوموړی

(c) ketabton.com: The Digital Library





بانک د پیسو د بازار د څار لپاره ځيني اقدامات تر سره کوي چې د پولي پالیسیو په نامه یادیږي.

iv. پرتبادلې څار Exchange Control: د تبادلې د کنټرول موخه د یوهېواد کرنسي د بل هېواد د کرنسۍ په تبدیلېدو د مرکزي بانک کنټرول دی، چې مرکزي بانک په هېواد کې ټولې تبادلې په خپل واک کې لري.

v. پرمختيايي رول: مرکزي بانک په هیواد کې ډیره اړینه اداره ده، چې د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې مهمه ونډه لري. په هیواد کې بیلا بیلو سکتورنو ته مالي امکانات برابروي او هیوادونه له اقتصادي بحرانونو څخه ژغوري.

## سوداګریز بانک Commercial Bank:

سوداګریز بانکونه دیو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهمه ونډه لري.که په یوهېواد کې سوداګریز بانکونه شتون ونلري نو دهغوهېوادونو اقتصادي پرمختګ له خنډ سره مخامخېږي؛او په اسانۍ سره نشي کولای چې خپل اقتصادي پرمختګ ته ادامه ورکړي.

دا چې سوداګریز بانک د پرمختګ یو عامل دی، نو په اکثره پرمختيايي هېوادونو کې عام خلک پیسې سپموي، چې دغه سپماوې په دوه ډوله دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





1. تولیدي سپما: عبارت له هغې سپما څخه ده، چې د بیلابیلو اقتصادي کړنو په تمویل کې ترې استفاده کېږي؛ او په اقتصادي پر مختګ کې ونډه لري.
2. غیرې تولیدي سپما: په دې ډول سپماو کې پیسې له اقتصادي جریان څخه وځي، په پیسو کې عدم تعادل را منځته کېږي،بانکونه له تادیاتي ستونزو سره مخامخېږي، او د پیسو د کمبود سبب ګرځي.په دغه ډول سپماو کې، عام خلک پیسې په کورونو کې زېرمه کوي.

له بله طرفه "کېنز" د غیرې تولیدي سپما په هکله وایي:" همدا غیرې تولیدي سپما ده، چې په اقتصاد کې د پیسو د عدم تعادل سبب ګرځي"

همدارنګه د اقتصاد دعلم له نظره پانګه د تولید یو عامل دی؛ چې د سپما په اساس را منځته کېږي، چې په دې نقطه کې بانکونه اساسي نقش لري، ځکه بانکونه دي چې عام خلک د رسنیو له لارې، هڅوي ترڅو په کورونوکې زېرمه شوې پیسې بانکونه ته په بیلا بیلو حسابونو(جاري حساب،معیادي حساب،مضاربت) ورکړي؛ او دغه غیرې تولیدي سپما په تولیدي سپما بدله کړي، چې دغه تبادله د سوداګریزو بانکونو په واسطه صورت نیسي، ورسره پیسې په اقتصادي جریان کې لویږي، او د اقتصاد په بیلا بیلو څانګو لګول کېږي؛ چې له یو طرفه عامو خلکو ته ګټه رسوي او له بله طرفه د پیسو د عدم تعادل مخه نیول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





سوداګریز بانکونه هغه بانکونه دي، چې په مخامخ ډول د موسساتو،سازمانو او عامو خلکو په چوپړ کې دي او د بانکي سیستم مهمه حلقه تشکیلوي. سوداګریز بانکونه له مشتریانو سره سوداګریز اړېکي لري او د کړنو اصلي موخه یې د ګټې لاسته راوړل دي؛ د بانکي قوانینو پر اساس سوداګریزبانکونه د پیسو کاروبارکوي، د عامو خلکو سپما شوې پیسې د امانت په ډول اخلي، اړمنو خلکو ته یې د پور په ډول ورکوي، په کم سود امانتونه حاصلوي، او په زیات سود یې ورکوي، چې د دواړو سودونو تر منځ تفاوت د بانک ګټه تشکیلوي.

سوداګریزبانکونه په اکثره پرمختللوهېوادونوکې مشتریانوته مالي اړتیاوې برابروي چې د ګټې په منظور د بانک دندې سرته رسوي عام خلک خپلې اضافه پیسې بانک ته د امانت په ډول ورکوي؛ او په عوض کې یې سود اخلي بانک هم اړمنو خلکوته (صنعت کارانو،سوداګرو،کروندګرو) ته پیسې د پور په ډول ورکوي. دوی هم په بدله کې سود اخلي چې د دواړو سودونو تر منځ تفاوت د بانک ګټه تشکیلوي؛ او له همدې ګټې بانک خپل لګښتونه پوره کوي.سوداګریز بانکونه له هغو خلکو څخه چې پانګه ولري، او د کاروبار جوګه نه وي پانګه اخلي کاروباري خلکوته یې ورکوي ،چې پدې برخه کې بانک لاندې دندې سرته رسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library





## په افغانستان کې د سوداګریزو بانکونو را منځته کېدل:

په افغانستان کې د بانکونو له رامنځته کېدو څخه وړاندې صرافانو د بانک دنده سرته رسوله چې د هغوی د کړنو بڼه ډېره ساده وه ،هر هغه چا چې له صراف سره د پولي راکړې ورکړې معاملې تر سره کولې د خپل سپارل شوي امانت یا د پېسو په بدل کې سند ترلاسه کاو، چې د دغه سند له مخې مالک کولای شول خپلې پېسې ترلاسه کړي او یا هم یو شخص کولای شول چې په یو ښار کې یو تن صراف ته خپلې پیسې ورکړي او په بل ښار کې د سند له مخې خپلې پیسې ترلاسه کړي چې دغه دنده په کابل ولایت کې د شهزاده سرای صرافانو سرته رسوله. د پیسو د حجم زیاتوالي او د سیستم پېچلي کېدو له امله له یو صراف سره د پیسو ساتل ستونزمن شول نو په دې اساس ټول صرافان سره را ټول او یوه لویه صرافي یې جوړه کړه؛ مامورین یې وټاکل، چې د عامو خلکود پیسود استولو په مقابل کې یې اجوره اخېسته.ترڅو په کال (1311هـ ش) د عبدالمجیدخان "زابلي "په کوښښونو، د افغان ملي بانک د9.6 میلونو افغانیو پانګې تا سیس ؛چې 28% د دولت ونډه او 72% خصوصي سکتور ونډه پکې لرله. تر یوې مودې، وروسته بیا دا بانک ټول ملي اعلان شو؛یعنې د خصوصي سکتور کلمه له منځه ولاړه او د مالیې وزارت تر څارنې لاندې راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د افغان ملي بانک له ملي کېدو سره سم دې ته لاره جوړه شوه ،تر څو د دولت لپاره یو بانک جوړ شي،چې په کال (1318هـ ش) د افغانستان بانک د (125-120)میلونه افغانیو لومړنی پانګې په اندازه تاسیس شو.

کله چې د هېواد اقتصاد وده وکړه ،د هېواد په سیاسي حالاتو کې بدلون راغی، ورسره یو شمیر نور بانکونه هم تاسیس شول چې عبارت ول، له:

- پښتني بانک
- ګروي او تعمیراتي بانک
- کرنیز پرمختیایي بانک
- ګلاب الدین شیرزایي بانک
- د صادراتو د پراختیا بانک
- دصنعت د پرمختګ بانک

په هېواد کې د نوي حکومت په رامنځته کېدو سره، د نورو سکتورونو په څېر د مالي سکتور رغول هم اړین امر و تر څو په هېواد کې یو منظم مالي سیستم رامنځته شي.نو په دې اساس په کال 1382هـ ش د افغانستان د بانکوالۍ نوي قانون تصویب شو چې له پخواني قانون سره یې په بشپړه ول توپیر درلود. د نوي قانون په اساس دافغانستان بانک د هېواد مرکزي بانک او په خپلو معاملاتو کې یې خپلواک، بانکي فعالیتونه یو ځل بیا پیل کړل. دافغانستان بانک د نوي قانون 85 مادې په اساس هر څوک یا بهرني بانکونه که

(c) ketabton.com: The Digital Library





وغواړي په هېواد کې بانکي فعالیتونه پیل کړي؛ دبانکي شرایطو په پوره کولو سره د افغانستان بانک څخه د کړنو جواز ترلاسه کولای شي. د نوي قانون له تصویب سره سم په هېواد کې د بانکوالۍ سیستم د پام وړ پرمختګ وکړ. په کال 1381هـ ش د افغانستان د بانکوالۍ د سیستم ټولیزه شتمني 60 میلونه ډالر وه، حال دا چې په اوسني وخت کې دغه شتمني څه باندې3 ملیاردو ډالرو ته پورته شوې چې د هېواد په تاریخ کې بې ساری پرمختګ دی.د افغانستان بانک له خوا د نوي قانون له تصویبېدو سره سم یو شمیر سوداګریزو بانکونو د فعالیت جوازونه ترلاسه کړل چې په لاندې ډول دي:

- ❖ د افغان ملي بانک Afghan Millie Bank
- ❖ پښتني بانک Pashtani Bank
- ❖ نوي کابل بانک New Kabul Bank
- ❖ عزیزي بانک Aziza Bank
- ❖ میوند بانک Maiwand Bank
- ❖ باختر بانک Bakhtar Bank
- ❖ افغان یوناټید بانک Afghan United Bank
- ❖ د افغانستان نړی وال بانک Afghanistan International Bank
- ❖ارین بانک Arian Bank
- ❖ دافغانستان تجارتي بانک Afghanistan commercial bank

(c) ketabton.com: The Digital Library





# څلورم څپرکی

## سوداګري او صنعت خونه

## (chamber of commerce and industry)

کاروباري خلک خپلو ټولنیزو ګټو د ساتلو او پراختیا لپاره سوداګریز او صنعتي سازمانونه جوړوي چې دغه سازمانونه دموخو، کړنواو جغرافیوي موقعیت له مخې یو بل سره توپیر لري او د دغو سازمانو له ډلې یوه د سوداګرۍ خونه ده. د سوداګرۍ خونه یوه داسې اداره ده چې د سوداګرو ټولنیزې او انفرادي ګټې خوندي کوي،په کاروباري مسایلو کې ورته لارښوونه کوي.په ځینو هیوادنو کې دې ته د سوداګرۍ او صنایعو خونه هم وایي چې د سوداګرۍ او صنایعو خونه د سوداګرو څخه علاوه د صنعتکارانو استازولي هم کوي.دسوداګرۍ او صنعت خونه د یوې سیمې د بیلابیلو سوداګرو،صنعت کارانو او تولیدونکو خوښمنه ټولنه ده چې په یو هیوادکې د کامرس اوصنعتي کارونودپراختیا لپاره کار کوي.همدارنګه د نړیوالو اړیکو ساتلو لپاره نړیوالې سوداګریزې او صنعتي خونې جوړېږي چې د نړیوالو سوداګریزو او صنعتي خونو په نامه یادیږي،د لومړي ځل لپاره په کال 1599میلادي کې د سوداګرۍ خونه جوړه شوه. همدارنګه په کال 1773میلادي په امریکا کې 1768 میلادي کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګرۍ خونې منځته راغلې،چې اوسمهال د نړۍ ټول پرمختیايي او پرمختللي هیوادونه د سوداګرۍ او صنعت خونې لري.



دسوداګریزو اوصنعتي خونو دندې: په هیوادنو کې سوداګریزې اوصنعتي خونې د لاندې موخو د لاسته راوړلو لپاره جوړیږي:

- د هیوادونو د اقتصادي ګټو او په ځانګړې توګه د سوداګرو او صنعتکارانو د ګټو د خوندي توب لپاره دندې تر سره کوي.
- په هیوادونو کې د کاروبار،صنعت او سوداګرۍ د پرمختګ لپاره کار کوي.
- د سوداګریزو خنډونو له منځه وړل یا راکمول،
- د صنعت او سوداګرۍ مسایلو د حل لپاره کوښښونه،
- د صنعت او سوداګرۍ قوانین په منصفانه ډول عملي کول،
- د سوداګرو او صنعتګرو ترمنځ د یووالي هڅې،
- حکومت ته په اقتصادي اوسوداګریزو کارونو کې سلا ورکول،
- د مالیې د کموالی لپاره هڅې،
- د حکومت ،سوداګرو او صنعتګرو ترمنځ د اړیکو ټینګول،
- د هیواد په داخل او بهر کې د کاروباري موقې پیدا کول او دهیواد اوسیدونکو ته معلومات ورکول،

(c) ketabton.com: The Digital Library





- د وارداتو لپاره سوداګروته له مرکزي بانکونو څخه بهرني اسعار د ترلاسه کولو لپاره هڅې،
- په نړیوالو نندراتونوکې ګډون او په هغوکې د هیوادونو توکي ننداري ته وړاندې کول،
- د هیواد اوسیدونکو ته د نړیوالې سوداګرۍ په هکله معلومات ورکول او سوداګریزې اړیکې ټینګول،
- په سوداګریزو معاملاتو کې یوشان والی رامنځته کول،
- د سوداګروتهیه نړیوالو کاروباري سفرونو کې اسانتیاوې رامنځته کول.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه:دافغانستان د سوداګرۍ او صنایعود پخوانۍ خونې، چې 1931 میلادي کال کې تاسیس شوې وه او یو ډول یې په دولتي چوکاټ کې فعالیت کاو او د افغانستان د سوداګرۍ د نړیوالې خونې له ادغامه، چې په 2004 میلادي کال کې د خصوصي پانګوالو له خوا تاسیس شوې وه، د 1386 کال د کب د میاشتې پر 19مه نېټه، چې د 2008 کال د مارچ له 9مې سره سمون خوري،دیوغښتلي، اغېزمن او خصوصي سکټور د رښتیني استازي بنسټ په توګه رامنځته شوې ده.د سوداګرۍ خونه د یو اغېزمن او خصوصي سکټور د مدافع بنسټ په توګه، د ملي سوداګرو او پانګوالو د لازمې مرستې او ملاتړ سره سره، په افغانستان کې بهرنیو او نړیوال پانګوال هم د د یوې بریالۍ پانګونې لپاره ملاتړ او مرسته ور سره کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د افغانستان د خصوصي سکټور په چوکاټ کې په خپلو کړنو سره خپلو موخو ته ورسېږي.



د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونه سره سربېره پر دې، چې مرکزي دفتر يې په کابل کې موقعيت لري، په 20 ولايتونو او يوه بله ولسوالۍ کې هم ولايتي څانګې لري،چې دا ولايتي خونې په بدخشان، بادغيس، باميان، فرا ، فارياب، غزني، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، کاپيسا ، کونړ، کندوز، خوست، مزار شريف، ننګرهار، نيمروز، پکتيا ، پروان، او تخار ولايتونو او همدا ډول په اندخوي ولسوالۍ کې هم په فعاله توګه د هېواد د خصوصي سکټور او سوداګريزې ټولنې پر وړاندې چوپړتياوې تر سره کوي.

په بهرنيو هېوادونو کې د خونې څانګې او اړوندې سوداګريزې ادارې:

- د افغان او امريکا د سوداګرۍ ګډه خونه
- د افغان او بريتانيا د سوداګرۍ ګډه خونه
- د افغانستان- کاناډا سوداګريزه شورا
- په عربي متحده اماراتو کې د افغانستان سوداګريزه شورا
- د افغان- کليفورنيا سوداګريزه شورا
- په مسکو کې د افغانانو سوداګريز مرکز
- په کابل او ترکيه کې د افغان- ترک سوداګريزه شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د هالنډ- افغانستان سوداګریزه شورا
- په کابل کې د کرواسي سوداګریزه شورا
- په کابل کې د قزاقستان د سوداګرۍ او صنایعو خونو څانګه



## د افغانستان او نورو هیوادونو ګډې خونې:

- -دافغان –ایران د سوداګرۍ ا وصنایعو خونه،
- - د افغان - پاکستان د سوداګرۍ خونه،
- -دهرات-مشهد سوداګریزه خونه،

نړېوال مرستندویان:

- د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه له لاندې نړیوالو بنسټونو سره د افغانستان د نړېوالې سوداګرۍ د پراختیا او پیاوړتیا او سیمې له ټولو هېوادونو سره د افغانستان د اړیکو د پیاوړي کولو په موخه د نړیوالو شریکانو په توګه تړونونه لاسلیک کړي دي:
  1. د سوداګرۍ او صنایعو خونه
  2. د پاکستان د سوداګرۍ او صنایعو خونو فدراسیون،
  3. د هندوستان د صنعت اتحادیه،
  4. د قزاقستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه،
  5. د قرغزستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه،
  6. د هندوستان د سوداګرۍ او صنایعو خونو

(c) ketabton.com: The Digital Library





فدراسیون،

7. د بنګلدیش د سوداګرۍ او صنایعو خونو فدراسیون،

8. د سریلانکا د سوداګرۍ خونه،

9. د بوتان د سوداګرۍ او صنایعو خونه،

10. د نیپال د سوداګرۍ او صنایعو خونه،

11. د مالدیف د سوداګرۍ او صنایعو خونه،

12. د کروشیا د اقتصاد خونه،

13. د بلغاریا د سوداګرۍ او صنایعو خونه،

نړیوال بنسټونه: همدا ډول د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه د نړېوالي سوداګرۍ اتاق(ICC)، د اسلامي سوداګرۍ خونه(ICC)، د سویلي آسیا د سیمه ییزو سوداګریزو همکاریو خونه(SAARC)، د واټ(IRU) د ټرانسپورټ سازمان، د سویلي آسیا د همکاریو د سازمان(SAARC)، د کار د نړېوال سازمان(ILO) او د ایکو یا اقتصادي همکاریو د سازمان(ECO) غړیتوب هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## نړیوال سوداګریز سازمان

## (World Trade Organization-W.T.O):

له دویم نړیوال جنګ وروسته په کال 1948میلادي کې د نړۍ پنځه ځلوېښت هیوادونه په کیوباهیواد کې سره راغونډاودنړیوالې سوداګرۍ د پرمختګ لپاره یې یو تړون لاسلیک کړ چې دغه تړون د سوداګرۍ او تعریفي(General Agreement on Trade (GATT) and Tariff)په هکله وه.چې د دې تړون اصلي موخه د داسې قوانینو جوړول و ترڅو نړیواله سوداګري پرمختګ او د تړون غړي هیوادونو د تادیاتوبیلانس کسر لمنځه یوسي.تر لږ وخت وروسته دغه اداره په خپلو موخو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





بریالۍ نشوه نو له همدې کبله دې ته اړتیا پیښه شوه تر څو په کال 1994میلادي کې د مراکش په رباط ښار کې یو کانفرانس جوړ او د نړیوال سوداګرۍ سازمان ( World Trade Organization-W.T.O ) د جوړېدو پریکړه وکړه. نړیوال سوداګریز سازمان د نړۍ د بیلابیلو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ قوانین جوړوي، نړیوال سوداګریز سازمان په 1995میلادي کال کې په عملي بڼه منځته راغې. د نړیوال سوداګریز سازمان مرکز د سویس په جینوا ښارکې دې.ټول 600تنه کار کوونکي لري او د کال 160 میلونه سویسي فرانک کلنۍ بودجه لري.نړیوال سوداګریز سازمان اوسمهال 150 غړي هیوادونه لري.نړیوال سوداګریز سازمان د پریکړې کولو حق نلري. د دې سازمان غړي هیوادونه پریکړې په خپله کوي چې د رایو په اکثریت صورت نیسي.هرغړي هیواد د یوې رایې حق لري.د نړیوال سوداګریز سازمان د پریکړونیولو تر ټولو ستره مرجع وزارتي کانفرانس (Ministerial Conference ) چې هرو دو کالو کې کم تر کمه دایریږي چې په دویم قدم کې جنرل کونسل(General Council ) په جینوا کې شتون لري او د غړو هیوادونو سفیران په کې ګډون کوي. ددې تر څنګ یو شمیر نور کاري ګروپونه، خصوصي کومیټې او نورې کومیټې چې بیلابیل کارونه ورته سپارل شوي تر سره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نړیوال سوداګریز سازمان موخې:نړیوال سوداګریز سازمان خپلې دندې د لاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره سرته رسوي.

- صادراتواووارداتوکې مرسته:نړیوال سوداګریز سازمان تولیدوونکو، صنعتکارانو،ورادوونکو او صادروونکو سره مرسته او لارښوونه کوي تر څو نړیواله سوداګرۍ په راکړه ورکړه کې اسانتیا رامنځته کړي.
- د سوداګرۍ پراختیا: د نړیوال سوداګریز سازمان موخه د ازادې سوداګرۍ له لارې د نړیوالې سوداګرۍ پراختیا ده.ترڅو د خلکو په حقیقي عاید کې زیاتوالي راشي.
- کار پیدا کول: د نړیوال سوداګریز سازمان بله موخه په تولید او سوداګرۍ کې پراختیا رامنځته کول دي ترڅو خلکو ته مکمل کار پیدا شي او د خلکو د ژوند سطحه پورته ولاړه شي.
- د وسایلو ښه کارول: د نړیوال سوداګریز سازمان بله موخه د داده چې په نړۍ کې شته انساني او طبیعي وسایل په ښه توګه وکارول شي او هیوادونه په اقتصادي لحاظ پرمختګ وکړي او دهیوادونو په اقتصادي پرمختګ کې پیاوړتیا رامنځته کړي.

د نړیوال سوداګریز سازمان دندې:نړیوال سوداګریز سازمان د پورتنیو موخو د تر لاسه کولو لپاره لاندې دندې سرته رسوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





- پر سوداګریزو تړونو عمل: نړیوال سوداګریز سازمان سوداګریزو تړونو ته د عمل جامه اغوندي واردوونکو ته د وارداتو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کوي او هغوی ته په دې هکله لارښوونه هم کوي.
- د سوداګریزو اړیکو پراخول: نړیوال سوداګریز سازمان د غړیو هیوادونو تر منځ سوداګریزو اړیکو ته پراختیا ورکوي او د ټینګوالي لپاره یې اصول جوړوي.
- سوداګریزو پالیسو جوړول: نړیوال سوداګریز سازمان د وخت په اساس هیوادونو ته نوې پالیسۍ جوړوي.
- نړیوالو سازمانو ترمنځ اړیکي: نړیوال سوداګریز سازمان په نړۍ کې د اقتصادي وضعې د پیاوړتیا په موخه د نړیوالو سازمانو ترمنځ ( نړیوال بانک، نړیوال فنډ وروکوونکي سازمانونه ... ) اړیکې ټینګوي او یو له بل سره همکاري کوي.
- تخنیکي مرسته: نړیوال سوداګریز سازمانونه وروسته پاتې، پرمختیایي او پرمختللو هیوادنو ته د سوداګرۍ په اړه تخنیکې مرستې کوي او په بیلابیلو برخو کې ورته لارښوونه کوي.
- سوداګریزې سلاوې: نړیوال سوداګریزسازمان غړیو هیوادونو ته سوداګریزې سلاوې ورکوي تر څو په خپل منځ کې سوداګریز معاملات ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د نړیوال سوداګریز سازمان پنځه بنسټیز اصول:** نړیوال سوداګریز سازمان د لاندې اصولو له مخې خپلې دندې سرته رسوي:

- **بلا امتیازه سوداګري:** نړیوال سوداګریز سازمان له هیڅ یو هیواد سره امتیازي چلند نه کوي له ټولو غړو هیوادونو سره یو شان د صادراتو او وارداتو په برخه کې چلند کوي او پر ټولو یو شان قوانین تطبیقوي.
- **وارداتي او کورنیو توکو یوشان والی:** ورادتي او کورنیو توکو ته په یوه سترګه کتل په دواړو یو شان مالیه وضعه کول کورنیو توکو ته په بهرنیو توکو ترجیح نه ورکول.
- **ازاده سوداګري:** د نړیوال سوداګریز سازمان یو اصول دا دی چې د غړیو هیوادونو تر منځ باید سوداګري ازاده وي. د سوداګریزو خنډونو د لرې کولو لپاره د غړیو هیوادنو تر منځ خبرې کول او د ځینو ځانګړو حالاتو څخه علاوه په مقداري سوداګري د خنډونو ختمول.
- **روڼ عمل:** د نړیوال سوداګریز سازمان د غړیو هیوادونو ترمنځ ټول تړونونه صاف او شفاف وي، پرکومو سوداګریز تړونونه چې عمل کوي لاسلیکوي یې.
- **په محصولات کې کموالی:** نړیوال سوداګریز سازمان غړي هیوادنه پر دې خبره پابندوي چې خپل محصولات کم کړي.

**د نړیوال سوداګریز سازمان د غړیتوب د اخېستو طریقه:** د نړۍ ټول خپلواک هیوادونه چې دغه لاندې مراحل طي کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library





کولای شي د نړیوال سوداګریز سازمان غړیتوب تر لاسه کړي.

- غوښتنلیک: کوم هیواد چې غواړي د نړیوال سوداګریز سازمان غړیتوب تر لاسه کړي نو نړیوال سوداګریز سازمان ته یو غوښتنلیک ورکوي چې په دې غوښتنلیک کې د هیواد د سوداګرۍ او اقتصادي وضعې په هکله معلومات وي. نړیوال سوداګریز سازمان د غوښتنلیک د تر لاسه کولو وروسته یو کاري ډله لري د غه کاري ډله غوښتنلیک څیړي تر څیړنې وروسته رپورټ وړاندې کوي.
- له نوي غړي هیواد ژمنه: د نړیوال سازمان کاري ډله له نوي هیواد څخه ژمنه(Commitment) اخلي چې په ټولو هیوادونو یو شان تطبیقیږي.
- د غړیتوب شرایط: د نړیوال سوداګریز سازمان کاري ډله له نوي هیواد څخه اړین معلومات تر لاسه کوي او د غړیتوب شرایطو مراحل طي کوي.
- د غړیتوب پریکړه: د نوي غړیتوب د تر لاسه کوونکي هیواد په هکله د معلوماتو یو فایل جوړوي. د غه فایل د نړیوال سوداګریز سازمان جنرال کونسل یا وزارتي کانفرانس ته وړاندې کوي، جنرال کونسل پرې رایه اچوي که رایه مثبته وه غوښتنلیک منظوریږي او نوی غړی هیواد د نړیوال سوداګریز سازمان پرتوکول لاسلیکوي، چې له دې وروسته هیواد د نړیوال سوداګریز سازمان غړی ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په 2004 کال کې د نړیوال سوداګریز سازمان د څارن په توګه د دغه سازمان غړیتوب تر لاس کړ.



## د ونډو بازار

## Stock Exchange

د دې لپاره چې د کمپنۍ په هکله مو په لومړي څپرکي کې بشپړه څېړنه وکړه، نو اړینه بریښي تر څو د کمپنیو ونډې څنګه پیردول او پلورل کیږي د موضوع د روښتیا لپاره اړینه ده چې د ونډو بازار وپیژنو.کله چې څوک د ونډو په پېرلو سره په کمپنۍ کې ګډون یا شرکت کوي نشي کولای خپل ګډون کله چې یې زړه وغواړي له منځه یوسي بلکې تر څو چې کمپنۍ وي دا کار نشي کیدای خو له دې سره سره ځینې ګډون کوونکي بیا هم غواړي خپله ونډه په نغدو بدله کړي ځکه خو ونډو پیردونکي ته له وړاندې د دې خبرې ضمانت ورکول اړین وي چې د اړتیا په وخت دوي څنګه کولای شي تر څو خپله ونډه په نغدو بدله کړي؟همدرانګه په نړۍ کې له صنعتي اوښتون وروسته ډیرې لویې صنعتي او سوداګریزې ادارې رامنځته شوې چې د دې کمپنیو تمویل او د پانګې د لیږد د اسانتیاو له کبله د ونډو د بازار اهمیت لا پسې ډیر شو.د ونډو د بازار له کبله لویې کمپنۍ په اسانۍ سره پانګه تر لاسه کولای شي.د ونډو بازار کمپنیو ته اوږد مهاله تمویل برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ونډو بازار هغه بازار ته وايي چې د کمپينو ونډې او نورو ارزښتناک اسناد و پيرل، پلورل له يو وګړي بل وګړي ته پکې دليږدولو چارې تر سره کيږي.

همدارنګه ګارګ (Gorg) د ونډو د بازار په هکله داسې وايي: د ونډو بازار د وګړويو ټولنه ده چې د اجورې په مقابل کې عامو خلکو ته ونډې او بانډونه پيري او پلوري چې د خصوصي قواعدو په داخل کې دغه معالات تر سره کوي.

دونډو بازار د دې لپاره جوړ شوي تر څو ونډه لرونکي ونډې په نغدو بدلې، په کمپنۍ کې ګډون ختم، همدارنګه هغه خلک چې غواړي ونډې وپيري په کمپنيو کې ګډون وکړي.

په عمومي ډول د يوې کمپنۍ ونډه دوه ډوله پلورکيږي. يو ډول يې هغه ده چې دوه کسان په خپل منځ کې د کومې ادارې له منځګړيتوب پرته يې پلوري او دويم ډول يې هغه دي چې د ادارې په منځګړيتوب پلورل کيږي، دغې ادارې ته سټاک مارکيټ (Stock Market) وايي کومه چې د ونډو خرڅولو څارنه او يا يې منځګړيتوب کوي. د ونډو کومه راکړه ورکړه چې له بازار څخه بيرون صورت نيسي، هغې ته Over The Counter Transactions وايي چې ځانګړي قوانين نلري ځکه خو يې زده کولو ته هم اړتيا نشته او کومه راکړه ورکړه چې په بازار کې دننه ترسره کيږي ځيني اصول لري چې زده کول يې اړين دي، هغه دا چې د ونډو بازار يوه شخصي اداره وي د حکومت او اجازې او څارنې لاندې پکې د هغو کمپنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library





دونډو راکړه ورکړه تر سره کیږي، کومې چې د باور وړ وي او څه ناڅه پشتوانه هم ولري. دغه ډول کمپنیو ته Listed Companies لیست شوې کمپنۍ وايي د کومو ونډې چې له بازار څخه د باندې هم پلورل کیږي. د دغه ډول کمپنیو ونډې کله له جوړښت څخه وروسته او کله هم د مخه د حکومت له اجازې وروسته پلورل کیږي او کله خو یې لا د ونډو د تیارولو د مخه حکومت کمپنۍ ته د ونډې د پلورلو اجازه ورکوي چې موقته اجازه (Provisional) ورته وايي. پلورنکي هم جلا وي د کومو کمپنیو ونډې چې په بازار کې دننه نشي پلورل کیدای هغو ته Unlisted Companies کمپنۍ وايي.

**دونډو د بازار ځانګړتیاوې:** د ونډو بازار لاندې ځانګړتیاوې لري:

1. د ونډو د بازار غړي محدود وي. ټول غړي د غړیتوب د تر لاسه کولو لپاره د ونډو له بازار سره ځان راجستروي چې د ونډو د بازرا له خواورته یو پیژندکارت ورکول کیږي او هغې وروسته شخص کولای شي ونډې وپیري او یا یې وپلوري.
2. د ونډو بازار د هیواد یوه قوي مالي اداره وي چې د هیواد د وګړو پانګه او پانګونه په کې شامله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





3. د وندو او نورو ارزښتناکو اسنادو پیرل او پلورل د وندو په بازار کې د ځانګړو قوانینو په اساس تر سره کیږي چې د هیواد د حکومت لخوا منل شوي وي.
4. د وندو بازار په خپله وندې نه پلوري بلکې خپلو غړیو ته د وندو د پیرلو او پیرودلو موقې برابروي.
5. د وندو د بازار غړي په تمویل کې ډیره پوهه لري، نو له دې کبله د وندو په بازار کې پانګونه ناقصه نه وي.
6. د وندو په بازار کې بیرون خلک مستقیما دوندو پیرودل او پلورل نشي کولای.
7. د وندو په بازار کې د وندو کاروبار په ډیره امانتوالۍ سره تر سره کیږي.

د وندو د بازار دندې: د وندو بازار د هیواد د اقتصادي پرمختګ لپاره لاندې دندې ترسره کوي:

- د وندو بازار په هیواد کې خلک پانګونې ته هڅوي.
- د وندو بازار په هیودا کې د پانګې لیږد رامنځته کوي.
- د وندو بازار د ځانګړو قوانینو له مخې خپلې دندې ترسره کوي، نو له دې کبله دلته د جعلي او نورو غیري قانوني کړنو مخنیوی کیږي.
- د وندو د بازار له کبله په هیواد کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه پراخوالۍ پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





- د ونډو بازار د خلکو ورې ورې سپماوې په لویو لویو ګټمنو صنعتي او سوداګریزو کمپنیو کې لګوي.
- د ونډو د بازار له کبله د لویو لویو صنعتي او سوداګریزو کمپنیو جوړول اسانېږي.
- د ونډو بازار پانګوالو ته د ونډو او نورو ارزښتناکو سندونو د قیمتونو په هکله معلومات ورکوي تر څو هغوي ته د ونډو په پیرلو او پلورلو کې اسانتیاوې رامنځته شي.

**د ونډو د بازار غړیتوب:** د ونډو په بازار کې هر څوک نشي کولای ونډې وپلوري. ددې کار د ترسره کولو لپاره د ونډو د بازار غړیتوب اړین دی چې د فیس یا اجورې په ورکولو تر لاسه کیږي. دا ځکه چې هلته کوم کارونه ترسره کیږي ډیر غټ، نازک او په ځانګړې طریقه ترسره کیږي.د هغه اصلاحات هم جلا وي چې نابلده او کم تجربه سړی تیروزي او د ونډو په بازار کې د کیدونکو کارونو مسوولیت د ونډو د بازار د ادارې پر غاړه وي او هغه نشي کولای د هر سړي د کار مسوولیت په غاړه واخلي ځکه خو د بازار غړیتوب ترلاسه کول اړین دي.

**دونډو د بازار غړیو ډولونه:** دونډو د بازار غړي لاندې ډولونه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library





- منځګړی Broker: منځګړی د ونډو د بازار یو داسې غړی دی چې د ونډه پیرونکي او پلورونکي ترمنځ د استازي په توګه کارکوي چې د ونډو پیراو پلور د عامو خلکو لپاره کوي او د خپلو چوپړتیاو په بدل کې اجوره اخلي، کوم ته چې منځګړتوب(Brokerage) وايي. منځګړی په خپله د ونډو پلور او پیر نه ترسره کوي بلکې پیرونکو او پلورونکو ته اړین مالومات ورکوي او په ونډو کې د پانګونې په اړه سلاوې هم ورکوي.کله چې ونډو پیرونکي او ونډه پیرودونکي ورته اختیار ورکړي نو هغه ورته د استازي په توګه کار ترسره کوي.

د ونډو په بارازکې منځګړتوب: دونډو د بازار غړي د خپل ځان او منځګړي په توګه د نورو خلکو لپاره د اجورې په بدل کې ونډې اخلي، که بل څوک ونډه پیرل غواړي د ده په مرسته یې له غوښتنې وروسته پیرلای شي چې د غه غوښتنه درې ډوله وي:

- د مارکیټ بیه Market Order:په دې غوښتنه کې منځګړی ته ویل کیږي چې ماته د فلانۍ کمپنۍ ونډه د مارکیټ په بیه واخله.
- ځانګړې غوښتنهLimited Order:په دې غوښتنه کې منځګړی ته ویل کیږي چې که ونډه پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمت سره پیدا کیده وېي پېره او که نه پیدا کیده مه یې پېره.

- مشروطه غوښتنه Stop Order: په دې غوښتنه کې د ونډې ښتن منځګړی ته وایي چې که د ونډې بیه په خپل حال وه او یا پورته شوه نو مه یې پلوره او که بیه یې ولویده نو وپیره.

- دنده وال (Jobber): دنده وال د ونډو د بازار حقیقي استازی وي چې د ونډو او نورو ارزښتناکو اسنادو د ښتن په توګه د ونډو او نورو اسنادو پیرودل او پلورل تر سره کوي چې د ونډو او نورو اسنادو د ګټې او زیان مسوول وي او د استازي او کاروند په توګه کار نه تر سره کوي چې له مشتریانو سره مسقیما توګه په اړیکه کې نه وي. بلکې د ده او مشتریانو ترمنځ دلال د استازي په توګه کار ترسره کوي او دونډو دقیمت په هکله ورسره خبرې اترې کوي. دنده وال په عمومي ډول د هررنګه ونډو پیرودل او پلورل نه ترسره کوي، بلکې د ځانګړو ونډو پیرودل او پلورل تر سره کوي او دهغوی په هکله تازه تازه معلومات له ځان سره ساتي.

د ونډودبیو تاکل: دونډو په بیو کې کمښت او زیاتوالی راځي چې په دې کې د کمپنۍ د جایدادونو ډیر لاس وي داسې چې د جایدادونو د بیو د لوړوالي سره د ونډو بیې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوړېږي او له دې پرته نور ډېر لاملونه شته چې د ونډو په بیو اغیزې لري د بیلګې په توګه د ګټې امکانات، د غوښتلو اورسولو څواکونو پیاوړتیا، سیاسي حالت، هوا حالت او همداسې غیرې مادي لاملونه لکه اوازې او تخمینونه دا چې باندني توکي هم د ونډو په بیو اغیز لري نوځکه ویل کیږي چې د ونډو بیې د کمپنۍ ربښتوني حالت استازي توب نشي کولای. د کومو ونډو بیه چې لوړه شي د ونډو دبازار په اصطلاح کې Bull Market وایي اود کومو بیې چې راولویږي هغوی ته Bear Market وایي.

ونډه پیرونکي: د کمپنیو ونډې دوه ډوله پیرودل کیږي:

- ځینې خلک ونډې په کمپنۍ کې د ګډون په نیت پیري له ځان سره یې ساتي او کلنۍ ګټه یې ترلاسه کوي خو داسې خلک ډېر کم وي.
- ځینې نور خلک بیا ونډې د سوداګرۍ لپاره پیري داسې چې ونډې کمه بیه پیري او په لوړه بیه یې پلوري چې د دواړو بیو ترمنځ تفاوت د شخص ګټه جوړوي.د بیو د لوړوالي له امله کوم عواید ترلاسه شي هغو ته Capital Gain وایي دا سوداګرۍ د اټکل له مخې تر سره کیږي داسې چې په اټکل سره دا معلومولای شي. د دغو ونډو بیې په راتلونکي کې لوړیږي او د هغو نورو بیې رالویږي د اټکل دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار ته Speculation وایي چې کله سم او کله ناسم خیږي.

ستهه باز**Speculator**: د ونډو بازار یو داسې منظم منډوي دی چې په هغه کې ونډې پیرل او پلورل کیږي. د ونډو پیرودونکي او پلورونکي یا پانګوال وي یا ستهه باز، پانګوال د ګټې په موخه ونډې پیري او ستهه باز ونډې دوړاندوینې په نظر کې نیولو سره ونډه د ژر ګټې لپاره پیري د ونډې په بازار کې ډیرستهه بازان وي چې د بیلابیلو ځانګړتیاو په اساس ورته نومونه ایښوول شوي چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

- سنډا Bull: کله چې دونډو په بازار کې د ونډو قیمت پورته لاړ شي نو سنډا یا بیل ورته وایي. بیل ستهه باز هغه ستهه باز ته وایي چې د ونډو په بازار کې د ونډو دقیمت د لوړوالي څخه ګټه لاسته راوړي دا ستهه باز د قیمت د لوړوالي په موخه ونډې اونور ارزښتنانک اسناد پیري کله چې د وړاندوینې له مخې قیمت پورته لاړ شي نو دې ډیره ګټه لاسته راوړي.
- خرس(Bear): دا ډول ستهه باز ته ځکه خرس وایي چې دا دونډو د قیمت د ټیټوالي په موخه ونډې او نور ارزښتناکه اسناد پیري.که د خرس

(c) ketabton.com: The Digital Library





وړاندوینه سمه ثابته شوه نو ډیر ګټه تر لاسه کوي.

- Stag: دا ډول سټه باز د نویو کمپنیو ونډې په دې موخه پیري تر څو په راتلونکي کې پرې ګټه تر لاسه کړي، چې د ده دا هیله وي چې په راتلونکي کې د ونډو قیمت پورته ولاړ شي او ګټه په لاسته راوړي.

د ونډو پیرل او پلورل: ونډې درې ډوله پیرل کیږي:

1. حاضره سودا Spot sale: دغه راکړه ورکړه په ساده ډول ترسره کیږي داسې چې ونډه وپلورل شي او بیه یې تر لاسه شي په عمومي توګه په دغې سودا کې د ونډې سند له یوې اوونۍ وروسته تر لاسه کیږي.
2. په پورسودا Sale on Margin: په دې سودا کې د ونډې یو څه بیه سمدستي ورکول کیږي او نوره پور وي لکه لس سلمه بیه یې ورکړې پاتې نوي سلمه پور وي. دغه ډول سوداوې زیاتره د دلالانو په مرسته تر سره کیږي داسې چې دلال ته ویل کیږي چې ماته د فلانۍ کمپنۍ ونډه په Margin ډول سره واخله د لال او پیردونکي ترمنځ د نغدو پیسو سلمه هم ټاکل کیږي داسې چې لس سلمه یې نغدې او پاتې نوي سلمه پور وي او دلال یې بیا پلورنکي ته ورکوي. دلال کله په دغه پور باندې له ونډو پیرونکو سود

(c) ketabton.com: The Digital Library





اخلي او کله يې نه اخلي.او کله داسې هم وي چې دوه يا څو ورځې ورته تاکي که د دې په منځ کې پور ادا کړي سود ترې نه اخلي له هغه وروسته بيا سود غواړي. د بېلګې په توګه دلال ونډه پيرونکي ته وايي که پور دې په درو ورځو کې خلاص کړ نو سود درڅخه نه غواړم او له هغه وروسته به سود راکوې. په دې ډول راکړه ورکړه کې د لالانو يوازنۍ موخه کميشن يا مزد او د خپل کار جاري ساتل وي چې له امله يې دلالان پور ورکولو ته هم تيار وي.

دونډو د اخېستو لارې چارې: يو شخص کولای شي په لاندې بڼه د ونډو په بازار کې ونډه وپيري:

- له دلال سره اړيکه: يو شخص نشي کولای مخامخ د ونډو په بازارکې ونډه وپيري. لومړی بايد له دلال سره اړيکه ونيسي.د ونډو د پيرلواو پيرودلو په وخت لومړی له دلال سره اړيکه نيول کېږي.
- فرمايش ورکول: ونډه پيرودونکی لومړي دلال ټاکي له ټاکلو وروسته هغه ته خپل فرمايش ورکوي. دلال د ده فرمايش په خپله کتابچه کې ليکي.د لال د فرمايش په اساس د ونډې پيرل او پيردول کوي.
- دنده وال سره اړيکه:دلال د خپل مشتري له فرمايش سره يوازې له دنده وال سره اړيکه نيسي او له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library





سره د ونډو پر قیمت خبرې کوي او دنده وال ته دا نه ثرګندوي چې هغه بل چا ته ونډه پیري نو له دې کبله دنده وال دلال ته د ونډو دوه قیمتونه وايي چې یو قیمت د پلورلو او بل د پیرودلو د دواړو قیمتونو ترمنځ تفاوت د دنده وال ګټه وي. له دې وروسته دلال له خپل مشتري سره اړیکه نیسي او د ونډو دقیمت په هکله ورسره خبرې کوي که مشتري پر قیمت راضي شي نو دلال له دنده وال سره بیه خلاڅوي.

- تړون: کله چې دلال د ونډې قیمت له دنده وال سره پرې کړي نو هغه یو تړون جوړوي چې د غه تړون لیک درې کاپیانې لري چې یوه کاپي مشتري، بله ځان ته او دربیمه دنده وال ته ورکوي. دغځ تړون کې لاندې ټکي شامل وي:
    - د دلال نوم او پته
    - دلال ته ورکړل شوې اجوره
    - د ونډې قیمت او نور معلومات
    - د دنده وال نوم او پته
    - د مشتري نوم او پته
    - د معاملې د اجرا وخت
- د معاملي تصفیه: د ونډو په بازار کې د ونډو پیرل او پیرودل په نغده او پور دواړو تر سره کیږي. که ونډه په نغده ډول پلورل کیږي په اووه ورځو کې باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې ورکړل شي او که د پور په ډول وي نو باید په دوه اوونیو کې تصفیه شي.

دونډو دبازار اقتصادي ارزښت: دونډو بازار د هیواد په اقتصاد کې ځانګړی ځای لري چې د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې لاندې رول تر سره کوي:

- د پانګې لاسته راوړل عامه لمیټید کمپنۍ پانګې دلاسته راوړلو لپاره ونډې پلوري او پانګه لاسته راوړي.
- پانګونه کې ډیر والی: دونډو د بازار په سبب عام خلک خپلې وړې سپماوې سره راټولوي د کمپنیو ونډې پیري چې ورسره په هیواد کې پانګونه ډیریږي.
- د سپما دودول: د ونډو د بازار له کبله عام خلک خپلې وړې وړې سپماوې راټولوي، پانګونه په کوي چې ورسره په هیواد کې د سپماو رامنځته کول دودیږي.
- د پور اسانتیا: که د یو شخص پورته اړتیا پیښه شي نو دونډې په مقابل کې کولای شي ډیره په اسانۍ له بانک او نورمالي ادارو څخه پور تر لاسه کړي.
- صنعتي پرمختګ: دونډو بازار لویو لویو کمپینو ته د پانګې په برابرولو کې له هغوي سره مرسته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library





نوموړې کمپنۍ پرمختګ کوي چې ورسره صنعتي پرمختګ هم رامنځته کیږي.

- ډاډمنه پانګونه: د ونډو په بازار کې ونډې د ځینو ځانګړو قوانینو په وسیله تر سره کیږي چې دغه کاروبار ډیر روڼ وي نو له دې کبله په دې کې پانګونه ډیره ډاډمنه وي.
- د پانګې ښه کارول: د ونډو په بازار کې د ونډو قیمت د عرضې او تقاضا په اساس ټاکل کیږي. د ونډو بازار د ونډو د قیمت په اړه هره ورځ خلکو ته مالومات ورکوي، نو له دې کبله پانګوال خپله پانګه په هغو کمپنیو کې لګوي چیرته چې ډیره ګټه وي نو ځکه وسایل هم په ښه توګه کاریږي.

## اخځلیک


1- د افغانستان د بیمې قانون
2- د افغانستان مرکزي احصائیه، د صنعت راپور، 1390 هـل
3- د افغانستان مرکزي احصائیه، د ټرانسپورټ راپور، 1390 هـل
4- د افغانستان مرکزي احصائیه، د بهرنۍ سوداګرۍ راپور، 1390 هـل
5- بشرمل، خان ولي خان، نړۍ د بدلون په لور، (ناچاپ)
6- پښتونځار، عبدالودود، (کورنۍ صنعت پیاوړتیا غواړي)، سپوږمۍ ویبپاڼه، 2007 ز
7- تڼیوال، پوهنوال ظریف اوپوهاند حمیدالله امین، جغرافیای اقتصادي افغانستان، ختیز بیارغونې اداره، ۱۳۸۲هـش
8- ایوبي کندهاری، محمد نادر، اقتصادي نظریات، صحاف نشراتي موسسه، ۱۴۲۴هـق
9- ارشاد، اورنګزیب، افغانستان پیژندنه، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۷م
10- امیري، عبدالحق، په افغانستان کې سوداګري، د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، ۲۰۰۲م
11- عثماني، مفتي محمد تقي، اسلام او نوی اقتصاد، نفیس خپرندویه علمي ټولنه، ۱۳۸۳
12- حسین، خادم، اصول تجارت، نوید پبلیشر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



13- اصول بنکاري، پارټ 1 ،حسين،خادم ،نويد پبليشر،
14- دافغانستان دملي اقتصاد ،مژده،احمدوحيد ،ميوند خپرونديه ټولنه، 2008

15- Ganeri,Anita, *From Cubit to Kilogram,Hong Kong, Wing King Tong Co. Ltd, 1996*
16- Salvatore, Dominick, *International Economics,(Fordham Unversity)* ,2012
17- www.tkg.af/pashto/economy/others/ (Accessed 2012)
18- http://siteresources.worldbank.org/INTAFGHANISTAN/Resources/PashtoUpdateAPR2012.pdf(Accessed 2012)
19- http://www.acci.org.af/pa/about-us/about-acci.html (Accessed 2012)
20- http://mcit.gov.af/en(Accessed 2012)
21- https://www.motca.gov.af/index.php?id=33(Accessed 2012)
22- http://www.bing.com/Dictionary/search?q=define+transportation&qpvt=definition+of+transportaition&FORM=DTPDIA(Accessed 2012)
23- http://ankandhk.hubpages.com/hub/Joint-Stock-Company(Accessed 2012)
24- http://cso.gov.af/fa/page/7108 (Accessed 2012)
25- https://www.motca.gov.af/index.php?id=16 (Accessed 2012)



د ليکوال پېژندنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی محمد داود نیازی، د ښاغلي ډګروال ریدیګل خان زوی دی.په 1367ل ل، د لغمان الینګار ولسوالۍ په شینګاري کلي کې زیږیدلی





دی.

دده او د ملګرو د معلوماتو له مخې، نوموړي په وړکتوب کې له نورو کوچنیانو سره جوت توپیر درلود. نورکوچنیان چې ډېر مهال به یې په چم ګاونډ کې پر جګړه، وخت نا وخت لوبو او نورو مستیو تېراو ښاغلي نیازي به ددوی په توپیر هر کار په پوره سنجیدګۍ او پاملرنې سره ترسره کاو.

نوموړي دوړکتوب ډیر مهال په لغمان کې ندی تېر کړی.یوازې دوه درې ټولګي یې هلته لوستي خو په هېواد کې د سیاسي اړې ګړې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library





مهال د نورو هېوادوالو په شان کوزې پښتونخوا ته کډه شول. منځنۍ زده کړې یې هلته وکړې او ثانوي زده کړې یې، کابل ته له راستنېدو وروسته په احمد شاه بابا مېنه- کابل کې بشپړې کړې. نوموړی له لېسې وروسته د ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځي ته بریالی شو او په 1389ل ل کال کې له یاد پوهنځي څخه فارغ شو.

ښاغلی نیازی چې زه پېژنم، زړه سواند انسان دی.له انسان سره مینه لري، پر بې تاوتریخوالې مبارزه باور لري.د لوی افغانستان ټول توکمونه ورته ګران دي او د ټولو لپاره د یوشان حقونو غوښتونکی دی او د لوی افغانستان له سوداګرو سره یې ندہ جوړه.

لکه څنګه چې نوموړي په کوچنیوالي کې له پوهنیزو چارو سره مینه درلوده اوس هم په لا بې کچه مینه پر پوهنیزو هلو ځلو، کتاب لیکنه او کتاب چاپونه تنده ماتوي.له دې وړاندې یې د بانکوالۍ په نامه یو اثر په پښتو لیکلی او دا کتاب (کاروبار) یې دویم اثر دی.

کاروبار کتاب په پښتو ژبه کې په لومړیو کتابونو کې راځي چې ډېرو خلکو ته په تېر بیا پښتنو ته به د کاروبار په برخه کې ډېرې لارې رودې وروښیي.

عبدالودود پښتونځار

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**